# د سموئيل اول کِتاب

## پېژندګلو

اول سموئيل مونږ ته د بنی اِسرائيلو په حقله هغه قيصه بيانوی په کومه کښې چې د دې خبرې وضاحت شوے دے چې اول خُدائ پاک په خپله حکمرانی کوله او بيا د دې نه وروسته د دې مُلک بادشاه حکمرانی کوله. ساؤل بادشاه چې د تالوت په نوم هم يادېږی د بنی اِسرائيلو اولنے بادشاه وو او د مخزن افغاني په مطابق چې نعمت اللّٰه الهاوری د مغل شهنشاه جهانګير په وخت کښې ليکلے وو هغه وائی چې پښتانۀ ټول د تالوت اولاد دی. ساؤل د خُدائ پاک نه بې‌لارې شو او د هغۀ په ځائ حضرت داؤد بادشاه شو. کله چې حضرت داؤد هلک وو نو هغۀ پهلوان جوليت ووژلو نو د دې په وجه هغه د ساؤل بادشاه دربار ته راوستے شو او آخر کښې هغه د ساؤل د فوج مشر جوړ شو. د ساؤل بادشاه سختې غصې حضرت داؤد تښتېدو ته مجبور کړو. د دې کِتاب خاتمه د ساؤل بادشاه د مرګ سره کيږی او د حضرت داؤد د حکمرانۍ انتظار کوی. د حفظ کولو دپاره ۱۶:۷ آيت "مالِک خُدائ د انسان په شان چا ته نۀ ګوری. انسان ظاهر ته ګوری او مالِک خُدائ زړۀ ته ګوری."

## القنه او د هغۀ خاندان په سيلا کښې

١ ١ يو سړے چې نوم يې القنه وو هغه راما ښار کښې اوسېدو. د هغۀ تعلق د اِفرائيم
قبيلې سره وو، او د اِفرائيم د غرونو په مُلک کښې پاتې کېدو. هغه د يروحام زوئ او د
اليهُو نمسے وو او هغه د توخُو د خاندان نه وو چې د صُوف د قبيلې يوه برخه وه. ٢
د القنه دوه ښځې وې حنه او فِننه، د فِننه بچی وُو خو د حنه نۀ وُو. ٣ القنه به هر کال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د راما نه تلو چې په سيلا کښې د ربُ الافواج عبادت وکړی او قربانی ورته پېش کړی،
چرته چې د عيلى دوه زامن حُفنى او فينحاس د مالِک خُدائ اِمامان وُو. ۴ هر ځل
چې القنه خپله قربانی پېش کوله نو هغهٔ به د غوښې يوه برخه فِننې له او يوه يوه برخه به
يې د هغې هر بچی له ورکوله. ۵ هغهٔ د حنه سره ډېره مينه کوله نو ځکه هغې له يې يو
په دوه برخه ورکوله، اګر چې مالِک خُدائ هغه شنډه کړې وه. ۶ د هغې بنې فِننې به
هغه رټله او سپکوله به يې، ځکه چې مالِک خُدائ هغه شنډه کړې وه. ۷ هر کال به
داسې کېدل، هغوئ به چې کله هم د مالِک خُدائ کور ته لاړل نو فِننې به حنه دومره خفه
کړه چې هغې به ژړل او خوراک به يې نهٔ کولو. ۸ د هغې خاوند القنه به ترې نه تپوس
کولو، ”حنه تهٔ ولې ژاړې؟ تهٔ ولې خوراک نهٔ کوې؟ تهٔ هر وخت ولې دومره خفه يې؟ زهٔ
ستا دپاره د لسو زامنو نه ښهٔ نهٔ يم څهٔ؟“

## حنه او عيلى

۹-۱۰ يوه ورځ، کله چې هغوئ په سيلا کښې خوړل څښل وکړل، حنه پاڅېدله او د
دُعا دپاره لاړله. هغه ډېره زياته خفه وه او کله چې هغې مالِک خُدائ ته سوال کولو نو
ډېر بد بد يې وژړل. په دې دوران کښې، عيلى اِمام د مالِک خُدائ د کور چوکاټ سره په
تخت ناست وو. ۱۱ حنه يو پوخ لوظ وکړو، ”اے، ربُ الافواجه، کهٔ چرې تهٔ په ما
غمزپلې رحم وکړې او زما دُعا قبوله کړې او ما له يو زوئ راکړې، نو زهٔ دا وعده کوم
چې هغه به د ټول عُمر دپاره تا ته د نذير په حيثيت وقف کړم او د هغهٔ د وقف کېدو نښه
به دا وى چې وېښتهٔ به يې هيڅکله هم کل نهٔ کړے شى.“ ۱۲ حنه تر ډېر وخته پورې
مالِک خُدائ ته سوال کولو او عيلى د هغې شونډو ته کتل. ۱۳ هغې په خاموشۍ سره
دُعا کوله، د هغې شونډې خوځېدلې، خو آواز ترې نه نهٔ وتلو. نو د عيلى دا خيال وو چې
هغه په نشه کښې ده، ۱۴ او هغې ته يې ووئيل، ”ترڅو پورې به تهٔ نشه بازی کوې، د ميو
نه ځان خلاص کړه.“ ۱۵ هغې ورته په جواب کښې ووئيل، ”صاحِبه، زهٔ په نشه کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نهٔ يم. ما نهٔ مے او نهٔ شراب څښلی دی، زهٔ سخته پرېشانه يم او ما دُعا کوله او خپل
تکليفونه مې مالِک خُدائ ته بيانول. ۱۶ ما يوه بېکاره ښځه مهٔ ګڼه. ما هم داسې دُعا
کوله ځکه چې زهٔ په سخت غم آخته يم.“ ۱۷ عيلی ورته ووئيل، ”په خېر لاړه شه او چې
څهٔ دې غوښتی وی نو د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک دې هغه تا له درکړی.“ ۱۸ هغې
جواب ورکړو، ”په ما باندې د رحم نظر وکړه. بيا هغه لاړه، خوراک يې وکړو او
پرېشانی يې ختمه شوه.“

## د حضرت سموئيل پېدايښت او وقف کېدل

۱۹ په ورپسې سحر القنه او د هغهٔ خاندان وختی پاڅېدل او د مالِک خُدائ د عبادت نه
پس هغوئ په راما کښې واپس خپل کور ته لاړل. القنه د خپلې ښځې حنه سره څملاستو
او مالِک خُدائ د هغې دُعا قبوله کړه. ۲۰ چې حنه اُميدواره شوه او يو زوئ يې پېدا
شو نو سموئيل نوم يې ورباندې کېښودو او وې وئيل، ”ما دے د مالِک خُدائ نه
غوښتے دے.“ ۲۱ هغه وخت بيا راغلو چې القنه او د هغهٔ خاندان سيلا ته لاړل او
مالِک خُدائ ته يې کلنی نذرانه او د منښتې نذرانه پېش کړه. ۲۲ خو دا ځل حنه لا نهٔ
ړه. هغې خپل خاوند ته ووئيل، ”ماشوم چې کله د مور د تی نه منعې شی نو زهٔ به يې د
مالِک خُدائ کور ته بوځم، چرته به چې هغه د نذير په حيثيت ټول عُمر تېروی.“ ۲۳
القنه ورته ووئيل، ”ټيک ده، څهٔ چې درته ښهٔ ښکاری نو هم هغه وکړه، تر هغې پورې په
کور کښې پاتې شه چې کله هغه د مور د تی نه منعې شی او مالِک خُدائ دې وکړی چې
ستا وعده پوره شی.“ نو حنه په کور کښې ايساره وه او خپل بچی له يې تے ورکولو.
۲۴ چې کله هغه د مور د تی نه منعې شو نو هغه يې سيلا ته بوتلو، ورسره يې يو درې
کلن سخے، لس کيلو اوړهٔ او يوه ډکه مشکيزه د ميو يوړه. او هغې په سيلا کښې د
مالِک خُدائ کور ته سموئيل بوتلو اګر چې هغه لا وړوکے ماشوم وو. ۲۵ چې کله
هغوئ سخے حلال کړو نو هغوئ ماشوم عيلی له بوتلو. ۲۶ حنه هغهٔ ته ووئيل،
”صاحِبه، بې‌ادبی دې معاف وی، زهٔ تا ته ياده يم څهٔ؟ زهٔ هغه ښځه يم چې دلته ولاړه وم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ ته مې سوال کولو او تا ولیدم. ۲۷ ما د هغهٔ نه د دې ماشوم سوال وکړو
او چې ما ترې نه د څهٔ سوال کړے وو هغه یې ما له راکړو. ۲۸ نو زهٔ دے مالِک خُدائ
ته وقف کوم. تر کومې پورې چې دے ژوندے وی نو د مالِک خُدائ به وی.“ بیا هغوئ
هلته د مالِک خُدائ عبادت وکړو.

## د حنه دُعا

۲ ۱ حنه دُعا وکړه او وې وئیل، ”مالِک خُدائ زما زړهٔ د خوشحالئ نه ډک کړے
دے، هغهٔ چې څهٔ کړی دی په هغې باندې زهٔ څومره خوشحاله یم. زهٔ په خپلو دشمنانو
پورې خاندم زهٔ څومره خوشحاله یم ځکه چې خُدائ پاک زما مدد کړے دے. ۲ د
مالِک خُدائ په شان هیڅ څوک مقدس نشته، د هغهٔ په شان بل څوک نشته، زمونږ د
خُدائ پاک په شان حِفاظت کوونکے نشته. ۳ لوئې لافې وهل بس کړئ، د غرور
خبرې د خولې نه مهٔ راویاسئ. ځکه چې مالِک خُدائ یو داسې خُدائ پاک دے چې هغه
پوهیږی، او هغه د خلقو د هر عمل عدالت کوی. ۴ د تکړه فوجیانو لیندې ماتې شوې
دی، خو کمزوری تکړه کیږی. ۵ کومو خلقو له چې یو ځل خوراک ورکړے شوے
وو نو هغوئ اوس د خوراک دپاره خپل ځانونه مزدوران کړل، خو چې څوک اوږی وُو د
هغوئ لوږه ختمه شوه. د شنډې ښځې اووهٔ بچی شوی دی، خو د ډیرو بچو مور غمژنه
ده. ۶ مالِک خُدائ مړهٔ کول او ژوندی کول کوی، هغه خلق قبر ته لیږی او واپس یې
راولی. ۷ هغه څوک غریب کوی او څوک مالداره کوی، هغه څوک لاندې کوی او
څوک اوچتوی. ۸ هغه غریب د خاورې نه راوچتوی او ضرورتمند د ایرو د ډیری نه
اوچتوی، او د شهزادګانو مرتبه ورکوی او د عزت په ځایونو کښې یې کښېنوی. د زمکې
بنیادونه د مالِک خُدائ دی، په دې باندې هغهٔ دُنیا ودرولې ده. ۹ هغه د خپلو وفادارو
خلقو ژوند بچ کوی، خو بدعمله په تیارهٔ کښې ورکیږی، سړے په خپل طاقت باندې نهٔ
بریالے کیږی. ۱۰ د مالِک خُدائ دشمنان به تباه شی، هغه به د هغوئ خِلاف د آسمان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د تندر په شان شی. مالِک خُدائ به د ټولې دُنیا عدالت کوی، هغه به خپل بادشاه له
طاقت ورکړی، هغه به خپل خوښ کړے شوے بادشاه بریالے کړی.“ ١١ بیا القنه
واپس په راما کښې کور ته لاړو، خو سموئیل په سیلا کښې پاتې شو او د عیلی اِمام د
مشرئ لاندې یې د مالِک خُدائ خِدمت کولو.

## د عیلی زامن

١٢ د عیلی زامن بد عمله کسان وُو. هغوئ مالِک خُدائ ته هیڅ توجو ورنۀ کړه ١٣ او
نۀ یې د هغه اصُولو خیال وساتلو چې د اِمامانو د برخې په حقله وُو. او کله به چې چا
یوه نذرانه پېش کوله او چې غوښه به لا پخېدله نو د اِمام نوکر به د یو درې غاښی سره
راغلو، ١۴ هغۀ به درې غاښے د پخلی لوښی ته ورننویستلو او چې درې غاښی به څۀ
هم راوویستل نو هغه به د اِمام وُو. د هغه ټولو بنی اِسرائیلو سره هم داسې سلوک وشو
چې د قربانۍ پېش کولو دپاره سیلا ښار ته راغلی وُو. ١۵ د دې نه علاوه، وازګه به هم لا
نۀ وه لرې کړے شوې او نۀ به سوزولے شوې وه چې د اِمام نوکر به راغلو او چې چا
به نذرانه پېش کوله نو هغۀ ته به یې وئیل، ”ما له لږه غوښه راکړه چې اِمام له یې وریته
کړم، هغه به ستاسو پخه شوې غوښه نۀ قبلوی، صِرف کچه غوښه قبلوی.“ ١٦ کۀ هغه
کس به ورته ووئیل، ”راځئ چې هغه وکړُو چې څۀ صحیح وی او اول وازګه وسوزوو،
بیا چې دې څۀ خوښ وی نو هغه واخله.“ خو د اِمام نوکر به ورته ووئیل، ”نه، اوس دا
ما له راکړه، کۀ نۀ راکوې، نو زۀ به یې په زور اخلم.“ ١٧ د عیلی د زامنو دا ګناه د
مالِک خُدائ په نظر کښې ډېره لویه وه، ځکه چې هغوئ د مالِک خُدائ د نذرانو دومره
بې‌عزتی کوله.

## حضرت سموئیل په سیلا کښې

١٨ په دې دوران کښې سموئیل هلک د مالِک خُدائ خِدمت جاری وساتلو، د لټې یو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقدس پېش بند به يې اغوستو. ۱۹ د هغۀ مور به هر کال يوه وړه چُوغه جوړوله او چې
هغه د خپل خاوند سره کلنی نذرانه پېش کولو له تله نو چُوغه به يې وروړله. ۲۰ نو
عيلی به د القنه او د هغۀ د ښځې دپاره برکت غوښتو او القنه ته به يې فرمائيل، "مالِک
خُدائ دې تا له د دې ښځې نه نور بچې درکړی چې د هغۀ ځائ ونيسی چې کوم تا مالِک
خُدائ ته وقف کړے دے." د هغې نه پس به هغوئ واپس کور ته تلل. ۲۱ مالِک خُدائ
حنه له برکت ورکړو او د هغې نور درې زامن او دوه لوڼه پېدا شوې. سموئيل هلک د
مالِک خُدائ په خِدمت کښې لوئ شو.

## عيلی او د هغۀ زامن

۲۲ عيلی اوس ډېر بوډا شوے وو. هغۀ د هغه هر څۀ په حقله اورېدل چې د هغۀ زامنو د
بنی اِسرائيلو سره کول او دا چې هغوئ د هغه ښځو سره هم خملاستل چا چې د مالِک
خُدائ د حضور خيمې د دروازې په خولۀ کښې خدمت کولو. ۲۳ نو هغۀ هغوئ ته
ووئيل، "تاسو دا کارونه ولې کوئ؟ تاسو چې کوم بد کوئ هر سړے د هغې په حقله ما
ته وائی. ۲۴ بس کړئ، زما زامنو، زۀ خبر شوے يم چې د مالِک خُدائ د خلقو په مينځ
کښې يو خراب خبر خورېږی. ۲۵ کۀ يو سړے د بل چا خِلاف گناه وکړی، نو خُدائ
پاک ته د هغۀ دپاره سوال کېدے شی خو کۀ يو سړے د مالِک خُدائ خِلاف گناه وکړی
نو د هغۀ دپاره هيڅ څوک هم د رحم سوال نۀ شی کولے." خو هغوئ خپل پلار ته غوږ
ونۀ نيولو، ځکه چې مالِک خُدائ د هغوئ د وژلو فيصله وکړه. ۲۶ سموئيل هلک غټېدو
او د مالِک خُدائ او د خلقو عزت يې وموندو.

## د عيلی د خاندان خِلاف پېشگوئي

۲۷ عيلی ته د مالِک خُدائ نه د دې پېغام سره د مالِک خُدائ نه يو پېغمبر راغلو، "کله
چې ستا پلار نيکۀ هارون او د هغۀ خاندان د مِصر د فِرعون غلامان وُو، نو ما خپل ځان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هارون ته څرګند کړو. ۲۸ ما د بنی اِسرائيلو د ټولو قبيلو نه د هغهٔ خاندان خوښ کړو
چې زما اِمامان شی، چې د قربان‌ګاه سره خِدمت کوی، خوشبوئی سوزوی او زما په
حضور کښې پېش بند اغوندی. او چې په قربان‌ګاه باندې کومې نذرانې سوزولے شی نو
د هغې د اخستلو حق مې ورله ورکړو. ۲۹ نو بيا، تاسو ولې د هغه نذرانو او قربانو لالچ
کوئ چې زهٔ يې د خپلو خلقو نه غواړم؟ عيلی، تهٔ ولې زما نه زيات د خپلو زامنو عزت
کوې چې هغوئ دې پړېښی دی چې زما خلق ما ته کومې قربانۍ پېش کوی چې د هغې
په ټولو ښو حِصو باندې خپل ځانونه ښورب کړی؟ ۳۰ ما، مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو
خُدائ پاک په تېره زمانه کښې دا وعده وکړه چې ستاسو خاندان او قبيله به د ټولو
وختونو دپاره د اِمامانو په توګه زما خِدمت کوی. خو اوس زهٔ دا وايم چې نور به داسې
نهٔ وی بلکې د دې په ځائ، څوک چې زما عزت کوی نو زهٔ به د هغوئ عزت کوم او چې
څوک زما بې‌عزتی کوی نو زهٔ به د هغوئ سپکاوے کوم. ۳۱ واوره، هغه وخت راروان
دے چې زهٔ به ستا د خاندان او قبيلې ټول زلمی ووژنم، نو ستا په خاندان کښې به داسې
يو سړے هم نهٔ وی چې بوډاتوب ته ورسيږی. ۳۲ تهٔ به په تکليف کړے شې او هغه ټولو
برکتونو ته به د ارمان سره ګورې چې زهٔ يې نورو بنی اِسرائيلو له ورکوم، خو ستا په
خاندان کښې به هيڅ څوک هم تر بوډاتوب پورې ژوندے نهٔ وی. ۳۳ خو چې څوک
ژوندی پاتې شی، نو هغوئ به په پرېشانۍ او غم آخته شی او د هغوئ نور ټول اولاد به په
يو سخت مرګ مړهٔ شی. ۳۴ کله چې ستا دوه زامن حُفنی او فينحاس دواړه په يوه
ورځ مړهٔ شی، نو دا به تاسو ته ثابِته شی چې ما چې هر څهٔ وئيلی وُو نو هغه رښتيا شول.
۳۵ زهٔ به يو اِمام خوښ کړم چې هغه به زما وفادار وی او چې څهٔ زهٔ غواړم نو هغه هر
څهٔ به کوی. زهٔ به هغهٔ له اولاد ورکړم، چې هغوئ به هميشه زما د خوښ شوی بادشاه
په حضور کښې خِدمت کوی. ۳۶ ستا د اولاد چې کوم کس هم ژوندے پاتې وی نو هغه
به هغه اِمام له ځی او د هغهٔ نه به پيسې او خوراک غواړی او دا سوال به ورته کوی چې
ما د اِمامانو سره منظور کړه، نو چې ما ته يوه نوړی روټۍ مِلاو شی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ سموئيل ته راڅرګندېدل

۳ ۱ په هغه ورځو کښې، کله چې سموئيل هلک د عيلی د لارښودنې لاندې د مالِک
خُدائ خِدمت کولو، د مالِک خُدائ وحی نازلېدل کم شوی وُو او د هغهٔ پېغام څرګندېدل
بلکل کم شوی وُو. ۲ يوه شپه عيلی چې اوس د هغهٔ نظر ډېر کمزورے شوے وو په
خپله کوټه کښې ملاست وو. ۳ د سحر نه مخکښې، چې ډيوه تر اوسه پورې بلېدله او
سموئيل د مالِک خُدائ په کور کښې ملاست وو، چرته چې د خُدائ پاک د لوظ صندوق
وو، ۴ مالِک خُدائ سموئيل ته آواز وکړو. سموئيل وفرمائيل، ”زهٔ دا يم.“ ۵ او
عيلی له يې منډه کړه او ورته يې وفرمائيل، ”زهٔ راغلمه، تا ما ته آواز وکړو.“ خو عيلی
ورته ووئيل، ”ما خو تا ته آواز نهٔ دے کړے، لاړ شه او څمله.“ نو سموئيل لاړو او
څملاستو. ۶ مالِک خُدائ سموئيل ته بيا آواز وکړو، ”سموئيله.“ نو سموئيل پاڅېدو،
عيلی له لاړو او ورته يې وفرمائيل، ”تا ما ته آواز وکړو او زهٔ راغلم.“ خو عيلی ورته
ووئيل، ”زما زويه، ما خو تا ته آواز نهٔ دے کړے، بيا لاړ شه او څمله.“ ۷ خو هلک ته
پته ونهٔ لګېده چې دا مالِک خُدائ وو، ځکه چې د دې نه مخکښې مالِک خُدائ هيڅکله
هم د هغهٔ سره خبرې نهٔ وې کړې. ۸ مالِک خُدائ سموئيل ته په درېم ځل آواز وکړو،
هغه پاڅېدو، عيلی له لاړو او ورته يې وفرمائيل، ”تا ما ته آواز وکړو او زهٔ راغلم.“ نو
عيلی ته پته ولګېده چې هغه مالِک خُدائ وو چا چې هلک ته آواز کولو، ۹ نو عيلی
سموئيل ته وفرمائيل، ”لاړ شه او څمله، او کهٔ هغهٔ تا ته بيا آواز وکړو، نو ورته ووايه،
مالِکه خُدايه، ستا بنده يې اورى.“ نو سموئيل لاړو او په خپل ځائ کښې څملاستو. ۱۰
نو مالِک خُدائ راغلو او هلته ودرېدو او د مخکښې په شان يې ورته آواز وکړو،
”سموئيله، سموئيله.“ سموئيل ورته ووئيل، ”وفرمائى، ستا بنده يې اورى.“ ۱۱ مالِک
خُدائ هغهٔ ته وفرمائيل، ”ګوره، زهٔ په بنى اِسرائيلو کښې داسې څهٔ کوم چې هغه به
دومره سخت وى چې څوک يې واورى نو حيران به شى. ۱۲ تر اوسه پورې چې ما د
عيلی او د هغهٔ د خاندان خِلاف څهٔ هم وئيل نو په هغه ورځ به هغه هر څهٔ وکړم. ۱۳ ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ ته مخکښې وئیلی دی چې زهٔ د هغهٔ خاندان له د تل دپاره سزا ورکوم ځکه چې د
هغهٔ زامنو زما خِلاف خرابې خبرې کړې دی. عیلی ته پته وه چې هغوئ داسې کول، خو
هغوئ يې نهٔ منع کول. ۱۴ نو ما دا قسم کړے دے چې د دې سختې ګناه د لرې کولو
دپاره به هيڅ قربانی او نذرانه د عیلی د خاندان دپاره کافی نهٔ وی.“ ۱۵ سموئیل تر
سحره پورې ملاست وو، بيا هغه پاڅېدو او د مالِک خُدائ د کور دروازې يې کولاو
کړې. هغه د دې نه يرېدلو چې عیلی ته د دې پېغام د څرګندېدو په حقله ووائی. ۱۶
عیلی ورته آواز وکړو، ”زما زویه، سموئیله.“ هغهٔ ورته وفرمائیل، ”زهٔ حاضر يم.“ ۱۷
عیلی ترې نه تپوس وکړو، ”مالِک خُدائ تا ته څهٔ وفرمائیل؟ زما نه يوه خبره هم مهٔ پټوه.
خُدائ پاک به تا له سخته سزا درکړی کهٔ تا ما ته هغه هر څهٔ ونهٔ فرمائیل چې څهٔ درته
هغهٔ فرمائیلی دی.“ ۱۸ نو سموئیل ورته هغه هر څهٔ وفرمائیل، هغهٔ ترې نه يوه خبره پټه
ونهٔ ساتله. عیلی وفرمائیل، ”هغه مالِک خُدائ دے، هغهٔ ته چې څهٔ ښهٔ ښکاری نو هم
هغه به وکړی.“ ۱۹ چې سموئیل غټېدو، مالِک خُدائ د هغهٔ مل وو او د مالِک خُدائ
هغه ټولې پېشګوئيانې پوره کېدې کومې چې سموئیل کړې وې. ۲۰ نو د هغه مُلک د يو
سر نه تر بل سره پورې، ټولو بنی اِسرائیلو ته پته ولګېده چې سموئیل په حقیقت کښې د
مالِک خُدائ پېغمبر وو. ۲۱ مالِک خُدائ به په خپله په سيلا کښې راڅرګندېدو، چرته
چې هغه سموئیل ته څرګند شوے وو او د هغهٔ سره يې خبرې کړې وې.

## د لوظ د صندوق قبضه کېدل

۴ ۱ ټول بنی اِسرائیلیان د سموئیل د خبرو نه خبر شول. نو فلستیان د بنی اِسرائیلو
خِلاف جنګ دپاره راغونډ شول او بنی اِسرائیلیان هم د هغوئ سره جنګېدو دپاره
راووتل. بنی اِسرائیلو په اِبن‌عزر کښې او فلستیانو په افیق کښې خپلې خيمې ولګولې. ۲
فلستیانو حمله وکړه او د يوې لوئې جګړې نه پس هغوئ بنی اِسرائیلو له شکست ورکړو
او تقریباً څلور زره سړی يې د جنګ په مېدان کښې ووژل. ۳ کله چې هغه ژوندی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاتې شوى کسان واپس خېمو ته راغلل، نو د بنى اِسرائيلو مشرانو ووئيل، ”مالِک خُدائ
فلستيان ولې پرېښودل چې مونږ له شکست راکړى؟ څۀ چې لاړ شُو او د سيلا نه د
مالِک خُدائ د لوظ صندوق راوړُو، نو دا به زمونږ سره څى او مونږ به د خپلو دشمنانو
نه بچ کوى.“ ۴ نو هغوئ سيلا ته پېغام وړُونکى ولېږل او د ربُ الافواج د لوظ صندوق
يې واپس راوړو، چې د وزرو والا د مخلوق په مينځ کښې په تخت ناست دے. او د عيلى
دوه زامن حُفنى او فينحاس د لوظ صندوق سره راغلل. ۵ کله چې د لوظ صندوق
راورسېدو، نو بنى اِسرائيلو د خوشحالئ نه دومره لويه چغه ووهله چې زمکه وخوځېدله.
۶ فلستيانو دا چغه واورېدله او وې وئيل، ”د عبرانيانو په کېمپ کښې دا چغې واورئ.
د دې څۀ مطلب دے؟“ کله چې هغوئ ته پته ولګېده چې د مالِک خُدائ د لوظ صندوق
د عبرانيانو کېمپ ته رارسېدلے دے، ۷ هغوئ وېرېدل او وې وئيل، ”د هغوئ کېمپ
ته خُدائ راغلے دے. مونږ غرق شُو. په مونږ باندې هيڅکله مخکښې داسې څۀ نۀ دى
شوى. ۸ زمونږ مدد وکړه، مونږ به د هغه طاقتورو معبودانو نه څوک بچ کړى؟ دا هغه
معبودان دى چا چې په صحرا کښې مِصريان هلاک کړل. ۹ فلستيانو، تکړه شئ. د
سړو په شان وجنګېږئ، ګني مونږ به د عبرانيانو غلامان شُو، لکه څنګه چې هغوئ زمونږ
غلامان وُو. نو د سړو په شان جنګ وکړئ.“ ۱۰ فلستيان سخت وجنګېدل او بنى
اِسرائيلو له يې شکست ورکړو، چې هغوئ په منډه خپلو کورونو ته لاړل. دا يو لوئ قتلِ
عام وو. او دېرش زره بنى اِسرائيلى فوجيان ووژلے شول. ۱۱ د خُدائ پاک د لوظ
صندوق قبضه کړے شو او د عيلى دواړه زامن، حُفنى او فينحاس ووژلے شول.

## د عيلى مرګ

۱۲ د بنيامين قبيلې يو سړى د جنګ مېدان نه تر سيلا پورې منډه ووهله او هم په هغه
ورځ ورسېدو. د خپل تکليف ښودلو دپاره هغۀ خپلې جامې شلولې وې او په سر باندې يې
خاورې اچولې وې. ۱۳ عيلى د لوظ صندوق په حقله ډېر پرېشانه وو، هغه د لارې په
غاړه په يوه کُرسئ باندې ناست وو او انتظار يې کولو. هغه سړى دا خبر په ټول ښار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې خور کړو او هر یو کس د یرې نه وژړل. ۱۴ عیلی شور واورېدو او تپوس یې
وکړو، ”دا شور د څۀ شی دے؟“ هغه سړے عیلی له په منډه لاړو او هغه یې خبر کړو.
۱۵ عیلی اوس د دوه کم سلو کالو وو او بېخی ړوند وو. ۱۶ سړی ورته ووئیل، ”زۀ نن
د جنګ نه راتښتېدلے یم.“ عیلی ترې نه تپوس وکړو، ”زما زویه، څۀ شوی دی؟“ ۱۷
هغه پیغام وړُونکی ورته په جواب کښې ووئیل، ”بنی اِسرائیلیان د فلستیانو نه وتښتېدل،
دا زمونږ دپاره ډېر خراب شکست وو، د دې نه علاوه، ستا زامن، حُفنی او فینحاس هم
ووژلے شول او د خُدائ پاک د لوظ صندوق قبضه کړے شو.“ ۱۸ کله چې هغه سړی
د لوظ د صندوق ذِکر وکړو، نو عیلی د دروازې سره د کُرسۍ نه په شا وغورزېدو. هغه
ډېر بوډا او غټ وو او په غورزېدو سره یې څټ مات شو او مړ شو. هغه څلوېښت کاله
د بنی اِسرائیلو قاضی وو.

## د فینحاس د کونډې مرګ

۱۹ د عیلی اِنږور، د فینحاس ښځه اُمیدواره وه او تقریباً دا د هغې د بچی د پیدا کېدو
وخت وو. کله چې هغه خبر شوه چې د خُدائ پاک د لوظ صندوق قبضه کړے شوے
دے او سخر او خاوند یې مړۀ شوی دی، نو ناڅاپه په هغې باندې د ماشوم د پېدا کېدو
سخت درد راغلو. ۲۰ او کله چې هغه د مرګ په حالت کښې وه، نو چې کومو ښځو د
هغې مدد کولو هغوئ ورته ووئیل چې، ”تکړه شه، ستا زوئ پیدا شوے دے.“ خو هغې
هیڅ توجو ورنۀ کړه او نۀ یې جواب ورکړو. ۲۱ هغې په ماشوم باندې یکبود نوم
کېښودو او وې وئیل چې، ”د خُدائ پاک جلال د بنی اِسرائیلو نه تلے دے.“ دا ځکه چې
د لوظ صندوق قبضه شوے وو او د هغې سخر او خاوند مړۀ شوی وُو. ۲۲ هغې
ووئیل، ”د خُدائ پاک جلال د بنی اِسرائیلو نه تلے دے، ځکه چې د خُدائ پاک د لوظ
صندوق قبضه کړے شوے دے.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## فلستیانو سره د لوظ صندوق

۵ ۱ کله چې فلستیانو د لوظ صندوق قبضه کړو نو هغوئ د اِبن‌عزر نه خپل ښار
اشدود ته راوړو، ۲ د خپل معبود دجون کور ته يې يوړو او د هغهٔ د بُت په خوا کښې
يې کېښودو. ۳ سحر وختی د اشدود خلقو وليدل چې د دجون بُت د مالِک خُدائ د
لوظ صندوق په مخکښې پړمخې په زمکه غورزېدلے دے. نو هغوئ را اوچت کړو او
واپس يې په خپل ځائ کښې کېښودو. ۴ په وريسې سحر وختی هغوئ وليدل چې بُت
بيا د مالِک خُدائ د لوظ صندوق په مخکښې پړمخې په زمکه غورزېدلے وو. دې ځل يې
سر او دواړه لاسونه مات شوی وُو او د دروازې د درشل سره پراتهٔ وُو، صِرف ډانچه يې
پاتې وه. ۵ نو ځکه تر نن پورې د دجون اِمامان او د هغهٔ ټول عبادت کوونکی په
اشدود کښې د دجون په درشل باندې قدم نهٔ ږدی. ۶ مالِک خُدائ د اشدود خلقو له
سخته سزا ورکړه او په هغوئ او د ګېرچاپېره علاقې په خلقو باندې يې د پړسوب مرض
راوستلو. ۷ کله چې هغوئ وکتل چې دا څهٔ کيږی نو وې وئيل، ”د بنی اِسرائيلو خُدائ
پاک مونږ او زمونږ معبود دجون له سزا راکوی. مونږ د لوظ صندوق نور دلته نهٔ شُو
پرېښودلے.“ ۸ نو هغوئ پېغام ورُونکی ولېږل او فلستی پينځهٔ واړه بادشاهان يې
راغونډ کړل او تپوس يې ترې نه وکړو، ”د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک د لوظ صندوق
سره مونږ څهٔ چل وکړُو؟“ هغوئ ورته په جواب کښې ووئيل، ”دا جات ته يوسئ.“ نو
هغوئ دا د فلستی بل ښار جات ته يوړو. ۹ کله چې هغه هلته ورسيدو، مالِک خُدائ
هغه ښار له هم سزا ورکړه او په يوه لويه وارخطايۍ يې آخته کړو. هغهٔ هغوئ له داسې
سزا ورکړه چې په لويو او وړو ټولو باندې د پړسوب مرض راغلو. ۱۰ نو هغوئ د لوظ
صندوق يو بل فلستی ښار عقرون ته ولېږلو، خو چې هغه هلته ورسېدو، نو خلقو چغې
کړې او وې وئيل، ”هغوئ د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک د لوظ صندوق دلته راوړو، د دې
دپاره چې مونږ ټول ووژنی.“ ۱۱ نو هغوئ بيا د فلستيه ټول بادشاهان راوغوښتل او
ورته يې ووئيل، ”د بنی اِسرائيلو د لوظ صندوق واپس خپل ځائ ته ولېږئ، نو داسې به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا مونږ او زمونږ خاندان ونهٔ وژنی.“ ټول ښار په وارخطايۍ آخته وو ځکه چې خُدائ
پاک هغوئ له ډېره سخته سزا ورکوله. ۱۲ چې څوک لا مړهٔ شوی نهٔ وُو نو په هغوئ
باندې د پړسوب مرض راغلو، او خلقو خپلو معبودانو ته د مدد دپاره چغې کړې.

## د لوظ صندوق واپس کول

۶ ۱ نو چې د مالِک خُدائ د لوظ صندوق د فلستيانو په مُلک کښې اووهٔ مياشتې
وشوې، ۲ نو خلقو اِمامان او جادوګران راوغوښتل او تپوس يې ترې نه وکړو، ”مونږ
د مالِک خُدائ د لوظ صندوق سره څهٔ چل وکړُو؟ مونږ ته ووايئ چې دا څنګه واپس
خپل ځائ ته يوسو؟“ ۳ هغوئ جواب ورکړو، ”کهٔ تاسو د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک
د لوظ صندوق لېږئ، نو تاسو به د دې سره خامخا د خپلې ګناه د تاوان د نذرانې په بدل
کښې يوه تُحفه هغهٔ له لېږئ. د لوظ صندوق به د تُحفې نه بغېر واپس نهٔ ځی. نو داسې به
تاسو روغ جوړ شئ او تاسو ته به پته ولګی چې هغهٔ تاسو له سزا ولې درکوله.“ ۴
خلقو تپوس وکړو، ”مونږ هغهٔ له د ګناه د تاوان په نذرانه کښې څهٔ ولېږُو؟“ هغوئ ورته
په جواب کښې ووئيل، ”پينځهٔ د سرو زرو د پړسوب د دانو او پينځهٔ د سرو زرو د مږو
نمونې، د فلستيانو بادشاهانو د شمېر په مطابق يوه يوه ورولېږئ ځکه هم دغه وبا په
تاسو ټولو او په پينځو بادشاهانو باندې راغلې وه. ۵ تاسو د دې دانو او مږو نمونې
جوړې کړئ چې ستاسو مُلک تباه کوی او تاسو به خامخا د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک
درناوے کوئ. کېدے شی چې هغه تاسو له، ستاسو معبودانو او ستاسو مُلک له سزا
درکول بند کړی. ۶ تاسو ضديان ولې جوړېږئ څنګه چې فِرعون او مِصريان وُو؟
هغه مهٔ هېروئ چې خُدائ پاک هغوئ له څومره سخته سزا ورکړه، تر دې وخت پورې
چې هغوئ بنی اِسرائيليان پرېښودل چې د مِصر نه لاړ شی. ۷ نو يوه نوې ګاډۍ او
دوه غواګانې تيارې کړئ چې اوس اوس يې بچی شوی وی او چې هيڅکله جغ ورېورې
نهٔ وی تړلے شوے، ګاډۍ په دې غواګانو پورې وتړئ او سخی يې واپس ديرې ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وشړیٔ. ٨ د مالِک خُدائ د لوظ صندوق واخلئ، په ګاډۍ کښې یې کېږدئ او د دې په
خوا کښې په یو صندوق کښې د سرو زرو هغه نمونې کېږدئ کومې چې ستاسو د ګناه د
تاوان د نذرانې په بدل کښې په تُحفه کښې هغهٔ له لېږئ. ګاډۍ په خپله مخه روانه کړئ او
پرېږدئ چې په خپله لاره شی. ٩ چې ګاډۍ روانه وی نو ورته ګورئ، کهٔ دا د
بیت‌شمس ښار طرف ته لاړه شی، نو د دې مطلب دا دے چې دا د بنی اِسرائیلو خُدائ
پاک دے چې هغهٔ په مونږ باندې دا سخت افت راوستے دے. خو کهٔ داسې نهٔ وی، نو
بیا به مونږ ته پته ولګی چې هغهٔ وبا نهٔ وه راوستې، او په خپله داسې وشول.“ ١٠ هغوئ
ته چې څهٔ وئیلے شوی وُو نو هم هغسې یې وکړل یعنې، هغوئ دوه غواګانې بوتلې او یوه
ګاډۍ یې ورپورې وتړله او سخی یې په دیره کښې وتړل. ١١ هغوئ د لوظ صندوق په
ګاډۍ کښې کېښودو، ورسره هغه صندوق یې هم کېښودو چې د سرو زرو د مږو او دانو
نمونې په کښې وې. ١٢ غواګانې د بیت‌شمس په لاره روانې شوې او سیدها هغه طرف
ته لاړې او د لارې نه نهٔ اوړېدلې. چې دا روانې وې نو رمباړې یې وهلې. هغه پینځهٔ فلستی
بادشاهان د بیت‌شمس د حد پولې پورې ورپسې روان وُو. ١٣ د بیت‌شمس خلقو په
مېدان کښې د غنمو لَو کولو، چې ناڅاپه هغوئ وکتل نو د لوظ صندوق یې ولیدو. هغوئ
د دې په لیدو ډېر خوشحاله شول. ١٤-١٥ ګاډۍ د یو سړی پټی ته راغله چې نوم یې
یشوَع وو، هغه په بیت‌شمس کښې اوسېدو او ګاډۍ د یو غټ ګټ سره نزدې ودرېده.
لیویانو د مالِک خُدائ د لوظ صندوق او هغه صندوق راکوز کړو چې د سرو زرو نمونې
په کښې وې او په هغه غټ ګټ باندې یې کېښودل. خلقو د لرګی ګاډۍ ټوټې ټوټې کړه او
غواګانې یې حلالې کړې او د سوزېدونکې نذرانې په توګه یې مالِک خُدائ ته پېش کړې.
بیا د بیت‌شمس خلقو نورې نذرانې مالِک خُدائ ته پېش کړې. ١٦ پینځو فلستی
بادشاهانو دا هر څهٔ ولیدل او بیا هم په هغه ورځ واپس عقرون ته لاړل. ١٧ فلستیانو
پینځهٔ د سرو زرو دانو نمونې مالِک خُدائ ته د هغوئ د ګناه د تاوان د نذرانې دپاره
ولېږلې، د اشدود، غزه، اسقلون، جات او عقرون د ښارونو دپاره یوه یوه. ١٨ هغوئ د
سرو زرو مږې هم ولېږلې، د هغه ښارونو دپاره یوه یوه چې په کومو باندې هغه پینځو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فلستی بادشاهانو حکومت کولو او ورسره د پَخو دېوالونو ښارونو او د کچه دېوالونو کلو
ته يې هم ولېږل. د بيت‌شمس د يشوَع په پټی کښې هغه لوئ ګټ تر اوسه پورې شته چې
په کوم باندې هغوئ د مالِک خُدائ د لوظ صندوق ایښے وو، دا د هغې ګواهی ده چې
څۀ شوی وُو. ١٩ مالِک خُدائ د بيت‌شمس اويا سړی ووژل ځکه چې هغوئ د لوظ
صندوق ته دننه کتلی وُو. او خلقو ماتم وکړو ځکه چې مالِک خُدائ په هغوئ دومره لويه
تباهی راوستلې وه.

## د لوظ صندوق په قِريَت‌يعريم کښې

٢٠ نو د بيت‌شمس خلقو ووئيل، "د مالِک خُدائ، د دې مقدس خُدائ پاک په وړاندې
څوک ودرېدے شی، مونږ هغه چرته ولېږُو چې زمونږ نه لرې شی؟" ٢١ هغوئ د
قِريَت‌يعريم خلقو ته پېغام وړُونکی ولېږل چې ورته ووائی، "فلستيانو د مالِک خُدائ د
لوظ صندوق واپس کړے دے. راشئ او يو يې سئ."

٧ ١ نو د قِريَت‌يعريم خلق راغلل او د مالِک خُدائ د لوظ صندوق يې د ابيناداب
نومې سړی کور ته يوړو، چې هغه په غر کښې اوسېدو. هغوئ د ابيناداب زوئ اِلیعزر د
دې مشر مقرر کړو.

## د حضرت سموئيل په بنی اِسرائيلو باندې حکومت کول

٢ د مالِک خُدائ د لوظ صندوق ډېره موده تقريباً تر شلو کالو پورې په قِريَت‌يعريم
کښې ايسار وو. په دې وخت کښې ټولو بنی اِسرائيلو مالِک خُدائ ته د مدد دپاره وژړل.
٣ سموئيل بنی اِسرائيلو ته وفرمائيل، "کۀ تاسو د زړۀ د اخلاصه مالِک خُدائ ته
راواوړئ، نو تاسو به خامخا د ټولو پردو معبودانو او عستارات بُتانو نه ځان خلاصوئ.
خپل ځانونه مالِک خُدائ ته حواله کړئ او صِرف د هغۀ عبادت کوئ او هغه به تاسو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فلستیانو د زور نه خلاص کړی.“ ۴ نو بنی اِسرائیلو د بعل او عستارات د بُتانو نه خپل
ځانونه خلاص کړل او صِرف د مالِک خُدائ عبادت يې کولو. ۵ بيا سموئيل ټول بنی
اِسرائيليان راوغوښتل چې په مصفاه کښې راغونډ شی او ورته يې وفرمائيل، ”زۀ به هلته
ستاسو دپاره مالِک خُدائ ته سوال وکړم.“ ۶ نو هغوئ ټول په مصفاه کښې راغونډ
شول. هغوئ څۀ اوبۀ راوويستلې او مالِک خُدائ ته يې د يوې نذرانې په توګه توئ کړې
او ټوله ورځ يې روژه ونيوله. هغوئ ووئيل، ”مونږ د مالِک خُدائ خِلاف ګناه کړې ده.“
نو سموئيل په مصفاه کښې د بنی اِسرائيلو مشر جوړ شو. ۷ کله چې فلستيان خبر
شول چې بنی اِسرائيل په مصفاه کښې راغونډ شوی دی، فلستی بادشاهان د خپلو سرو
سره د هغوئ خِلاف جنګ له راووتل. بنی اِسرائيليان د دې نه خبر شول او ويرېدل، ۸
او سموئيل ته يې ووئيل، ”مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک ته دُعا کول مۀ پرېږده چې
مونږ د فلستيانو نه بچ کړی.“ ۹ سموئيل يو داسې ګډُورے حلال کړو چې مور يې
رودله او د يوې نذرانې په توګه يې ټول مالِک خُدائ ته وسوزولو. بيا يې مالِک خُدائ ته
دُعا وکړه چې د بنی اِسرائيلو مدد وکړی او مالِک خُدائ د هغۀ دُعا واورېده. ۱۰ کله
چې سموئيل نذرانه پېش کوله، نو فلستيان د حملې دپاره مخکښې ورغلل، خو بيا هم په
هغه وخت مالِک خُدائ د هغوئ خِلاف د يو لوئ تندر په شان آواز وکړو. فلستيان
دومره په وارخطايۍ آخته شول چې وتښتېدل. ۱۱ بنی اِسرائيليان د مصفاه نه روان
شول او تقريباً تر بيت‌کَر پورې په فلستيانو پسې وُو او په لاره باندې يې وژل. ۱۲ بيا
سموئيل يو کاڼے واخستلو او د مصفاه او شين په مينځ کښې يې ولګولو او وې
فرمائيل، ”مالِک خُدائ زمونږ هر قِسم مدد کړے دے.“ او په دې باندې يې ”د مدد
کاڼے“ نوم کېښودو. ۱۳ نو فلستيانو شکست وخوړو او مالِک خُدائ دې ته پرې نۀ
ښودل چې تر کومې پورې سموئيل ژوندے وو چې هغوئ د بنی اِسرائيلو په علاقه قبضه
وکړی. ۱۴ بنی اِسرائيلو ته هغه ټول ښارونه واپس مِلاو شول چې د عقرون او جات په
مينځ کښې وُو او فلستيانو قبضه کړی وُو او داسې بنی اِسرائيلو خپله ټوله علاقه واپس
واخستله. او د کنعانيانو او بنی اِسرائيلو په مينځ کښې هم امن وو. ۱۵ سموئيل ټول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عُمر د بنی اِسرائیلو قاضی وو. ۱۶ هغه به هر کال په بیت‌ایل، جِلجال او مصفاه کښې
ګرځېدو او په دې ځایونو کښې یې لانجې هوارولې. ۱۷ بیا به هغه واپس په راما کښې
خپل کور ته تلو، هلته یې هم د قاضی په توګه خِدمت کولو. هغهٔ په راما کښې مالِک
خُدایٔ ته یوه قربان‌ګاه هم جوړه کړې وه.

## د خلقو بادشاه غوښتل

۸ ۱ کله چې سموئیل بوډا شو، هغهٔ خپل زامن د بنی اِسرائیلو قاضیان جوړ کړل.
۲ د مشر زویٔ یې یوایل او د کشر یې ابیاه نوم وو، هغوئ په بیرسبع کښې قاضیان
وُو. ۳ خو هغوئ د خپل پلار په لاره نهٔ وُو روان، د هغوئ شوق صِرف پیسې پېدا کول
وُو، هغوئ به رشوت اخستو او د اِنصاف تباهی به یې کوله. ۴ نو بیا د بنی اِسرائیلو
ټول مشران راغونډ شول او په راما کښې سموئیل له لاړل، ۵ او هغهٔ ته یې ووئیل،
”ګوره، تهٔ بوډا کېږې او زامن دې ستا په لاره نهٔ دی روان. نو یو بادشاه مقرر کړه چې په
مونږ باندې بادشاهی کوی، نو داسې د نورو قومونو په شان به زمونږ هم یو بادشاه وی.“
۶ سموئیل د هغوئ بادشاه غوښتلو باندې خوشحاله نهٔ وو، نو هغهٔ مالِک خُدایٔ ته
سوال وکړو، ۷ او مالِک خُدایٔ ورته وفرمائیل، ”خلق چې درته څهٔ هم وائی هغې ته
غوږ ونیسه. تهٔ هغه خوک نهٔ یې چې رد کړے شوے یې، په حقیقت کښې دا زهٔ یم چې
هغوئ د بادشاه په توګه رد کړے یم. ۸ چې د کوم وخت نه ما هغوئ د مِصر نه
راویستلی دی، نو هغوئ زما نه اوړېدلی دی او د نورو معبودانو عبادت یې کړے دے، او
اوس هغوئ تا سره هغه څهٔ کوی چې همېشه یې زما سره کړی دی. ۹ نو بیا هغوئ ته
غوږ کېږده، خو سخت خبردارے هم ورکړه او هغوئ ته ووایه چې خپل بادشاهان به
ورسره څهٔ سلوک کوی.“ ۱۰ نو سموئیل هغه خلقو ته چا چې بادشاه غوښتو هغه هر
څهٔ وفرمائیل څهٔ چې مالِک خُدایٔ هغهٔ ته فرمائیلی وُو. ۱۱ سموئیل ورته وفرمائیل،
”ستاسو بادشاه به تاسو سره داسې سلوک کوی، هغه به ستاسو زامنو نه فوجیان جوړ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی، څهٔ به د هغهٔ د جنګی ګاډو خِدمت کوی، څهٔ به د هغهٔ د آسونو والا وی او څهٔ به د
هغهٔ د ګاډو نه مخکښې منډې وهی. ۱۲ هغه به ستاسو څهٔ زامن د زرګونو سرو او نور د
پنځوسو سرو مشران آفسران جوړ کړی. ستاسو زامن به د هغهٔ په پټو کښې یوې کوی، د
هغهٔ فصلونه به ریبی، وسله او د هغهٔ د جنګی ګاډو دپاره به نور سامان جوړوی. ۱۳
ستاسو لوڼه به دې ته جوړې کړی چې د هغهٔ دپاره عطر جوړوی او د هغهٔ دپاره به د
اخلی پخلی والا او نانبایانو په توګه کار کوی. ۱۴ هغه به ستاسو ښهٔ پټی، د انګورو او د
زیتُونو باغونه ونیسی او خپلو آفسرانو له به یې ورکړی. ۱۵ هغه به د ستاسو د غلې او
انګورو لسمه حِصه د خپل دربار د آفسرانو دپاره او د نورو آفسرانو دپاره اخلی. ۱۶
هغه به ستاسو نوکران او ستاسو ښهٔ څاروی او خرونه واخلی او کار به ترې نه اخلی.
۱۷ هغه به ستاسو د رَمې لسمه برخه اخلی. او تاسو به په خپله د هغهٔ نوکران شئ. ۱۸
کله چې هغه وخت راشی، نو تاسو به د دې بادشاه نه د خلاصون دپاره فریاد وکړئ،
کوم چې تاسو په خپله خوښ کړے وی، خو په هغه وخت کښې به مالِک خُدائ ستاسو
شکایتونه نهٔ اوری.“ ۱۹ خو خلقو د سموئیل خبره ونهٔ منله او وې وئیل، ”نه، مونږ د
ځان دپاره یو بادشاه غواړُو، ۲۰ نو داسې مونږ به د نورو قومونو په شان شُو، چې په
مونږ باندې خپل بادشاه حکومت کوی او په جنګ کښې مو مشری کوی او زمونږ
جنګونه به کوی.“ ۲۱ هغوئ چې څهٔ هم وئیل نو سموئیل ورته غوږ نیولے وو او بیا
لاړو او مالِک خُدائ ته یې وفرمائیل. ۲۲ مالِک خُدائ ورته وفرمائیل، ”هغوئ چې څهٔ
وائی نو هم هغه شان وکړه او هغوئ له یو بادشاه ورکړه.“ بیا سموئیل د بنی اِسرائیلو
ټولو خلقو ته وفرمائیل چې واپس کور ته لاړ شئ.

## د ساؤل سموئیل سره مِلاوېدل

۹ ۱ د بنیامین د قبیلې یو مالدار او تکړه سړے وو چې نوم یې قیس وو، هغه د
ابی‌ایل زوئ او صرور نمسے وو او د بکورت د خاندان وو، چې د افیخ د قبیلې یوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

برخه ده. ۲ د ساؤل په نامه د هغهٔ يو زوئ وو چې يو ښائسته زلمے وو. ساؤل په بنی
اِسرائيلو کښې د ټولو نه ښائسته سړے وو او داسې د ټولو نه زيات لوړ هم وو. ۳ د
قيس يو څو خرونه ورک شول، نو هغهٔ ساؤل ته ووئيل، "د ځان سره يو نوکر بوځه او
هغه خرونه ولټوه." ۴ هغوئ د اِفرائيم د غرونو په مُلک کښې او سليسه په علاقه کښې
وګرځېدل، خو پيدا يې نهٔ کړل، هغوئ د سعليم په علاقه کښې ورپسې وګرځېدل، خو
خرونه هلته هم نهٔ وو. بيا هغوئ د بنيامين په علاقه کښې وګرځېدل، خو بيا يې هم ونهٔ
موندل. ۵ کله چې هغوئ د صُوف علاقې ته لاړل، نو ساؤل خپل نوکر ته ووئيل، "راځه
چې واپس کور ته لاړ شُو، کېدے شی زما پلار د خرونو خيال پرېښے وی او زمونږ په
حقله پرېشانه وی." ۶ نوکر ورته ووئيل، "ګوره، په دې ښار کښې د خُدائ پاک يو
خِدمتګار دے چې ډېر زيات عزتمند دے ځکه چې هغه څهٔ هم وائی نو هغه رښتيا کيږی.
راځئ چې هغهٔ له ورشو، کېدے شی چې هغه مونږ ته ووائی چې مونږ خرونه چرته
موندلے شُو." ۷ ساؤل ترې نه تپوس وکړو، "کهٔ مونږ هغهٔ له ورشو، نو مونږ به څهٔ
ورکوو؟ زمونږ په بوجو کښې خوراک نهٔ دے پاتې او زمونږ سره هيڅ هم نشته چې هغهٔ
له يې ورکړو." ۸ نوکر ورته په جواب کښې ووئيل، "زما سره د سپينو زرو يوه وړه
سيکه ده. زهٔ هغهٔ له دا ورکولے شم، نو هغه به مونږ ته ووائی چې مونږ خرونه چرته پيدا
کولے شُو." ۹-۱۱ ساؤل ورته ووئيل، "ټيک ده، راځه چې ځُو." نو هغوئ هغه ښار ته
لاړل چرته چې د خُدائ پاک خِدمتګار اوسيدو. کله چې هغوئ هغه ښار ته په غرهٔ باندې
ختل، نو هغوئ د يو څو ښځو سره مِلاو شول چې هغوئ اوبو وړلو له راروانې وې.
هغوئ د دې ښځو نه تپوس وکړو، "په ښار کښې يو پېشګوئې ورکوونکے شته؟" په هغه
وخت کښې به يو پېغمبر پېشګوئې ورکوونکے بللے شو، نو چې کله به هم چا د خُدائ
پاک نه د څهٔ تپوس کولو، نو هغهٔ به وئيل، "ځه چې پېشګوئې ورکوونکی له لاړ شُو."
۱۲-۱۳ هغه جينکو ووئيل، "آو، هغه شته. ګورئ، هغه ستاسو نه لږ وړاندې دے. کهٔ
تاسو تيز شئ، نو هغهٔ ته به ورسيږئ. چې څنګه تاسو ښار ته لاړ شئ، نو هغه به ووينئ.
هغه ښار ته هم نن رسيدلے دے نو ځکه خلق په غرهٔ کښې په قربانګاه باندې نذرانه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېش کوی. کوم خلق چې راغوښتلے شوی دی هغوئ به تر هغې پورې خوراک نۀ شروع
کوی چې هغه هلته تلے نۀ وی، ځکه چې هغه اول قربانۍ له برکت ورکوی. اوس بره لاړ
شئ، نو هغه به سمدستی ووینئ." (۱۴) نو ساؤل او د هغۀ نوکر هغه ښار ته وختل او کله
چې هغوئ ورننوتل نو هغوئ سموئیل ولیدو چې په لاره باندې د عبادت ځائ ته د هغوئ
په طرف راروان وو. (۱۵) یوه ورځ مخکښې مالِک خُدائ سموئیل ته فرمائیلی وُو، (۱۶)
"سبا تقریباً په دې وخت به زۀ د بنیامین د قبیلې یو سړے تا له درولېږم، د هغۀ سر په
تېلو غوړ کړه چې هغه زما د خلقو بنی اِسرائیلو بادشاه شی. او هغه به هغوئ د فلستیانو
نه خلاص کړی. ما د خپلو خلقو تکلیف لیدلے دے او د هغوئ فریاد مې اورېدلے
دے." (۱۷) کله چې د سموئیل نظر په ساؤل پرېوتو، نو مالِک خُدائ هغۀ ته وفرمائیل،
"دا هغه سړے دے چې د هغۀ په حقله ما درته فرمائیلی وُو. هغه به زما په خلقو بادشاهی
کوی." (۱۸) بیا ساؤل سموئیل له ورَغلو، چې د دروازې په خولۀ کښې وو او تپوس یې
ترې نه وکړو، "مِهربانی وکړه او ما ته ووایه چې هغه پېشګوئې ورکوونکے چرته
اوسیږی؟" (۱۹) سموئیل ورته وفرمائیل، "زۀ پېشګوئې ورکوونکے یم. زما نه وړاندې د
عبادت ځائ ته روان شئ. تاسو دواړه به نن ما سره روټۍ خورئ. سبا سحر به زۀ تا ته
هغه څۀ وښایم چې ستا په زړۀ کښې وی او تاسو به رُخصت کړم. (۲۰) چې کوم خرونه
درې ورځې مخکښې ورک شوی وُو، د هغې فکر مۀ کوئ، هغه پیدا شوی دی. خو دا تۀ
او ستا د پلار خاندان دے چې د ټولو بنی اِسرائیلو زړۀ ور پورې تړلے دے." (۲۱) ساؤل
ورته په جواب کښې ووئیل، "زۀ د بنیامین د قبیلې یم، کومه چې د بنی اِسرائیلو د ټولو نه
وړه قبیله وه او په قبیله کښې زما د خاندان اهمیت د ټولو نه کم دے. نو بیا، تۀ زما سره
داسې خبرې ولې کوې؟" (۲۲) بیا سموئیل ساؤل او د هغۀ نوکر یې یوې غټې کوټې ته
بوتلل او هغوئ له یې د دسترخوان په سر کښې ځائ ورکړو چرته چې تقریباً ټول دېرش
کسان ناست وُو. (۲۳) سموئیل د اخلی پخلی والا ته وفرمائیل، "د غوښې هغه ټُکړه راوړه
چې ما درکړې وه او درته مې فرمائیلی وُو چې جدا یې کېږده." (۲۴) نو د اخلی پخلی والا
د ټولو نه ښۀ غوښه راوړه او د ساؤل په مخکښې یې کېښوده. سموئیل ورته وفرمائیل،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

"ګوره، دا هغه ټُکړه ده چې ستا دپاره ساتلې شوې وه. دا وخوره. د دې خلقو د رابللو
نه مخکښې دا ما ستا دپاره ایښې وه." نو ساؤل په هغه ورځ د سموئیل سره روټۍ
وخوړه. ۲۵ کله چې هغوئ د عبادت ځائ نه ښار ته کوز شول، نو هغوئ په چت باندې
د ساؤل دپاره د څملاستو ځائ تیار کړو، ۲۶ او هغه هلته اودهٔ شو.

## د ساؤل د بادشاه په توګه مقرر کېدل

په سحر کښې سموئیل ساؤل ته په چت باندې آواز وکړو، "پاڅه او زهٔ به تا رُخصت
کړم." ساؤل پاڅېدو او هغه او سموئیل دواړه یو ځائ بهر کوڅې ته لاړل. ۲۷ کله چې
هغوئ د ښار سر ته ورسېدل، نو سموئیل ساؤل ته وفرمائیل، "نوکر ته ووایه چې زمونږ
نه مخکښې روان شی." نوکر لاړو او سموئیل خپله خبره جاری وساتله، "لږ وخت دلته
ایسار شه، نو زهٔ به تا ته د خُدائ پاک د طرف نه یوه خبره وکړم."

۱۰ ۱ بیا سموئیل د زیتُونو تېلو یو لوښے واخستو او تېل یې د ساؤل په سر
واړول، ساؤل یې ښُکل کړو او ورته یې وفرمائیل، "مالِک خُدائ تا د خپلو خلقو بنی
اِسرائیلو دپاره د بادشاه په توګه مقررروی. تهٔ به د هغهٔ په خلقو بادشاهی کوې او د ټولو
دشمنانو نه به یې بچ کوې او دا هغه نښه ده چې تهٔ مالِک خُدائ خوښ کړے یې او د
هغوئ بادشاه جوړ شوے یې، ۲ چې تاسو نن زما نه لاړ شئ، نو د بنیامین په علاقه
ضلضع کښې د راحیل د قبر سره نزدې به تاسو د دوو سړو سره مِلاو شئ. هغوئ به
تاسو ته ووائی چې تاسو کوم خرونه لټوئ هغه پیدا شوی دی، نو داسې ستاسو پلار به د
خرونو په حقله پرېشان نهٔ وی خو ستاسو په حقله به پرېشان وی او بیا بیا به تپوسونه
کوی چې زما زوئ چرته دے؟ ۳ کله چې تاسو په تبور کښې پاکې ونې ته ورسېږئ، نو
هلته به تاسو د درېو سړو سره مِلاو شئ چې په بیت‌ایل کښې خُدائ پاک ته یوه نذرانه
پېش کولو له روان وی. یو به د چېلۍ درې بچی روان کړی وی، بل به درې روټۍ روانې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړې وی او درېم سره به د مېو نه ډکه مشکيزه وی. ۴ هغوئ به په تاسو سلام واچوی
او دوه روټۍ به درته پېش کړی، هغه تاسو قبولې کړئ. ۵ بيا به تاسو په جبعه کښې د
خُدائ پاک غر ته لاړ شئ، چرته چې د فلستيانو کېمپ دے. ښار ته د ننوتلو په ځائ
کښې به تاسو د پېغمبرانو يوې قبيلې سره مِلاو شئ چې په غرۀ باندې د قربان‌ګاه نه
راکوزېږی، بينجو، تمبل، شپېلۍ او رباب به غږوی. او هغوئ به په جذبه کښې پېغام
ورکوی. ۶ د مالِک خُدائ روح به ناڅاپه په تاسو باندې راشی او تاسو به هم د هغوئ
سره پېشګوئې شروع کړئ. او تاسو به هغه شان نۀ يئ لکه چې څنګه مخکښې وئ. ۷
کله چې دا نښې وشی نو تاسو هغه څۀ وکړئ چې څۀ مناسب وی، ځکه چې خُدائ پاک
ستاسو مل دے. ۸ تاسو به زما نه مخکښې لاندې جِلجال ته لاړ شئ، هلته به زۀ
ستاسو سره ملګرے شم او سوزېدونکې او د سلامتۍ نذرانې به پېش کړم. اووۀ ورځې
هلته اِنتظار وکړئ تر دې پورې چې زۀ درشم او درته ووايم چې څۀ به کوئ." ۹ کله
چې ساؤل د سموئيل نه روان شو، نو خُدائ پاک ساؤل بيخی بدل کړو. او په هغه ورځ
هغه هر څۀ وشول چې څۀ ورته سموئيل فرمائيلی وُو. ۱۰ کله چې ساؤل او د هغۀ نوکر
جبعه ته ورسېدل، نو د پېغمبرانو يوه ډله ورسره مِلاو شوه، د مالِک خُدائ روح ناڅاپه په
هغۀ باندې راغلو او هغۀ د هغوئ سره پېشګوئې ورکول شروع کړل. ۱۱ کومو خلقو چې
هغه د مخکښې نه پېژندلو او چې هغوئ وليدلو چې دا هر څۀ يې کول نو هغوئ د يو بل نه
تپوس وکړو، "د قيس په زوئ باندې څۀ شوی دی؟ ساؤل پېغمبر شوے دے څۀ؟" ۱۲
يو مقامی سړی ووئيل، "کۀ د چا پلار څۀ هم وی نو ولې د هغۀ زوئ پېغمبر جوړېدے
شی څۀ؟" نو بيا دا يو متل جوړ شو، "آيا ساؤل هم په نبيانو کښې شمېرلے شی؟" ۱۳
کله چې ساؤل خپله پېشګوئې ختمه کړه نو هغه د عبادت ځائ ته وختلو. ۱۴ د ساؤل
ترۀ هغه او نوکر وليدل او تپوس يې ترې نه وکړو، "تاسو چرته وئ؟" ساؤل ورته په
جواب کښې ووئيل، "خرونه مو لټول. کله چې مونږ خرونه پيدا نۀ کړل نو د سموئيل
سره مِلاوېدو له لاړُو." ۱۵ د ساؤل ترۀ ترې نه تپوس وکړو، "او سموئيل تاسو ته څۀ
ووئيل؟" ۱۶ ساؤل جواب ورکړو، "هغۀ مونږ ته ووئيل چې خرونه پيدا شوی دی." خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ خپل ترهٔ ته د بادشاه کېدو په حقله ونهٔ وئيل چې سموئيل ورته څهٔ فرمائيلی وُو.

## د ساؤل د بادشاهئ اِعلان کېدل

۱۷ سموئيل په مصفاه کښې خلق د مالِک خُدائ په حضور کښې راغونډ کړل ۱۸ او
هغوئ ته يې وفرمائيل، "مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی چې ما تاسو د
مِصر نه راووېستلئ او د مِصريانو او هغه نورو ټولو خلقو نه مې بچ کړئ چې کومو په
تاسو باندې سختی کوله. ۱۹ زهٔ ستاسو خُدائ پاک يم، هغه څوک چې تاسو د ټولو
تکليفونو او سختو نه بچ کوی، خو تاسو نن زهٔ رد کړے يم او بادشاه مو رانه غوښتے
دے. ډېره ښهٔ ده، نو د مالِک خُدائ په وړاندې ډله په ډله او قبيله په قبيله راغونډ شئ."
۲۰ بيا سموئيل هره قبيله وړاندې راوستله او د بنيامين قبيله د پچې په ذريعه خوښه
کړے شوه. ۲۱ بيا سموئيل د بنيامين د قبيلو خاندان وړاندې راوستلې او د مِطری
خاندان خوښه کړے شو. بيا د مِطری د خاندان سړی وړاندې راغلل او د قيس زوئ
ساؤل خوښ کړے شو. هغوئ هغه ولټولو، خو چې کله يې هغه ونهٔ موندلو، ۲۲ نو
هغوئ د مالِک خُدائ نه تپوس وکړو، "هغه سړے تر اوسه پورې دلته راغلے دے څهٔ؟"
مالِک خُدائ ورته وفرمائيل، "ګورئ، هغه د بوجو په مينځ کښې پټ شوے دے." ۲۳
نو هغوئ منډه کړه او ساؤل يې بهر خلقو ته راووېستلو او هغه د خلقو په مينځ کښې
ودرېدو. هغه د ټولو نه لوړ سړے وو. ۲۴ سموئيل خلقو ته وفرمائيل، "هغه سړے دا
دے کوم چې مالِک خُدائ خوښ کړے دے. زمونږ په مينځ کښې د هغهٔ په شان بل هيڅ
څوک هم نشته." نو ټولو خلقو چغه کړه، "بادشاه زِندهباد." ۲۵ سموئيل خلقو ته د
بادشاه حقُونه او ذمه وارئ بيان کړې او بيا يې په يو کِتاب کښې وليکلې او کِتاب يې د
مالِک خُدائ په حضور کښې کېښودو. بيا هغهٔ ټول خلق کورونو ته ولېږل. ۲۶ ساؤل
هم واپس په جبعه کښې خپل کور ته لاړو. يو څو تکړه سړی هم ورسره لاړل چې د هغوئ
زړونه خُدائ پاک بدل کړی وُو. ۲۷ خو څهٔ شريرانو خلقو ووئيل، "دا سړے به مونږ
څنګه بچ کړی؟" هغوئ د ساؤل سپکاوے وکړو او تُحفې يې ورله رانهٔ وړې. خو ساؤل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هيڅ جواب ورنۀ کړو.

## د ساؤل عمونيانو له شکست ورکول

١١ ١ تقريباً يوه مياشت وروستو عمونى بادشاه ناحس د جِلعاد په علاقه کښې د
يبيس ښار خِلاف خپل لښکر روان کړو او ښار يې محاصره کړو. د يبيس سړو ناحس ته
ووئيل، ”مونږ سره د صُلحې تړون وکړه، نو مونږ به تا خپل بادشاه ومنو.“ ٢ ناحس
جواب ورکړو، ”زۀ به ستاسو سره په يو شرط باندې د صُلحې تړون وکړم، زۀ به د هر يو
کس ښى سترګه وباسم او دا به د ټولو بنى اِسرائيلو دپاره د شرم خبره وى.“ ٣ د
يبيس مشرانو ووئيل، ”مونږ له اووۀ ورځې راکړئ چې مونږ د بنى اِسرائيلو ټول مُلک ته
پېغام وړُونکى ولېږُو. کۀ مونږ هيچا هم بچ نۀ کړُو، نو مونږ به تاسو ته حواله شُو.“ ٤
پېغام وړُونکى جبعې ته ورسېدل، چرته چې ساؤل اوسېدو او کله يې چې ورته خبر بيان
کړو نو خلقو په چغو چغو وژړل. ٥ ساؤل د پټى نه غوَيى روان کړى وُو او تپوس يې
وکړو، ”څۀ شوى دى؟ دا خلق ولې ژاړى؟“ چې کوم خبر پېغام وړونکو د يبيس نه
راوړے وو نو هغوئ هغه ورته بيان کړو. ٦ کله چې ساؤل دا واورېدل نو د خُدائ
پاک روح د لوئ طاقت سره په هغۀ نازل شو او ساؤل سخت غصه وو. ٧ هغۀ دوه
غوَيى بوتلل، ټوټې ټوټې يې کړل او د دې خبردارى سره يې پېغام وړُونکى ولېږل چې د
بنى اِسرائيلو ټول مُلک ته دا ټوټې يوسئ، ”څوک هم چې د جنګ دپاره په ساؤل او
سموئيل پسې نۀ ځى نو د هغۀ د غوَيانو سره به دا چل کيږى.“ نو د دې په وجه د مالِک
خُدائ يره په بنى اِسرائيلو باندې راغله او هغوئ ټول په يو ځائ راووتل. ٨ ساؤل
هغوئ په بزق کښې راغونډ کړل، هغوئ درې لاکه د بنى اِسرائيل نه وُو او دېرش زره د
يهوداه د قبيلې کسان وُو. ٩ هغوئ د يبيس پېغام وړونکو ته ووئيل، ”خپلو خلقو ته
ووايئ چې سبا د غرمې نه مخکښې به هغوئ خلاص شى.“ کله چې د يبيس خلقو ته دا
پېغام مِلاو شو، نو هغوئ ډېر خوشحاله شول ١٠ او ناحس ته يې ووئيل، ”سبا به مونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا ته خپل ځان حواله کړُو او چې ستا څۀ خوښه وی نو هغه راسره وکړه." ۱۱ په هغه
شپه ساؤل خپل سړی په دریو ډلو کښې تقسیم کړل او هغوئ سحر وختی د دشمن په
خېمو باندې تېز ورغلل او په عمونیانو باندې یې حمله وکړه. تر غرمې پورې یې ټول وژلی
وُو. ژوندی پاتې کسان خوارۀ وارۀ شول، هر یو سړی په خپله مخه منډې وهلې. ۱۲ بیا
خلقو سموئیل ته ووئیل، "هغه خلق چرته دی چې کومو وئیل چې ساؤل به زمونږ بادشاه
نۀ وی؟ هغوئ مونږ ته حواله کړه او مونږ به یې ووژنو." ۱۳ خو ساؤل ورته ووئیل، "نن
به هیڅ څوک هم نۀ شی وژلے، ځکه چې نن هغه ورځ ده چې مالِک خُدائ بنی
اِسرائیلیان بچ کړی وُو." ۱۴ او سموئیل هغوئ ته وفرمائیل، "راځئ چې یو ځل بیا ټول
جِلجال ته لاړ شُو او ساؤل دوباره خپل بادشاه جوړ کړُو." ۱۵ نو هغوئ ټول جِلجال ته
لاړل او هلته یې په مقدس ځائ کښې د ساؤل د بادشاهۍ اِعلان وکړو. هغوئ د سلامتۍ
نذرانې پېش کړې او ساؤل او د بنی اِسرائیلو ټولو خلقو یوه لویه خوشحالی وکړه.

## د سموئیل خلقو ته تقریر کول

**۱۲**
۱ بیا سموئیل ټولو بنی اِسرائیلو ته وفرمائیل، "تاسو چې ما ته څۀ وئیلی وُو نو
ما هغه کړی دی. ما یو بادشاه درکړے دے چې په تاسو بادشاهی وکړی، ۲ او اوس
هغه ستاسو د لاربښودنې دپاره تاسو سره دے. زۀ بوډا او سپین ږیرے یم او تاسو ته پته
ده چې زما زامن تاسو سره دی. زۀ د ځوانۍ نه تر اوسه پورې ستاسو مشر وم. ۳ زۀ
ستاسو په وړاندې یم. کۀ ما څۀ غلط کار کړے وی، اوس اوس د مالِک خُدائ او د هغه
بادشاه په مخکښې په ما اِلزام ولګوئ کوم چې مالِک خُدائ خوښ کړے دے. ما د چا
غوَیے یا د چا خر بوتلے دے څۀ؟ ولې ما څوک دوکه کړے دے یا مې په چا ظلم
کړے دے څۀ؟ ما د چا نه رشوت اخستے دے څۀ؟ کۀ ما دا یو کار هم کړے وی، نو
ما چې څۀ هم اخستی وی هغه به واپس ورکړم." ۴ خلقو جواب ورکړو، "نه، تا مونږ
له نۀ دوکه راکړې ده او نۀ دې په مونږ ظلم کړے دے، تا د هیچا نه هیڅ هم نۀ دی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اخستی.“ ۵ سموئيل ورته په جواب کښې وفرمائيل، ”مالِک خُدائ او هغهٔ چې کوم
بادشاه خوښ کړے دے نن د دې خبرې ګواهان دی چې زهٔ بېخی بې‌ګناه يم.“ هغوئ
ورته وفرمائيل، ”آو، مالِک خُدائ ګواه دے.“ ۶ سموئيل وفرمائيل، ”مالِک خُدائ هغه
څوک دے چا چې موسیٰ او هارون خوښ کړل او ستاسو پلار نيکهٔ يې د مِصر نه
راوويستل. ۷ اوس چې چرته يئ نو هم هلته ودرېږئ او زهٔ به د مالِک خُدائ په
مخکښې تاسو ودروم چې هغه ټول لوئ لوئ کارونه در په ياد کړم چې مالِک خُدائ
ستاسو او ستاسو د پلار نيکهٔ د بچ کولو دپاره کړی دی. ۸ کله چې يعقوب او د هغهٔ
خاندان مِصر ته لاړل، نو ستاسو پلار نيکهٔ د مدد دپاره فرياد وکړو او هغهٔ موسیٰ او
هارون راولېږل او هغوئ ستاسو پلار نيکهٔ د مِصر نه راوويستل او په دې مُلک کښې يې
دېره کړل. ۹ خو خلقو مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک هېر کړو، نو هغهٔ هغوئ سِسيرا
ته حواله کړل څوک چې د حصور د ښار د لښکر مشر وو او فلستيانو او د موآب
بادشاه ته يې حواله کړل، چې هغوئ ستاسو د پلار نيکهٔ خِلاف وجنګېږی او شکست
ورکړی. ۱۰ بيا هغوئ مالِک خُدائ ته وئيل چې، مونږ ګناه کړې ده ځکه مونږ ستا نه
واوړېدو او د بعل او عستارات د بُتانو عبادت مو وکړو. مونږ د خپلو دشمنانو نه بچ کړه
او مونږ به ستا عبادت کوُو. ۱۱ مالِک خُدائ جدعون، برق او اِفتاح راولېږل او په آخر
کښې يې زهٔ راولېږلم. مونږ هر يو تاسو د ګېرچاپېره دشمنانو نه بچ کړئ او تاسو په خير
سره ژوند تېرولو. ۱۲ خو کله چې تاسو وليدل چې د عمون بادشاه ناحس په تاسو
حمله کوی، نو تاسو مالِک خُدائ رد کړو اګر چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
ستاسو بادشاه وو خو تاسو بيا هم ما ته ووئيل چې مونږ يو بادشاه غواړُو چې په مونږ
بادشاهی کوی. ۱۳ نو اوس هغه بادشاه دا دے چې تاسو خوښ کړے دے، تاسو هغه
غوښتے وو او مالِک خُدائ تاسو له درکړو. ۱۴ کهٔ تاسو د مالِک خُدائ نه يرېږئ، د
هغهٔ خِدمت او تابعداری کوئ او د هغهٔ د حُکم نه سرکشی مهٔ کوئ او کهٔ تاسو او هغه
بادشاه چې په تاسو بادشاهی کوی د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک تابعداری کوئ نو
ستاسو هر کار به سم وی. ۱۵ خو کهٔ تاسو مالِک خُدائ ته غوږ نهٔ نيسئ او د هغهٔ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حُکمونو نافرمانی کوئ، نو هغه به ستاسو او ستاسو د بادشاه خِلاف شی. ۱۶ نو بیا
دلته ودرېږئ او تاسو به په خپلو سترګو هغه لوئ لوئ کارونه ووینئ چې مالِک خُدائ
يې کوی. ۱۷ تاسو ته پته ده چې دا د غنمو د لَو وخت دے چې دا د باران موسم نهٔ وی
خو زهٔ به مالِک خُدائ ته سوال وکړم او هغه به تندر او باران راولېږی. کله چې داسې
وشی نو تاسو ته به پته ولګی چې تاسو د مالِک خُدائ خِلاف يوه لويه ګناه کړې ده کله
چې تاسو د هغهٔ نه يو بادشاه وغوښتو.“ ۱۸ نو سموئيل سوال وکړو او هم په هغه ورځ
مالِک خُدائ تندر او باران راولېږلو. نو ټول خلق د مالِک خُدائ او سموئيل نه ويرېدل،
۱۹ او هغوئ سموئيل ته ووئيل، ”مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته زمونږ دپاره سوال
وکړه، نو داسې به مونږ نهٔ مرهٔ کيږُو. اوس مونږ ته دا پته لګېدلې ده چې د نورو ټولو
ګناهونو نه علاوه مونږ دا ګناه هم کړې ده چې يو بادشاه مو غوښتے دے.“ ۲۰
سموئيل ورته وفرمائيل، ”مهٔ يرېږئ، اګر چې تاسو داسې بد عمل کړے هم دے خو د
مالِک خُدائ نه مهٔ اوړئ او د خپل ټول زړهٔ سره د هغهٔ خِدمت کوئ. ۲۱ د بې‌کاره
بُتانو عبادت دپاره واپس مهٔ ورګرځئ، هغه بُتان نهٔ ستاسو مدد کولے شی او نهٔ مو بچ
کولے شی، ځکه چې دا بې‌کاره دی. ۲۲ مالِک خُدائ به د خپل نوم د خاطره تاسو نهٔ
پرېږدی، ځکه چې د هغهٔ دا خوښه ده چې تاسو خپل خلق جوړ کړی. ۲۳ باقی پاتې
شوه زما خبره، نو مالِک خُدائ دې ونهٔ کړی چې د هغهٔ خِلاف داسې ګناه وکړم چې
هغهٔ ته ستاسو دپاره سوال نهٔ کوم. او زهٔ به تاسو ته هغه لار ښايم چې کومه ښهٔ او
صحيح وی. ۲۴ د مالِک خُدائ نه يره په کار ده او د زړهٔ د اخلاصه په وفادارئ سره د
هغهٔ خِدمت کوئ. هغه لوئ لوئ کارونه راپه ياد کړئ چې هغهٔ ستاسو دپاره کړی دی.
۲۵ خو کهٔ تاسو بيا هم خپله بدعملی کوئ نو تاسو او ستاسو بادشاه به تباه شئ.“

## د فلستيانو خِلاف جنګ

۱۳ ۱ ساؤل د ديرشو کالو په عُمر کښې بادشاه جوړ شو او هغهٔ دوه ځلويښت کاله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په بنی اِسرائیلو بادشاهی وکړه. ۲ ساؤل درې زره سړی خوښ کړل، دوه زره یې د
ځان سره په مِکماس کښې او د غرونو مُلک بیت‌ایل کښې وساتل او زر سړی یې د خپل
زوئ یونتن سره جبعې ته ولېږل چې د بنیامین د قبیلې علاقه ده. باقی پاتې سړی ساؤل
کورونو ته ولېږل. ۳ یونتن په فلستیانو حمله وکړه او په جبعه کښې یې د هغوئ قلعه
تباه کړه او ټول فلستیان د دې نه خبر شول. بیا ساؤل پیغام وړُونکی ولېږل چې عبرانیان
د جنګ دپاره راوغواړی او په ټول مُلک کښې یې د خبرداری دپاره بیګلې وغږولې. ۴
نو ټول بنی اِسرائیلیان خبر شول چې ساؤل فلستے مشر وژلے دے او دا چې فلستیان
ستاسو نه نور نفرت هم کوی. نو خلق راغونډ شول او په جِلجال کښې د ساؤل سره
شول. ۵ فلستیان د بنی اِسرائیلو خِلاف د جنګ دپاره راغونډ شول، د هغوئ سره
دېرش زره جنګی ګاډی وې، شپږ زره په آسونو سوارهٔ کسان او دومره ډېر فوجیان
ورسره وُو لکه چې په سمندر کښې خومره شګې دی. هغوئ د بیت‌آون نمرخاتهٔ طرف ته
مِکماس ته لاړل او هلته یې خېمې ولګولې. ۶ کله چې بنی اِسرائیلو ولیدل چې حالات
نازک دی او د هغوئ لښکر د سختئ سره مخ دے، نو هغوئ د ګټو په غارونو او سورو
کښې، ونو بوټو او په کُوهو کښې پټ شول، ۷ هغه نور د جاد او جِلعاد علاقې ته د
اُردن سیند نه پورې وتل. ساؤل تر اوسه پورې په جِلجال کښې وو او د هغهٔ سره چې
کوم خلق وُو هغوئ د یرې نه رېږدېدل. ۸ هغهٔ اووهٔ ورځې د سموئیل اِنتظار وکړو،
لکه څنګه چې سموئیل ورته فرمائیلی وُو، خو سموئیل بیا هم جِلجال ته رانهٔ غلو. نو
خلقو د ساؤل په پرېښودو شروع وکړه، ۹ نو هغهٔ ورته ووئیل، "ما له سوزېدونکې
نذرانې او د سلامتئ نذرانې راوړئ." او هغهٔ په خپله یوه سوزېدونکې نذرانه پېش کړه،
۱۰ او چې څنګه یې نذرانه ختمه کړه، نو سموئیل راورسېدو. ساؤل هغهٔ سره مِلاوېدو
او سترې مشی له ورَغلو، ۱۱ خو سموئیل وفرمائیل، "تا څهٔ کړی دی؟" ساؤل جواب
ورکړو، "خلق زما نه تلل، خو چې تا څنګه فرمائیلی وُو نو تهٔ په مقرر وخت رانهٔ غلې، د
دې نه علاوه، فلستیان په مِکماس کښې د جنګ دپاره راغونډېږی. ۱۲ نو زما خیال دا
وو چې فلستیان دلته په ما باندې په جِلجال کښې حمله کوی، خو ما مالِک خُدائ ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوال نۀ وو کړے او زۀ مجبور وم چې نذرانه پېش کړم.“ ۱۳ سموئيل ورته په جواب
کښې وفرمائيل، ”داسې کول بېوقوفي وه. تا د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک حُکم نۀ
دے منلے. کۀ تا منلے وے نو هغۀ به تۀ او ستا اولاد بادشاهان جوړ کړی وئ چې
همېشه دپاره په بنی اِسرائيلو حکومت وکړئ. ۱۴ خو اوس به ستا بادشاهي ختمه شی.
ځکه چې تا د هغۀ نافرمانی کړې ده، مالِک خُدائ يو داسې سړے لټولے دے چې د هغۀ
خوښ وو او هغه يې د خپلو خلقو بادشاه مقرر کړے دے.“ ۱۵ سموئيل د جِلجال نه
روان شو او په خپله مخه لاړو. پاتې خلق په ساؤل پسې لاړل چې د فوجيانو سره شامل
شی، هغوئ د جِلجال نه د بنيامين په علاقه کښې جبعې ته لاړل. ساؤل د خپل لښکر
معائنه وکړه چې تقريباً شپږ سوه سړی پاتې ؤو. ۱۶ ساؤل، د هغۀ زوئ يونتن او د دوئ
سړو د بنيامين په علاقه جبعه کښې خېمې ولګولې، د فلستيانو خېمې په مِکماس کښې
وې. ۱۷ فلستی فوجيان په دريو ډلو کښې د حملې دپاره د خپلو خېمو نه ووتل، يوه
قبيله د سعال په علاقه کښې عفره ته لاړه، ۱۸ بله ډله بيتحورون طرف ته لاړه او هغه
بله يوه د حد پولې ته لاړه چې د کوم ځائ نه د صبوئيم وادی او بيابان ښکارېدو. ۱۹
(په بنی اِسرائيلو کښې لوهار نۀ وو ځکه چې د فلستيانو اراده دا وه چې عبرانيان تُورې او
نېزې جوړې نۀ کړی. ۲۰ بنی اِسرائيليان به د خپلو يوو، ګينتو، تبرُونو او لورونو تېرولو
دپاره فلستيانو له تلل، ۲۱ د تبرُونو او لورونو د تېرۀ کولو او د غوَيی د سامان مرمت
کولو مزدوری يوه وړه سيکه وه او دوه سيکې د يوې او ګينتې تېرۀ کولو دپاره وې.) ۲۲
نو د جنګ په هغه ورځ باندې د ساؤل او د هغۀ زوئ يونتن نه بغير د يو بنی اِسرائيلی
فوجی سره هم تُوره يا نېزه نۀ وه. ۲۳ فلستيانو د فوجيانو يوه ډله ولېږله چې د مِکماس
د درې حِفاظت وکړی.

## د يونتن خطرناک کار

۱۴ ۱ يوه ورځ يونتن هغه زلمی ته ووئيل کوم چې د هغۀ وسله وړله، ”راځه چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه طرف ته لاړ شُو چرته چې د فلستيانو قلعه ده.“ خو يونتن خپل پلار ساؤل خبر نۀ
کړو، ٢ ساؤل په مجرون کښې د انار د ونې لاندې ناست وو، دا جبعې ته نزدې وه او
تقريباً شپږ سوه سړی د هغۀ سره وُو. ٣ د ساؤل په سړو کښې اخياه اِمام هم وو کوم
چې پيش بند ګرځولو، اخياه د يکبود د ورور اخيطوب زوئ وو، چې دے د فينحاس
زوئ او د عيلى نمسے وو، چې په سيلا کښې د مالِک خُدائ اِمام وو. خو هيچا ته پته
ونۀ لګېده چې يونتن تلے دے. ٤ د مِکماس په دره کښې، چې د کومې نه يونتن تېرېدو
چې فلستيانو قلعې ته ورسيږى، هلته دوه لوئې کَمَرې وې، چې د درې په دواړو طرفونو
باندې يو يو وو. د يو کَمَر نوم بوصيص وو او د بل سنه وو. ٥ يو د درې په شمال
طرف باندې وو، چې مخ يې مِکماس ته وو او بل په جنوبى طرف باندې وو چې مخ يې
جبعې ته وو. ٦ يونتن هغه وسله وړُونکى زلمى ته ووئيل، ”راځه چې د هغه ناسنته
خلقو قلعې ته ورواوړُو. کېدے شى چې مالِک خُدائ زمونږ مدد وکړى، مالِک خُدائ د
ډېرو يا د لږو خلقو په ذريعه هم خلاصون ورکولے شى او داسې يو څيز هم نشته چې
هغه رايسار کړى.“ ٧ زلمى ورته ووئيل، ”تۀ چې څۀ هم کول غواړې، نو په هر کار
کښې زۀ درسره يم.“ ٨ يونتن ورته ووئيل، ”ټيک ده. مونږ به هغه بل طرف ته واوړُو او
پرېږده چې فلستيان مونږ ووينى. ٩ کۀ هغوئ مونږ ته ووائى چې تر هغې پورې هلته
ايسار شئ چې مونږ درورسيږو، نو بيا چې مونږ چرته يُو هلته به اِنتظار وکړُو. ١٠ خو
کۀ هغوئ مونږ ته ووائى چې راشئ، نو مونږ به ورشُو، ځکه چې دا به د هغه فتحې نښه
وى چې مالِک خُدائ مونږ له په هغوئ باندې راکړې ده.“ ١١ نو هغوئ فلستيان
پرېښودل چې هغوئ وګورى او فلستيانو ووئيل، ”ګورئ، څۀ عبرانيان د هغه غارونو نه
راروان دى چې په کومو کښې پټ وُو.“ ١٢ بيا هغوئ يونتن او هغه زلمى ته د کېمپ نه
چغې وهلې چې، ”بره راوخېژئ، مونږ به تاسو ته چل وښايُو.“ يونتن زلمى ته ووئيل، ”ما
پسې راځه. مالِک خُدائ بنى اِسرائيلو له په دوئ باندې فتح ورکړې ده.“ ١٣ يونتن د
خپلو لاسونو او پښو په ذريعه د درې نه وختلو او هغه زلمے ورپسې وو. يونتن په
فلستيانو حمله وکړه او هغوئ يې ووژل او زلمى هم د هغوئ څۀ کسان ووژل. ١٤ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوله حمله کښې يونتن او هغه زلمی په يو جريب ځائ کښې تقريباً شل سړی ووژل. ۱۵
نو په هغه ټوله علاقه کښې فلستيان سخت ويرېدل، حمله کوونکی او په خيمو کښې
فوجيان د يرې نه ورپړدېدل، زمکه وخوځېدله او هلته يوه لويه وارخطائی وه.

## د فلستيانو شکست

۱۶ د جبعې د بنيامين په علاقه کښې د ساؤل د محافظانو سړو وليدل چې فلستيانو په
پرېشانۍ کښې په هر طرف باندې منډې وهلې. ۱۷ نو ساؤل خپلو سړو ته ووئيل،
”فوجيان وشمېرئ او دا پته ولګوئ چې څوک نشته.“ نو هغوئ شمېر وکړو او پته ورته
ولګېده چې يونتن او هغه زلمے نۀ وو چې کوم زلمی به وسله وړله. ۱۸ ساؤل اخياه
اِمام ته ووئيل، ”پېش بند دلته راوړه.“ په دې ورځ اخياه پېش بند د بنی اِسرائيلو په
وړاندې اغوستے وو. ۱۹ کله چې ساؤل اِمام ته خبرې کولې نو د فلستيانو په قلعه
کښې وارخطائی نوره هم زياتېده، نو ساؤل هغۀ ته ووئيل، ”مالِک خُدائ سره د مشورې
دپاره وخت نشته.“ ۲۰ بيا هغه او د هغۀ سړی د فلستيانو خِلاف جنګ له روان شول،
فلستيان دومره په پرېشانۍ کښې وُو چې د يو بل خِلاف جنګېدل. ۲۱ څۀ عبرانيان کوم
چې د فلستيانو په لښکر کښې شامل شوی وُو نو هغوئ بيا راواپس شول او د ساؤل،
يونتن او د بنی اِسرائيلو سره شامل شول. ۲۲ هغه نور چې د اِفرائيم په غرونو کښې پټ
وُو، هغوئ واورېدل چې فلستيان وتښتېدل، نو هغوئ هم د بنی اِسرائيلو سره په جنګ
کښې ملګری شول او په فلستيانو پسې روان شول، ۲۳ د بيت‌آون نه اخوا پورې ورسره
جنګېدل. مالِک خُدائ په هغه ورځ بنی اِسرائيليان بچ کړل.

## د جنګ نه پس واقعات

۲۴ بنی اِسرائيليان په هغه ورځ د لوږې نه کمزوری شوی وُو، ځکه چې ساؤل قسم سره
دا حُکم کړے وو، ”په هغه کس دې لعنت وی چې څوک نن د ماښام نه مخکښې څۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخوری چې تر کومې ما د خپلو دشمنانو نه بدل نهٔ وی اخستے.“ نو ټوله ورځ د لښکر
یو کس هم څهٔ ونهٔ خوړل. ۲۵ ټول لښکر ځنګل ته دننه شو او په زمکه باندې په هر ځائ
کښې د شاتو ګبینونه ؤو. ۲۶ کله چې هغوئ ځنګل ته ورننه شول، هغوئ ولیدل چې
شات رابهېدل، خو هیچا هم ونهٔ خوړل ځکه چې هغوئ ټول د ساؤل د لعنت نه یرېدل.
۲۷ خو یونتن خبر نهٔ وو چې د هغهٔ پلار د خلقو نه قسم اخستے دے، نو هغهٔ چې کومه
امسا ګرځوله هغه یې وروړله، د دې سر یې د شاتو په ګبین کښې ډُوب کړو او لږ یې
وخوړل. او هغه سمدستی تازه دم شو. ۲۸ خو یو سړی ووئیل، ”مونږ ټول د لوږې نه
کمزوری یُو، خو ستا پلار زمونږ نه قسم اخستے دے هغهٔ وئیلی دی چې نن څوک هم
څهٔ وخوری نو په هغهٔ دې لعنت وی.“ ۲۹ یونتن ورته په جواب کښې ووئیل، ”زما پلار
زمونږ د خلقو سره څهٔ بد کار کړے دے. ګورئ، ما لږ شات وخوړل او څومره تازه دم
شوم. ۳۰ نن به دا څومره ښهٔ وه چې زمونږ خلقو هغه خوراک خوړلے وے چې
دشمنانو نه یې د شکست په وخت واخستو. تاسو سوچ وکړئ چې هغوئ به نور څومره
فلستیان وژلی وے.“ ۳۱ په هغه ورځ بنی اِسرائیلو د مِکماس نه تر ایالون پورې فلستیان
ووژل او لښکر ډېر سخت ستړے وو، ۳۲ نو هغوئ هغه څیزونو له تېز لاړل چې د
دشمن نه یې اخستی ؤو، څاروی او د څاروو بچی یې راونیول، هم په هغه ځائ یې حلال
کړل او هغه غوښه یې وخوړه چې وینه لا په کښې وه. ۳۳ ساؤل ته ووئیلے شول،
”ګورئ، خلق د مالِک خُدائ خِلاف ګناه کوی چې هغه غوښه خوری چې وینه لا په
کښې ده.“ ساؤل چغه کړه، ”تاسو غدار یئ. دلته یو غټ کاڼے ما له راورغړوئ.“ ۳۴
بیا هغهٔ یو بل حُکم ورکړو، ”خلقو له ورشئ او ټولو ته ووایئ چې خپل څاروی او ګډې
دلته راولی. هغوئ به یې حلال کړی او دلته به یې وخوری، هغوئ دې د مالِک خُدائ
خِلاف داسې ګناه نهٔ کوی چې هغه غوښه وخوری چې وینه لا په کښې وی.“ نو په هغه
شپه هغوئ ټولو خپل څاروی راوستل او هلته یې حلال کړل. ۳۵ ساؤل مالِک خُدائ ته
یوه قربانګاه جوړه کړه، دا ورومبۍ قربانګاه وه چې هغهٔ جوړه کړه. ۳۶ ساؤل خپلو
سړو ته ووئیل، ”راځئ چې لاندې لاړ شُو او په فلستیانو باندې د شپې حمله وکړُو، د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سحر پورې به يې لوټ کړُو او يو کس به هم ژوندے پرې نۀ ږدو.“ هغوئ ورته ووئيل،
”څۀ چې تا ته ښۀ ښکارى نو هم هغسې وکړه.“ خو اِمام ووئيل، ”راځئ چې اول د خُدائ
پاک نه تپوس وکړُو.“ ٣٧ نو ساؤل د خُدائ پاک نه تپوس وکړو، ”په فلستيانو حمله
وکړم څۀ؟ تۀ به مونږ له فتح راکړې؟“ خو خُدائ پاک په هغه ورځ جواب ورنۀ کړو. ٣٨
بيا ساؤل د خلقو مشرانو ته ووئيل، ”دلته راشئ او دا معلومه کړئ چې نن دا ګناه څنګه
شوې ده. ٣٩ زۀ په ژوندى مالِک خُدائ قسم خورم، څوک چې بنى اِسرائيلو له فتح
ورکوى، چې ګناه ګار به ووژلے شى، کۀ هغه زما زوئ يونتن هم وى.“ خو هيچا هيڅ هم
ونۀ وئيل. ٤٠ نو ساؤل هغوئ ته ووئيل، ”تاسو ټول هلته ودرېږئ، زۀ او يونتن به دلته
ودرېږو.“ هغوئ جواب ورکړو، ”څۀ چې درته ښۀ ښکارى نو هم هغه وکړه.“ ٤١ ساؤل
مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک ته ووئيل، ”مالِکه خُدايه، تا نن ما له جواب ولې
رانۀ کړو؟ مالِکه خُدايه، اے د بنى اِسرائيلو خُدايه پاکه، د دې پاکو کاڼو په ذريعه ما له
جواب راکړه. کۀ غلطى زما يا د يونتن وى نو د اُوريم په ذريعه جواب راکړه، خو کۀ دا
ستا د خلقو بنى اِسرائيلو غلطى وى نو د تميم په ذريعه جواب راکړه.“ نو جواب يې
يونتن او ساؤل ؤو او خلق خلاص شول. ٤٢ نو ساؤل خلقو ته وفرمائيل، ”زما او زما
د زوئ يونتن دپاره پچه واچوئ.“ او پچه د يونتن په نوم راووتله. ٤٣ نو ساؤل د يونتن
نه تپوس وکړو، ”تا څۀ کړى دى؟“ يونتن ورته وفرمائيل، ”زما سره چې کومه امسا وه د
هغې سره مې لږ شان شات خوړلى دى نو زۀ د دې په وجه د مرګ حقدار يم؟“ ٤٤
ساؤل هغۀ ته وفرمائيل، ”کۀ تۀ ونۀ وژلے شوې نو خُدائ پاک دې ما ووژنى.“ ٤٥ خو
خلقو ساؤل ته ووئيل، ”يونتن به وژلے شى څۀ، چا چې د بنى اِسرائيلو دپاره لويه فتح
موندلې ده؟ نه، مونږ په ژوندى مالِک خُدائ قسم خورو چې هغه به د هغۀ يو ويښتۀ هم په
زمکه باندې ونۀ غورزوى. هغۀ چې نن څۀ کړى دى هغه يې د خُدائ پاک په مدد سره
کړى دى.“ نو خلقو يونتن د مرګ نه بچ کړو. ٤٦ د هغې نه پس، ساؤل په فلستيانو پسې
نور لا نۀ ړو او هغوئ خپلې علاقې ته لاړل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ساؤل بادشاهۍ او خاندان

۴۷ کله چې ساؤل د بنی اِسرائيلو بادشاه شو، نو هغۀ د خپلو ټولو دشمنانو سره په هر
ځائ کښې جنګ کولو يعنې د موآب خلقو، عمونيانو، ادوميانو، د ضوباه بادشاهانو او
فلستيانو سره. هغۀ چې چرته هم جنګ کولو نو هغه کاميابېدو. ۴۸ هغۀ په بهادرۍ سره
جنګ وکړو او عماليقيانو له يې هم شکست ورکړو. هغۀ بنی اِسرائيليان د دشمن د ټولو
حملو نه بچ کول. ۴۹ يونتن، اِسوی او مُلکی‌شوَع د ساؤل زامن وُو. د هغۀ د مشرې لور
ميرب او د کشرې ميکل نوم وو. ۵۰ د هغۀ ښځه اخينوعم د اخيمعض لور وه، د هغۀ د
لښکر مشر د هغۀ د ترۀ نير زوئ ابنير وو. ۵۱ د ساؤل پلار قيس او د ابنير پلار نير د
ابی‌ايل زامن وُو. ۵۲ چې تر کومې پورې هغه ژوندے وو، نو هغۀ به د فلستيانو خِلاف
ډېر سخت جنګونه کول. نو چې کله هم هغۀ ته يو سړے مِلاوېدو چې مضبوط يا تکړه
وو، نو هغۀ به هغه په خپل لښکر کښې شاملولو.

## د عماليقيانو خِلاف جنګ

**۱۵** ۱ سموئيل ساؤل ته وفرمائيل، "مالِک خُدائ زۀ رالېږلے يم چې تا د هغۀ د
خلقو بنی اِسرائيلو بادشاه جوړ کړم. نو د مالِک خُدائ کلام ته غوږ ونيسه. ۲ دا هغه
څۀ دی چې ربُ الافواج يې فرمائی، چې زۀ به عماليقيانو له سزا ورکړم ځکه چې بنی
اِسرائيليان چې کله د مِصر نه راتلل نو هغوئ ورته لاره نيولې وه. ۳ اوس لاړ شه او په
عماليقيانو حمله وکړه او د هغوئ هر څۀ بېخی تباه کړه. يو څيز هم مۀ پرېږده، سړی،
ښځې، ماشومان او هغه ماشومان چې تے روی ووژنه، غوائی، ګډې، اوښان او خرۀ
هر څۀ ووژنه." ۴ بيا ساؤل خپل لښکر راغونډ کړو او په طلائم کښې يې وشمېرلو.
دوه لاکه بنی اِسرائيل فوجيان وُو او لس زره د يهوداه قبيلې فوجيان وُو. ۵ بيا هغه او
د هغۀ سړی عماليقی ښار ته لاړل او په يو وادۍ کښې يې ورته لاره ونيوله. ۶ هغۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قینیانو له خبردارے ولیږلو چې، ”د عمالیقیانو نه لاړ شئ نو چې داسې زۀ تاسو د هغوئ
سره نۀ تباه کوم، ځکه چې تاسو په هغه وخت کښې په ټولو بنی اِسرائیلو باندې مِهربانه
شوئ کله چې هغوئ د مِصر نه راوتل.“ نو قینیان د عمالیقیانو نه لاړل. ۷ ساؤل
عمالیقیانو له شکست ورکړو، د مِصر نمرخاتۀ طرف ته، د حویله نه تر شور پورې
ورسره وجنګېدل، ۸ هغۀ د عمالیقیانو بادشاه اجاج ژوندے ونیولو او ټول خلق یې
ووژل. ۹ خو ساؤل او د هغۀ سړو د اجاج ژوند بچ کړو او ښې ګډې، څاروی او
څورب سخی او ګډُوری یې ونۀ وژل او داسې نور ښۀ څیزونه یې هم تباه نۀ کړل، هغوئ
صِرف هغه څیزونه تباه کړل چې کمزوری او بېکاره وُو.

## ساؤل بادشاه نامنظوره کېدل

۱۰ بیا د مالِک خُدائ پیغام سموئیل ته راغلو، ۱۱ ”زۀ پښېمانه یم چې ما ساؤل بادشاه
جوړ کړو، هغه زما نه اوړېدلے دے او زما حُکمونه یې نۀ دی منلی.“ سموئیل خفه وو او
ټوله شپه یې مالِک خُدائ ته سوال زاری کوله. ۱۲ په وریسې سحر وختی هغه د ساؤل
لټولو له لاړو. هغه خبر شو چې ساؤل د کرمل ښار ته تلے وو، چرته چې هغۀ د ځان
دپاره یادګاری ستنه جوړه کړه او بیا جِلجال ته لاړو. ۱۳ سموئیل ساؤل له لاړو، ساؤل
ورته په خیر راغلے ووئیل او ورته یې ووئیل، ”سموئیله، مالِک خُدائ دې تا له برکت
درکړی. ما د مالِک خُدائ حُکم منلے دے.“ ۱۴ سموئیل ترې نه تپوس وکړو، ”نو زۀ
ولې د څاروو او ګډو رمباړی اورم؟“ ۱۵ ساؤل جواب ورکړو، ”زما سړو دا د
عمالیقیانو نه اخستی دی. هغوئ ښې ګډې او څاروی ساتلی دی چې مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک ته یې د نذرانې په توګه پیش کړی. او باقی ټول مو ببخی تباه کړی
دی.“ ۱۶ سموئیل حُکم وکړو، ”غلی شئ او غوږ ونیسئ نو زۀ به تاسو ته ووایم چې تېره
شپه ما ته مالِک خُدائ څۀ فرمائیلی دی.“ ساؤل ورته ووئیل، ”ما ته ووایه.“ ۱۷
سموئیل جواب ورکړو، ”اګر چې تا په خپله هم یو ځل خپل ځان وړوکے ګڼلو، خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس تهٔ د بنی اِسرائيلو د قبيلو مشر يې. مالِک خُدائ تهٔ د بنی اِسرائيلو د بادشاه په توګه
مقرر کړې يې، ۱۸ او هغهٔ تهٔ د دې حُکم سره دې مقصد دپاره ليږلے وې چې د
عماليقيانو ګناه ګار خلق تباه کړې. هغهٔ تا ته ووئيل چې تر هغې پورې ورسره جنګ
وکړه چې ټول ووژنې. ۱۹ نو بيا تا د هغهٔ فرمانبرداری ولې ونهٔ وکړه؟ تا په مالِ غنيمت
نيولو کښې تيزی ولې وکړه؟ او د مالِک خُدائ په نظر کښې داسې بد عمل دې ولې
وکړو؟" ۲۰ ساؤل جواب ورکړو، "خو ما د مالِک خُدائ فرمانبرداری کړې ده. زهٔ لاړم
لکه څنګه چې هغهٔ راته فرمائيلی وُو، اجاج بادشاه مې واپس راوستلو او ټول عماليقيان
مې ووژل. ۲۱ خو زما سړو چې کومې ښې ګډې او څاروی نيولی وُو هغه يې ونهٔ وژل،
په ځائ د دې يې هغه دلته جِلجال ته راوستل چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ته يې
د نذرانې په توګه پيش کړی." ۲۲ سموئيل ورته وفرمائيل، "مالِک خُدائ په سوزېدونکو
نذرانو او قربانو باندې زيات خوشحاليږی او يا کهٔ د هغهٔ په خبره منلو باندې
خوشحاليږی؟ بېشکه، تابعداری د قربانۍ نه بهتره ده او د هغهٔ په خبره عمل کول د
ګډانو د وازګې د نذرانې نه بهتر دی. ۲۳ د هغهٔ خِلاف سرکشی د تور جادو په شان
خراب کار دے او غرور د بُت پرستۍ هومره ګناه لری. تا د هغهٔ حُکم نامنظوره کړو نو
ځکه هغهٔ تهٔ د بادشاه په توګه نامنظوره کړې يې." ۲۴ ساؤل جواب ورکړو، "آو، ما
ګناه کړې ده. ما د مالِک خُدائ د حُکم او ستا د لارښودنو نافرمانی کړې ده. زهٔ د خپلو
سړو نه يرېدم او چې هغوئ څهٔ غوښتل نو ما يې خبره منله. ۲۵ خو اوس زهٔ تا ته
سوال کوم چې زما ګناه وبخښه او واپس زما سره لاړ شه، نو چې داسې زهٔ د مالِک
خُدائ عبادت وکړم." ۲۶ سموئيل جواب ورکړو، "زهٔ به تا سره واپس نهٔ ځم. تا د
مالِک خُدائ حُکم نامنظوره کړے دے او تهٔ هغهٔ په بنی اِسرائيلو د بادشاه په توګه
نامنظوره کړے يې." ۲۷ نو سموئيل د تلو دپاره راوګرځېدو، خو ساؤل هغه د چُوغې نه
ونيولو او چُوغه وشلېده. ۲۸ سموئيل هغهٔ ته وفرمائيل، "مالِک خُدائ نن ستا نه د بنی
اِسرائيلو بادشاهی لرې کړې ده او هغه چا له يې ورکړې ده چې هغه ستا نه ښهٔ دے. ۲۹
د بنی اِسرائيلو خُدائ تعالىٰ نهٔ دروغ وائی او نهٔ خپله فيصله بدلوی. هغه د انسان په شان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نۀ دے، هغه خپله فېصله نۀ بدلوی.“ ۳۰ ساؤل جواب ورکړو، ”ما ګناه کړې ده. خو
کم از کم زما د خپلو خلقو د مشرانو او بنی اِسرائيلو په مخکښې زما عزت وکړه. ما
سره واپس لاړ شه نو چې زۀ د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک عبادت وکړم.“ ۳۱ نو
سموئيل د هغۀ سره واپس لاړو او ساؤل د مالِک خُدائ عبادت وکړو. ۳۲ سموئيل
حُکم وکړو، ”د عماليقيانو بادشاه اجاج ما له دلته راولئ.“ اجاج هغۀ له ښۀ زړَور راغلو،
خيال يې دا وو چې بچ به شی. ۳۳ سموئيل ورته وفرمائيل، ”څنګه چې ستا تُورې ډېرې
ميندې بې‌اولاده کړې دی، نو اوس به ستا مور هم بې‌اولاده شی.“ او هغۀ اجاج په جِلجال
کښې د مالِک خُدائ قربان‌ګاه په مخکښې ټوټې ټوټې کړو. ۳۴ بيا سموئيل راما ته لاړو
او ساؤل بادشاه په جبعه کښې خپل کور ته لاړو. ۳۵ چې ترڅو پورې سموئيل ژوندے
وو، نو هغۀ بيا هيڅکله ساؤل ونۀ ليدو، خو سموئيل ورباندې غمژن وو. مالِک خُدائ په
دې پښېمانه وو چې ساؤل يې په بنی اِسرائيلو باندې بادشاه جوړ کړے وو.

## حضرت داؤد د بادشاه په توګه مقرر کېدل

۱۶ ۱ بيا مالِک خُدائ سموئيل ته وفرمائيل، ”تۀ به تر کومې پورې په ساؤل پسې
خفګان کوې؟ هغه ما په بنی اِسرائيلو باندې د بادشاهۍ دپاره نامنظوره کړے دے. نو د
زيتُونو لږ تيل واخله او بيت‌لحم ته لاړ شه هغه سړی له چې نوم يې يَسی دے، ځکه چې
ما د هغۀ د زامنو نه يو کس خوښ کړے دے چې بادشاه شی.“ ۲ سموئيل ترې نه
تپوس وکړو، ”دا زۀ څنګه وکړم؟ کۀ ساؤل د دې نه خبر شی نو هغه به ما ووژنی.“
مالِک خُدائ ورته وفرمائيل، ”تۀ د ځان سره يوه سخۍ بوځه او هلته ووايه چې تۀ هلته
ځکه يې چې مالِک خُدائ ته يوه قربانی پېش کړې. ۳ يَسی قربانۍ له راوغواړه او زۀ
به تا ته ووايم چې څۀ به کوې. زۀ چې کوم سړے درته ښايم نو د نښې په طور به تۀ د
هغۀ سر په تيلو غوړ کړې چې بادشاه جوړ شی.“ ۴ سموئيل هم هغه شان وکړل چې
څۀ ورته مالِک خُدائ فرمائيلی ؤو او بيت‌لحم ته لاړو، هلته د ښار مشران په يره يره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې د هغهٔ سره مِلاوېدو دپاره راغلل او تپوس يې ترې نه وکړو، "د امن په نيت راغلے
يې کهٔ نه؟" ۵ هغهٔ ورته وفرمائيل، "آو، د امن په نيت راغلم، زهٔ راغلم چې مالِک خُدائ
ته يوه قربانى پېش کړم. ځان پاک کړئ او ما سره لاړ شئ." هغهٔ يَسى او د هغهٔ زامنو ته
هم وفرمائيل چې ځان پاک کړئ او هغوئ يې قربانۍ له راوغوښتل. ۶ کله چې هغوئ
ورسېدل، سموئيل د يَسى زوئ اِلياب وليدو او خپل ځان سره يې ووئيل، "دا سړے کوم
چې دلته د مالِک خُدائ په حضور کښې ولاړ دے دا بېشکه هم هغه دے چې کوم مالِک
خُدائ خوښ کړے دے." ۷ خو مالِک خُدائ هغهٔ ته وفرمائيل، "هغه ما نامنظوره
کړے دے نو تهٔ دې ته مهٔ ګوره چې هغه څومره لوړ دے او مهٔ يې ظاهر ته ګوره. ځکه
چې مالِک خُدائ د انسان په شان چا ته نهٔ ګورى. انسان ظاهر ته ګورى او مالِک خُدائ
زړهٔ ته ګورى." ۸ يَسى خپل زوئ ابيناداب راوغوښتو او سموئيل له يې راوستلو. خو
سموئيل ورته وفرمائيل، "نه، مالِک خُدائ دا هم نهٔ دے خوښ کړے." ۹ يَسى بيا
سِمعه راوستلو. نو سموئيل وفرمائيل، "مالِک خُدائ دے هم نهٔ دے خوښ کړے." ۱۰
داسې يَسى اووهٔ زامن سموئيل له راوستل. او سموئيل هغهٔ ته وفرمائيل، "نه، مالِک
خُدائ دا يو هم نهٔ دے خوښ کړے." ۱۱ هغهٔ ترې نه بيا تپوس وکړو، "ستا نور زامن
شته څهٔ؟" يَسى ورته ووئيل، "د ټولو نه کشر پاتې دے، خو هغه بهر د ګډو خيال ساتى."
سموئيل ورته وفرمائيل، "هغه راوغواړه چې دلته راشى. مونږ به تر هغې قربانى نه پېش
کوُو چې هغه راغلے نهٔ وى." ۱۲ نو يَسى هغه راوغوښتو. هغه يو ښائسته او سور سپين
زلمے وو او ښائسته سترګې يې لرلې. مالِک خُدائ سموئيل ته وفرمائيل، "هم دغه يو
دے، سر يې په تېلو غوړ کړه." ۱۳ سموئيل د زيتُونو هغه تېل واخستل چې د ګډ په
ښکر کښې وُو او د داؤد سر يې د هغهٔ د ورونړو په مخکښې غوړ کړو. د مالِک خُدائ روح
ناڅاپه د طاقت سره په داؤد نازل شو او د هغې ورځې نه د هغهٔ سره شو. بيا سموئيل
واپس راما ته لاړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## حضرت داؤد د ساؤل په دربار کښې

۱۴ د مالِک خُدائ روح د ساؤل نه لاړو او د مالِک خُدائ رالیږلے شوی پیری هغه
ونیولو. ۱۵ د هغهٔ نوکرانو هغهٔ ته ووئیل، ”مونږ ته پته ده چې تهٔ د مالِک خُدائ رالیږلے
شوی پیری نیولے یې. ۱۶ نو صاحِبه، مونږ له حُکم راکړه چې مونږ داسې سړے ولټوُو
چې هغه رباب غږولے شی. بیا چې کله هغه پیری په تا راشی، نو هغه سړے به بینجو
وغږوی او تهٔ به ټیک شې.“ ۱۷ ساؤل هغوئ له حُکم ورکړو، ”ما له یو داسې سړے
ولټوئ چې هغه بینجو ښهٔ غږولے شی او ما له یې راولئ.“ ۱۸ یو نوکر یې ووئیل، ”د
بیت‌لحم د ښار، د یَسی یو زوئ دے هغه په موسیقئ کښې ښهٔ ماهِر دے. هغه تکړه او
ښائسته سړے دے، هغه یو ښهٔ فوجی او تقریر کوونکے دے. مالِک خُدائ د هغهٔ مل
دے.“ ۱۹ نو ساؤل یَسی ته پیغام وړُونکی ولیږل چې ورته ووائی، ”ما له ستا زوئ داؤد
راولیږه، کوم چې د ګډو خیال ساتی.“ ۲۰ یَسی، ساؤل ته د چېلئ د یو بچی سره خپل
زوئ داؤد ولیږلو، چې ورسره په روټئ بار کړے خر او یوه د میو ډکه مشکیزه هم وه.
۲۱ داؤد ساؤل له راغلو او د هغهٔ خِدمت یې شروع کړو. د ساؤل هغه ډیر خوښ شو او
هغه یې خپل د وسلې وړونکے سړے جوړ کړو. ۲۲ بیا ساؤل یَسی ته یو پیغام ولیږلو،
”داؤد زما ډیر خوښ دے. هغه پرېږده چې زما خِدمت کوی.“ ۲۳ د هغې وخت نه
واخله چې کله به هم د خُدائ پاک رالیږلے شوے پیرے په ساؤل راتلو، نو داؤد به د
هغهٔ رباب واخستو او وویه یې غږولو او ساؤل به لږ شان ښهٔ شو او ورو ورو به نور هم
ښهٔ کېدو او پیرے به د هغهٔ نه لاړو.

## د حضرت داؤد جولیت وژل

۱۷ ۱ فلستیان د یهوداه په ښار شوکه کښې د جنګ دپاره راغونډ شول، هغوئ د
شوکه او عزیقه په مینځ کښې په یو ځائ کښې کېمپ ولګولو چې نوم یې اِفس‌دمیم وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ ساؤل او د بنی اِسرائيلو لښکر د ايله وادۍ سره راغونډ شُو او د فلستيانو خِلاف يې
صفونه جوړ کړل. ۳ فلستيان په يو غر باندې ودرېدل او بنی اِسرائيليان په بل غر
باندې ورته مخامخ ودرېدل، چې د دوئ په مينځ کښې وادی وه. ۴ بيا د فلستيانو د
خېمو نه يو تکړه سړے راووتلو، هغه سړے د جات وو او نوم يې جوليت وو. هغه د
درېو گزو نه لوړ وو. ۵ د هغۀ په سر د زېړو جنگی ټوپۍ وه او د زېړو فوجی زغره يې
اغوستې وه چې درې کم شپېتۀ کيلو وه. ۶ د هغۀ پتُونونه هم د زېړو په زغره باندې پټ
وُو او د زېړو نېزه د هغۀ په اوږه باندې ځوړنده وه. ۷ د هغۀ نېزه د کوټې د تير هومره
لويه وه. او د دې د اوسپنې سر تقريباً اووۀ کلو وو. د هغۀ ډال به هغه فوجی وړلو چې د
هغۀ نه مخکښې به روان وو. ۸ جوليت ودرېدو او د بنی اِسرائيلو لښکر ته يې چغه
وکړه چې، ”تاسو هلته څۀ کوئ، د جنگ دپاره مو صفونه ولې جوړ کړی دی؟ زۀ
فلستے نۀ يم او تاسو د ساؤل نوکران نۀ يئ؟ يو سړے خوښ کړئ چې دلته راشی او
زما سره جنگ وکړی. ۹ کۀ هغه زما سره جنگ کولے شی او ما ووژنی، نو مونږ به
ستاسو غلامان يُو، خو کۀ زۀ يې وګټم او هغه ووژنم، نو تاسو به زمونږ غلامان يئ. ۱۰
زۀ وايم چې نن د بنی اِسرائيلو په لښکر کښې داسې څوک شته چې زما سره جنگ
وکړی ما له داسې سړے راکړئ چې مونږ دواړه جنگ وکړُو.“ ۱۱ کله چې ساؤل او د
هغۀ سړو دا واورېدل، نو هغوئ زړونه بائيلل او سخت وېرېدل.

## د حضرت داؤد ساؤل سره مِلاوېدل

۱۲ نو داؤد د يَسی زوئ وو، چې هغه په يهوداه کښې د بيت‌لحم افراتے وو. د يَسی اتۀ
زامن وُو او په هغه وخت کښې چې ساؤل بادشاه وو، هغه يو بوډا سړے وو. ۱۳ د هغۀ
درې مشران زامن د ساؤل سره جنگ له تلی وُو. د ټولو مشر اِلياب وو، وريپسې ابيناداب
وو او دريم سِمعه وو. ۱۴ داؤد يې د ټولو کشر زوئ وو، خو هغه درې مشران ورونړه يې
د ساؤل سره کېمپ کښې پاتې کېدل، ۱۵ داؤد به وخت په وخت بيت‌لحم ته تلو راتلو،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د خپل پلار د ګډو خیال وساتی. ١٦ جولیت ځلوېښت ورځې هر سحر او ماښام
بنی اِسرائیلو ته وئیل چې ما سره جنګ وکړئ. ١٧ یوه ورځ یَسی داؤد ته ووئیل، ”دا
لس کلو وریتې دانې او لس روټۍ واخله او زر زر یې کېمپ ته خپلو وروڼو له یوسه. ١٨
او دا لس پنیر مشر آفسر له یوسه. دا معلوم کړه چې ستا وروڼه څنګه دی او چې داسې
څۀ نښه راوړې چې د هغې نه دا ښکاره شی چې تا هغوئ ولیدل او هغوئ ښۀ دی. ١٩
ساؤل بادشاه، ستا وروڼه او نور ټول بنی اِسرائیلیان د ایله په وادۍ کښې دی او د
فلستیانو سره جنګ کوی.“ ٢٠ داؤد په وریسې سحر وختی پاڅېدو، بل څوک یې د ګډو
ذمه وار پرېښودو، خوراک یې واخستلو او چې څنګه ورته یَسی وئیلی وُو نو هم هغسې
لاړو. هغه هم په هغه وخت کېمپ ته ورسېدو چې بنی اِسرائیلیان د جنګ دپاره صفونو
جوړولو له روان وُو او د جنګ چغې یې وهلې. ٢١ فلستی او بنی اِسرائیلی لښکرو یو بل
ته مخامخ د جنګ دپاره صفونه جوړ کړل. ٢٢ داؤد خوراک د سامان وړُونکی ذمه وار
کس سره پرېښودو، د جنګ مېدان ته یې منډه کړه، خپلو وروڼو له ورَغلو او سلام یې
وربانددې واچولو. ٢٣ کله چې هغۀ د هغوئ سره خبرې کولې، نو هغه فلستيے پهلوان
جولیت چې د جات وو، د فلستی لښکر نه راووتلو او د مخکښې په شان یې خپله جنګی
چغه یې ووهله او دا چغه داؤد واورېدله. ٢٤ کله چې بنی اِسرائیلو جولیت ولیدو، نو
هغوئ د یرې نه منډه کړه. ٢٥ هغوئ یو بل ته ووئیل، ”هغۀ ته ګورئ. هغۀ ته غوږ ونیسئ
چې هغه وائی چې زما سره جنګ وکړئ. ساؤل بادشاه دا وعده کړې ده چې څوک دے
ووژنی نو هغۀ له به یو لوئ اِنعام ورکړی، بادشاه به هغه کس له خپله لور هم ورکوی او
د هغۀ خاندان به د محصُول ورکولو نه آزاده وی.“ ٢٦ داؤد د هغه سړو نه تپوس وکړو
چې کوم د هغۀ سره نزدې وُو، ”هغه سړی ته به څۀ مِلاو شی چې څوک دا فلستيے
ووژنی او بنی اِسرائیلیان د دې بې‌عزتۍ نه خلاص کړی؟ ځکه چې دا ناسنته فلستيے
څوک دے چې د ژوندی خُدائ پاک لښکر ته وائی چې زما سره جنګ وکړئ؟“ ٢٧ نو
هغوئ ورته ووئیل چې څوک جولیت ووژنی نو د هغۀ دپاره به دا اِنعام وی. ٢٨ د داؤد
مشر ورور اِلیاب د داؤد خبرې واورېدلې چې د سړو سره یې کولې. هغه داؤد ته سخت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غصه شو او ورته یې ووئیل، "ته دلته څۀ کوې؟ ستا د ګډو خیال څوک ساتی چې کومې
په بیابان کښې دی؟ ما ته پته ده چې ته څومره مغروره یې او ستا په زړۀ کښې څومره
فساد دے. ته صِرف د جنګ لیدو له راغلے یې." ۲۹ داؤد تپوس وکړو، "نو اوس ما
څۀ غلطی وکړه؟ زۀ یو تپوس هم نۀ شم کولے څۀ؟" ۳۰ هغه د هغۀ نه یو بل سړی ته
راوګرځېدو او هم دغه تپوس یې ترې نه وکړو او چې هر ځل یې کولو، نو هم دغه جواب
ورته مِلاوېدو. ۳۱ کله چې هغه خبرې واورېدلے شوې چې کومې داؤد کړې وې، نو
هغه سړو دا خبرې د ساؤل په مخکښې هم وکړې، نو داؤد یې راوغوښتلو. ۳۲ داؤد
ساؤل ته وفرمائیل، "هیڅ څوک هم دې د هغه فلستی په وجه زړۀ نۀ غورزوی، ستا
خِدمت کوونکے به لاړ شی او د دې فلستی سره به جنګ وکړی." ۳۳ ساؤل داؤد ته
ووئیل، "ته به د هغۀ سره څنګه وجنګېږې؟ ځکه چې ته هلک یې او هغه د ټول عُمر فوجی
دے." ۳۴ خو داؤد ساؤل ته وفرمائیل، "ستا خِدمت کوونکے د خپل پلار د ګډو خیال
ساتی. کله هم چې یو زمرے یا مېلو د رَمې نه یو ګډُورے وتښتوی، ۳۵ نو زۀ ورپسې
ځم، حمله پرې کوم او د هغۀ د خولې نه یې بچ کوم او کۀ هغه ځناور په ما باندې حمله
کوی نو د ژامنې نه یې ونیسم، وې وهم او وې وژنم. ۳۶ ستا خِدمت کوونکی ازمری او
مېلوګان دواړه وژلی دی او زۀ به د دې ناسنته فلستی سره هم دغه شان وکړم، کوم چې
د ژوندی خُدائ پاک د لښکر مخالفت کړے دے. ۳۷ مالِک خُدائ زۀ د ازمری د پنجې
نه او د مېلو د پنجې نه بچ کړے یم، او هغه به مې د دې فلستی د لاس نه هم بچ کړی." نو
ساؤل داؤد ته ووئیل، "ځه، مالِک خُدائ دې مل شه." ۳۸ بیا ساؤل داؤد له خپل جنګی
لِباس ورکړو، د زیړو جنګی ټوپی، کومه یې چې د داؤد په سر کېښوده او یوه زغره یې
هم ورکړه. ۳۹ داؤد د ساؤل تُوره په خپلې زغرې پورې وتړله او د روانېدو کوشش یې
وکړو، خو هغه نۀ شو تلے، ځکه چې هغۀ دا څیزونه نۀ اغوستل. هغۀ ساؤل ته وفرمائیل،
"د دې څیزونو سره زۀ جنګ نۀ شم کولے. زۀ د دې سره عادت نۀ یم." نو هغه یې لرې
کړل. ۴۰ هغۀ په لاس کښې خپله امسا واخستله او بیا د ولې پینځۀ هوار کاڼی یې خوښ
کړل او په خپله بوجۍ کښې یې واچول. لینده یې په لاس کښې وه او هغه فلستی له

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورَغلو.

## د حضرت داؤد جوليت له شکست ورکول

۴۱ هغه فلستيے د داؤد طرف ته روان شو، د هغهٔ ډال وړونکے د هغهٔ نه مخکښې روان
وو. هغه نور هم ورنزدې کېدو، ۴۲ او کله چې هغه داؤد له ښهٔ ورنزدې شو، نو هغهٔ
پورې ورله خندا ورغله ځکه چې هغه سور سپين او ښائسته هلک وو. ۴۳ هغهٔ داؤد ته
ووئيل، "زهٔ سپے يم څهٔ، چې تهٔ په ما پسې د امسا سره راغلې؟" او هغهٔ داؤد باندې د
خپلو معبودانو لعنت وئيلو. ۴۴ هغهٔ داؤد ته ووئيل، "راشه. چې زهٔ ستا غوښه مارغانو
او ځنګلی ځناورو له ورکړم چې وې خوری." ۴۵ داؤد جواب ورکړو، "تهٔ ما له د
تُورې، نېزې او وړې نېزې سره راروان يې، خو زهٔ ستا خِلاف د ربُ الافواج د نوم سره
درځم، چې د بنی اِسرائيلو د لښکر خُدائ پاک دے، چې تا د هغهٔ مخالفت کړے دے.
۴۶ دا هغه ورځ ده چې مالِک خُدائ به دې ما له په لاس کښې راکړی، زهٔ به تا له
شکست درکړم او سر به درنه وغوززوم. او زهٔ به د فلستی فوجيانو لاشونه مارغانو او
ځناورو ته واچوم چې وې خوری. نو چې ټولې دُنيا ته پته ولګی چې د بنی اِسرائيلو
خُدائ پاک شته، ۴۷ او دلته به هر چا ته پته ولګی چې مالِک خُدائ ته د خپلو خلقو بچ
کولو دپاره د تُورو او وړو نېزو ضرورت نشته. ځکه چې دا د مالِک خُدائ جنګ دے او
هغه به تاسو ټول مونږ ته حواله کړی." ۴۸ جوليت د داؤد طرف ته يو ځل بيا روان شو
او داؤد زر زر د فلستيانو د جنګ صفونو ته ورمنډه کړه چې د هغهٔ سره مِلاو شی. ۴۹
هغهٔ خپلې بوجۍ ته لاس وردننه کړو او يو کاڼے يې ترې نه راوويستو، په لينده يې
جوليت په سر باندې وويشتو. کاڼے د هغهٔ په تندی کښې وردننه شو او هغه پړمخې په
زمکه راپرېوتو. ۵۰ نو داسې داؤد بغير د تُورې نه، د يوې لينديې او يو کاڼی سره جوليت
له شکست ورکړو او وې وژلو. ۵۱ داؤد هغهٔ له ورمنډه کړه، دپاسه پرې ودرېدو، د
جوليت تُوره يې د کاش نه راوُويسته، سر يې ترې نه پرې کړو او هغه يې مړ کړو. کله
چې فلستيانو وليدل چې د هغوئ پهلوان مړ شو، نو هغوئ منډه کړه. ۵۲ د اِسرائيل او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهوداه سړو چغې وهلې او په هغوئ پسې یې منډې وهلې، د جات او عقرون د دروازو
پورې ورپسې وُو. فلستی زخمیان تر جات او عقرون پورې په هغه لاره غورزېدل چې
کومه شعریم ته ځی. ۵۳ کله چې بنی اِسرائیل په فلستیانو پسې نور نۀ تلل او ترې نه
راواپس شول، نو د هغوئ خېمې یې لوټ کړې. ۵۴ داؤد د جولیت سر واخستو او
یروشلم ته یې یوړو، خو هغۀ د جولیت وسله په خپله خېمه کښې کېښوده.

## د داؤد ساؤل ته پېش کېدل

۵۵ کله چې ساؤل ولیدل چې داؤد د جولیت سره جنګ له روان دے، نو هغۀ د ابنیر نه
تپوس وکړو، چې کوم یې د خپل لښکر مشر وو، ”ابنیره، دا د چا زوئ دے؟“ ابنیر ورته
ووئیل، ”بادشاه سلامت، ما ته هیڅ پته نشته.“ ۵۶ نو ساؤل حُکم ورکړو، ”لاړ شه او
معلوم یې کړه.“ ۵۷ کله چې داؤد د جولیت وژلو نه پس خېمو ته راواپس شو، نو ابنیر
هغه ساؤل له بوتلو. داؤد د جولیت سر په لاس کښې روان کړے وو. ۵۸ ساؤل ترې نه
تپوس وکړو، ”زلمیه، تۀ د چا زوئ یې؟“ داؤد ورته وفرمائیل، ”زۀ د بیت‌لحم نه ستا د
خِدمت کوونکی یَسی زوئ یم.“

## د حضرت داؤد او یونتن دوستی

۱۸ ۱ کله چې داؤد خبرې ختمې کړې نو هغه د بادشاه زوئ یونتن سره مِلاو شو.
هغه د داؤد خوږ دوست جوړ شو او د هغۀ سره یې د خپل ځان په شان مینه کوله. ۲
ساؤل هم د هغه ورځې نه داؤد ځان سره وساتلو او هغه یې د پلار کور ته نۀ پرېښودو.
۳ یونتن داؤد له د دوستۍ پوخ لاس ورکړو ځکه چې د هغۀ سره یې د خپل ځان په
شان مینه لرله. ۴ هغۀ چې کومه چُوغه اغوستله هغه یې وویستله او داؤد له یې
ورکړه، خپله زغره، تُوره، لینده او خپله پټۍ یې هم ورکړه. ۵ ساؤل به چې داؤد په هر
کار پسې هم ولېږلو، نو هغه به یې په ښۀ طریقه سر ته رسولو. نو ساؤل هغه په خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لښکر کښې آفسر جوړ کړو. په دې باندې د ساؤل ټول آفسران او سړی خوشحاله شول.

## د ساؤل حضرت داؤد سره کينه پېدا کېدل

۶ کله چې داؤد د جوليت د وژلو نه پس واپس راتلو او فوجيان کورونو ته واپس
راروان ؤو، نو د بنی اِسرائيلو هر ښار نه د ساؤل بادشاه سره مِلاوېدو دپاره ښځې بهر
راووتلې. هغوئ د خوشحالئ سندرې وئيلې، ګډېدې او بينجو او تمبل يې غږول. ۷ په
سندرو کښې ښځو وئيل، ”ساؤل زرګونه وژلی دی، خو داؤد يو په لس د هغې نه زيات
وژلی دی.“ ۸ ساؤل په دې خفه شو او سخت غصه شو. هغهٔ ووئيل، ”هغوئ د داؤد
دپاره د لسو زرګونو دعویٰ کړې ده، خو زما دپاره صِرف د زرګونو دعویٰ، هغوئ به بيا
داؤد بادشاه کړی.“ ۹ نو د هغه ورځې نه هغهٔ داؤد ته د شک په نظر کتل شروع کړل.
۱۰ په وربسې ورځ د خُدائ پاک د طرف نه يو پېری ساؤل ناڅاپه ونيولو، نو هغهٔ په
خپل کور کښې د ليونی په شان چغې وهلې. داؤد بينجو غږوله لکه چې هغهٔ به هره ورځ
غږوله او ساؤل نيزه په لاس کښې نيولې وه. ۱۱ ساؤل د ځان سره ووئيل، ”زهٔ به هغه د
دېوال سره ونښلوم او هغهٔ دوه ځلې نيزه ورګزار کړه، خو داؤد هر ځل ځان بچ کولو.“
۱۲ ساؤل د داؤد نه يرېدو ځکه چې هغه مالِک خُدائ پرېښے وو او د داؤد مل وو. ۱۳
نو ساؤل هغه د ځان نه لرې کړو او د زرو سړو مشر يې جوړ کړو. داؤد په جنګ کښې
د سړو مشری کوله ۱۴ او هغه په هر کار کښې کاميابېدو، ځکه چې مالِک خُدائ د هغهٔ
مل وو. ۱۵ ساؤل د داؤد کاميابی وليده او نور هم ترې ويرېدو. ۱۶ خو په اِسرائيل او
يهوداه کښې هر يو کس د داؤد سره مينه کوله ځکه چې هغه يو ښهٔ مشر وو.

## د حضرت داؤد د ساؤل لور وادهٔ کول

۱۷ بيا ساؤل داؤد ته ووئيل، ”دا زما مشره لور ميرب ده. دا به زهٔ تا ته په دې شرط
وادهٔ کړم چې تهٔ به د يو تکړه او وفادار فوجی په شان زما خِدمت کوې او د مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ جنګونه به کوي.“ د ساؤل خيال دا وو چې داؤد به پخپله لاس نۀ وژنی بلکې په
فلستيانو باندې به يې ووژنی. ١٨ داؤد ورته وفرمائيل، ”زۀ څوک يم او زما د خاندان څۀ
حيثيت دے چې زۀ د بادشاه زوم جوړ شم؟“ ١٩ خو چې کله هغه وخت راغلو چې
ميرب داؤد له ورکړی، نو هغه يې يو بل محولاتی سړی له ورکړه چې نوم يې عدری‌ايل
وو. ٢٠ خو د ساؤل لور ميکل په داؤد مئينه شوه او کله چې ساؤل ترې نه خبر شو نو
هغه خوشحاله شو. ٢١ هغۀ د ځان سره ووئيل، ”زۀ به ميکل داؤد له ورکړم، زۀ هغۀ له
دا د دې دپاره ورکوم چې د هغۀ دپاره يو دام جوړ شی او فلستيان يې ووژنی.“ نو ساؤل
په دوېم ځل داؤد ته ووئيل، ”تۀ به زما زوم شې.“ ٢٢ هغۀ خپلو آفسرانو ته حُکم وکړو
چې د داؤد سره په پرده کښې خبرې وکړی او ورته ووائی، ”بادشاه ستا نه خوشحاله
دے او د هغۀ ټول آفسران تا خوښوی، دا ستا دپاره يو ښۀ وخت دے چې د هغۀ لور
وادۀ کړې.“ ٢٣ نو هغوئ داؤد ته ووئيل او هغۀ جواب ورکړو، ”د بادشاه زوم جوړېدل
دا يوه لويه د عزت خبره ده، دا زما په شان غريب او کمزوری کس دپاره ډېره لويه
خبره ده.“ ٢٤ چې داؤد څۀ فرمائيلی وُو آفسرانو هغه ساؤل ته ووئيل، ٢٥ او ساؤل
هغوئ له حُکم ورکړو چې داؤد ته ووايئ، ”بادشاه ستا نه د ناوې دا قيمت غواړی چې تۀ
صِرف د سلو وژلو شوو فلستيانو سړو د سنتېدو څرمن راوړې، دا به د هغۀ د دشمنانو
نه بدل اخستل وی.“ (نو دا د ساؤل منصوبه وه چې فلستيان داؤد ووژنی.) ٢٦ د ساؤل
آفسرانو داؤد ته هغه څۀ ووئيل چې څۀ ساؤل فرمائيلی وُو او داؤد په دې خوشحاله وو
چې د بادشاه زوم به جوړ شی. د وادۀ د ورځې مقررېدو نه مخکښې، ٢٧ داؤد او د هغۀ
سړی لاړل او دوه سوه فلستيان يې ووژل. هغۀ د هغوئ د سنتېدو څرمن راوړه او ټول په
شمېر کښې پوره وُو، د دې دپاره چې زوم يې جوړ شی. نو ساؤل خپله لور داؤد له
ورکړه چې وادۀ يې کړی. ٢٨ ساؤل ته صفا پته ولګېده چې مالِک خُدائ د داؤد مل
دے او دا چې د هغۀ لور ميکل هم ورسره مينه کوی. ٢٩ نو هغه د داؤد نه نور هم
وېرېدو او چې ترڅو پورې ژوندے وو نو هغه يې دشمن وو. ٣٠ د فلستيانو لښکرې به
راتلې او جنګ به يې کولو او داؤد به د ساؤل د نورو آفسرانو نه په جنګ کښې زيات

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کامیاب وو. نو په دې وجه داؤد ښهٔ مشهور شو.

## د ساؤل د داؤد د قتلولو کوشش کول

١٩ ١ بیا ساؤل خپل زوئ یونتن او خپلو ټولو درباریانو ته ووئیل چې ما د داؤد د
قتلولو منصوبه جوړه کړې ده خو یونتن د داؤد نه ډېر خوشحاله وو، ٢ نو یونتن داؤد
ته ووئیل، ”زما پلار تا قتل کول غواړی. نو مِهربانی وکړه چې سبا سحر د ځان حِفاظت
وکړه، په یو محفوظ ځائ کښې پټ شه او هلته ایسار شه. ٣ چې په کوم پټی کښې تهٔ
پټ یې نو زهٔ به هلته لاړ شم او د خپل پلار سره به ودرېږم او زهٔ به د هغهٔ سره ستا په
حقله خبره وکړم. کهٔ ما ته د څهٔ پته ولګی نو زهٔ به تا خبر کړم.“ ٤ یونتن ساؤل ته د
داؤد صِفت وکړو او ورته یې ووئیل، ”بادشاه سلامت دې د خپل خِدمت کوونکی داؤد
خِلاف غلط کار نهٔ کوی. هغهٔ تا ته هیڅ نقصان نهٔ دے رسولے. هغهٔ چې ستا څهٔ مدد هم
کولے شو نو هغهٔ هغه تل کړے دے. ٥ کله چې هغهٔ جولیت وژلو نو هغهٔ خپل ژوند
په خطره کښې واچولو او مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو دپاره یوه لویه فتح وموندله. کله
چې تا هغه فتح ولیده نو تهٔ خوشحاله شوې. نو بیا تهٔ ولې د یو بېګناه سړی سره بد کوې
او بغېر د څهٔ وجې داؤد وژنې؟“ ٦ نو ساؤل د یونتن خبره ومنله او د ژوندی مالِک
خُدائ په نوم یې قسم وکړو چې داؤد به نهٔ وژنی. ٧ نو یونتن داؤد راوغوښتو او هر څهٔ
یې ورته ووئیل، بیا یې هغه ساؤل له بوتلو او داؤد د مخکښې په شان په دربار کښې
خِدمت کولو. ٨ د فلستیانو سره بیا جنګ شروع شو. داؤد په هغوئ باندې د دومره
لوئ طاقت سره حمله وکړه چې هغوئ وتښتېدل. ٩ یوه ورځ د مالِک خُدائ رالېږلے
شوی پیری ساؤل ونیولو. هغه په خپل کور کښې ناست وو او نیزه یې په لاس کښې وه او
داؤد هلته خپله بینجو غږوله. ١٠ ساؤل کوشش وکړو چې داؤد د نیزې په سر باندې د
دیوال سره ونښلوی، خو داؤد د هغه ځائ نه ټوپ کړل او نیزه په دیوال کښې ونښتله. په
هغه شپه داؤد منډه کړه او وتښتېدو. ١١ بیا ساؤل یو څو سړی ولېږل چې د داؤد کور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولټوی او په وريسې سحر يې ووژنی. د داؤد ښځې ميکل هغهٔ له خبردارے ورکړو او
ورته يې ووئيل، "کهٔ تهٔ نن شپه لا نهٔ رې نو سبا به مړ يې." ۱۲ هغې د يوې کړکۍ نه هغه
کوز کړو او هغه په منډه منډه وتښتېدو. ۱۳ بيا هغې د کور هغه بُت واخستو، په کټ
کښې يې واچولو، د دې په سر يې د چېلو وړۍ واچولې او په يوه کپړه باندې يې پټ کړو.
۱۴ کله چې د ساؤل سړی د داؤد په بوتلو پسې راغلل، نو ميکل هغوئ ته ووئيل چې هغه
بيمار دے. ۱۵ خو ساؤل هغوئ ورولېږل چې داؤد راولی. هغهٔ هغوئ له حُکم ورکړو
چې، "هغه په خپل کټ کښې دلته راوړئ، چې وې وژنم." ۱۶ هغوئ دننه لاړل او په کټ
کښې يې هغه د کور والا بُت وليدو چې په سر باندې يې د چېلو وړۍ وې. ۱۷ ساؤل د
ميکل نه تپوس وکړو، "تا زما سره داسې دوکه ولې وکړه او زما دشمن سره دې په
تښتېدو کښې مدد ولې وکړو؟" هغې ورته په جواب کښې ووئيل، "هغهٔ ما ته ووئيل چې
کهٔ په تښتېدو کښې مې د هغهٔ مدد ونهٔ کړو نو هغه به مې ووژنی." ۱۸ نو داؤد وتښتېدو
او په راما کښې سموئيل له لاړو او هغه هر څهٔ يې ورته وفرمائيل چې ساؤل ورسره کړی
وُو. بيا هغه د سموئيل سره نَيوت ته لاړو او دواړه هلته ايسار شول. ۱۹ ساؤل خبر شو
چې داؤد په راما کښې په نَيوت کښې دے، ۲۰ نو هغهٔ يو څو سړی ورولېږل چې وې
نيسی. نو هغوئ وليدل چې د پېغمبرانو يوې قبيلې پېغام ورکولو چې د خپل مشر سموئيل
سره ولاړ وُو. بيا د خُدائ پاک روح د ساؤل سړی ونيول او هغوئ هم پېغام ورکول
شروع کړل. ۲۱ کله چې ساؤل د دې نه خبر شو، نو هغهٔ نور پېغام وړُونکی ورولېږل او
هغوئ هم پېشګوئې ورکوله. هغهٔ په درېم ځل پېغام وړُونکی ولېږل او بيا د هغوئ سره هم
هغه شان وشول. ۲۲ بيا هغه په خپله راما ته روان شو. کله چې هغه په سيکو کښې لوئ
کوهی ته راغلو او هغهٔ تپوس وکړو چې سموئيل او داؤد چرته دی نو ورته ووئيلے شول
چې هغوئ په نَيوت کښې دی. ۲۳ چې کله هغه هلته روان وو، نو د خُدائ پاک روح هغه
هم ونيولو او هغهٔ تر نَيوت پورې په ټوله لار کښې پېشګوئې ورکوله. ۲۴ هغهٔ خپلې جامې
وويستلې او د سموئيل په مخکښې يې پېشګوئې ورکول شروع کړل او په هغه ټوله ورځ او
ټوله شپه برېنډ پروت وو. (نو دا ځکه دا متل شروع شو، "ساؤل پېغمبر جوړ شوے دے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څهٔ؟“)

## د یونتن د حضرت داؤد سره مدد کول

۲۰ ۱ بیا داؤد په راما کښې د نَیوت نه وتښتېدو او یونتن له لاړو. داؤد ترې نه تپوس
وکړو، ”ما څهٔ کړی دی، ما څهٔ جرم کړے دے؟ ما ستا پلار سره څهٔ بد کړی دی چې
هغه ما وژنی؟“ ۲ یونتن ورته ووئیل، ”خُدائ دې نهٔ کړی چې تهٔ مړ شې. زما پلار چې
څهٔ هم کوی نو هغه ما ته وائی، هغه وړه او غټه یوه خبره هم زما نه نهٔ پټوی. داسې نهٔ
شی کېدے چې هغه تا ووژنی.“ ۳ خو داؤد ورته وفرمائیل، ”ستا پلار ته پته ده چې زهٔ
ستا خومره خوښ یم او هغهٔ دا فیصله کړې ده چې هغه څهٔ کول غواړی نو د هغې نه به
دې نهٔ خبروی، ځکه چې تهٔ به سخت خفه شې. زهٔ په ژوندی مالِک خُدائ تا ته قسم کوم
چې زهٔ مرګ ِ حال یم.“ ۴ یونتن ورته ووئیل، ”تهٔ چې څهٔ هم غواړې نو زهٔ به یې کوم.“
۵ داؤد ورته وفرمائیل، ”سبا د نوې میاشتې اختر دے او ما له په کار دی چې د
بادشاه سره روټئ وخورم. خو کهٔ ستا خوښه وی، نو زهٔ به سبا نه بل سبا ماښام پورې
په پټو کښې پټ شم. ۶ خو کهٔ ستا پلار ته پته ولګی چې زهٔ موجود نهٔ یم، نو هغهٔ ته
ووایه چې ما ستا نه اجازت وغوښتو چې زر زر په بیت‌لحم کښې کور ته لاړ شم، ځکه
چې زما د ټولې خاندان دپاره دا د کلنی قربانئ وخت دے. ۷ کهٔ هغه ووائی چې ټیک
ده، نو زهٔ به بچ شم، خو کهٔ هغه غصه شی، نو تا ته به پته ولګی چې هغه ما ته د نقصان
رسولو اراده لری. ۸ مِهربانی وکړه او دا نیکی ما سره وکړه او چې تا د مالِک خُدائ
په نوم ما سره کوم تړون کړے دے نو هغه پوره کړه. خو کهٔ زهٔ ګناهګار یم، نو ما په
خپله ووژنه. ما ستا پلار له ولې بوځې چې ومې وژنی؟“ ۹ یونتن ورته ووئیل، ”داسې
خیال مهٔ کوه، کهٔ په رښتیا سره ما ته دا پته وے چې زما پلار تا ته د نقصان رسولو
اراده لری، نو ما به تا ته نهٔ وئیل څهٔ؟“ ۱۰ نو داؤد ترې نه تپوس وکړو، ”تا له چې پلار
په غصه کښې جواب درکړی نو ما ته به څنګه پته ولګی؟“ ۱۱ یونتن ورته ووئیل، ”راځه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې پټو ته لاړ شُو.“ نو هغوئ لاړل، ۱۲ او يونتن داؤد ته ووئيل، ”مالِک خُدائ د بنى
اِسرائيلو خُدائ پاک دې زمونږ گواه وى چې سبا يا بل سبا دا وخت به زۀ د خپل پلار نه
تپوس وکړم. کۀ د هغۀ اراده ستا دپاره ښۀ وى نو زۀ به تا خبر کړم. ۱۳ خو کۀ هغه تا
ته د نقصان رسولو اراده لرى، نو مالِک خُدائ دې ما ووژنى کۀ ما تۀ خبر نۀ کړې او بچ
مې نۀ کړې. مالِک خُدائ دې ستا مل وى لکه څنګه چې هغه زما د پلار مل وو. ۱۴ او
کۀ زۀ ژوندے پاتې شوم، نو مِهربانى وکړه او خپله مقدسه وعده پوره کړه او زما وفادار
اوسه، خو کۀ زۀ مړ شوم، ۱۵ نو زما د خاندان سره هم د همېشه دپاره وفادار اوسه. او
چې کله مالِک خُدائ ستا ټول دشمنان د زمکې د مخ نه ورک کړى، ۱۶ نو زمونږ د يو
بل سره وعده دې بيا هم نۀ ماتيږى. کۀ دا ماته شى، نو مالِک خُدائ به تا له سزا
درکړى.“ ۱۷ يونتن د داؤد نه يو ځل بيا وعده واخستله چې د هغۀ سره به مينه کوې،
ځکه چې يونتن د داؤد سره د خپل ځان په شان مينه کوله. ۱۸ بيا يونتن هغۀ ته ووئيل،
”سبا د نوې مياشتې اختر دے، کۀ تۀ د روټۍ په دسترخوان باندې نۀ يې نو پته به ولګى.
۱۹ سبا نه بل سبا هغه ځائ ته لاړ شه چرته چې تۀ مخکښې پټ شوے وې او د ګټ
سره اِنتظار وکړه. ۲۰ بيا به زۀ هغه ګټ په درېو غشو باندې وولم چې دا ګنې نښه ده.
۲۱ بيا به زۀ خپل نوکر ته ووايم چې لاړ شه او غشى وګوره. او کۀ زۀ هغۀ ته ووايم چې
ګوره، غشى ستا دې طرف ته دى، راوايخله، نو د دې مطلب به دا وى چې تۀ بچ يې او
بهر راشه. زۀ په ژوندى مالِک خُدائ قسم خورم چې تا ته به هيڅ خطره نۀ وى. ۲۲ خو
کۀ زۀ هغۀ ته ووايم چې وړاندې لاړ شه غشى ستا نه مخکښې دى، نو مطلب به دا وى
چې ځان وباسه، ځکه چې مالِک خُدائ تا لېږى. ۲۳ د هغې دپاره چې مونږ د يو بل
سره وعده کړې ده، نو مالِک خُدائ دې وکړى چې دا وعده مونږ د همېشه دپاره پوره
کړُو.“ ۲۴ نو داؤد په پټو کښې پټ شو. او د نوې مياشتې په اختر باندې ساؤل بادشاه
روټۍ له راغلو. ۲۵ او د دېوال سره په خپل ځائ باندې کښېناستو. ابنير ورسره
کښېناستو او يونتن ورته مخامخ کښېناستو. او د داؤد ځائ خالى وو، ۲۶ خو ساؤل په
هغه ورځ باندې هيڅ هم ونۀ وئيل، ځکه چې د هغۀ خيال دا وو چې هغه د څۀ وجې نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پلیت شوے دے او هغه بېشکه ناپاک دے. ۲۷ په بله ورځ، د نوې میاشتې اختر پسې
ورځ باندې، د داؤد ځائ بیا هم خالی وو او ساؤل د یونتن نه تپوس وکړو، "داؤد ولې نۀ
پرون روټۍ له راغلے وو او نۀ نن راغلو؟" ۲۸ یونتن جواب ورکړو، "هغۀ ما ته سوال
وکړو چې هغه پرېږدم چې بیت‌لحم ته لاړ شی. ۲۹ هغۀ ووئیل چې مِهربانی وکړه او ما
پرېږده چې لاړ شم ځکه چې زمونږ خاندان په ښار کښې قربانی کوی او ورور مې حُکم
راکړو چې هلته موجود شه. کۀ تۀ زما نه خوشحال یې نو ما پرېږده چې زما خپلوان
وګورم. نو دا وجه ده چې هغه ستا په دسترخوان باندې په خپل ځائ باندې نشته." ۳۰
ساؤل یونتن ته سخت غصه وو او ورته یې ووئیل، "تۀ د یوې سرکشې او بې‌وفا ښځې
زوئ یې. اوس ما ته دا پته ده چې تۀ د داؤد ملګرتیا کوې او د خپلې مور او د خپل ځان
بې‌عزتی کوې. ۳۱ تا ته دا پته نۀ لګی څۀ چې تر کومې پورې داؤد ژوندے وی، نو تۀ به
هیڅکله د دې مُلک بادشاه نۀ شې؟ اوس لاړ شه او هغه دلته راوله، هغه به خامخا وژلے
شی." ۳۲ یونتن جواب ورکړو، "هغه به ولې مری؟ هغۀ څۀ کړی دی؟" ۳۳ او په دې
ساؤل خپله نېزه په یونتن ورګزار کړه چې وې وژنی او یونتن ته پته ولګېده چې پلار یې په
رښتیا سره د داؤد د وژلو اراده لری. ۳۴ نو یونتن په غصه کښې د دسترخوان نه
پاڅېدو او په هغه ورځ یې هیڅ هم ونۀ خوړل چې د نوې میاشتې د اختر دویمه ورځ وه.
هغه ډېر زیات خفه وو ځکه چې د هغۀ پلار ساؤل د داؤد بې‌عزتی کړې وه. ۳۵ په
ورپسې سحر یونتن پټو ته لاړو چې د داؤد سره مِلاو شی، لکه چې څنګه هغوئ دا وخت
مقرر کړے وو. او د ځان سره یې یو هلک هم بوتلو ۳۶ او هغۀ ته یې ووئیل، "منډه کړه
او چې زۀ کوم غشی ولم نو هغه لټوه." هلک منډه کړه او یونتن د هغۀ نه مخکښې یو
غشے وویشتو. ۳۷ کله چې هلک هغه ځائ ته ورسېدو چرته چې غشے غورځېدلے
وو، نو یونتن ورته آواز وکړو، "غشے نور هم مخکښې دے، ۳۸ دلته مۀ ایساریږه، زر
زر لاړ شه." نو هلک غشے راواخستلو او خپل نیک ته راواپس شو، ۳۹ او د دې پته
ورته نۀ وه چې د دې مطلب څۀ دے، صِرف یونتن او داؤد ته پته وه. ۴۰ یونتن خپله
وسله هلک له ورکړه او ورته یې ووئیل چې دا ښار ته واپس یوسه. ۴۱ کله چې هلک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاړو، نو داؤد د ګټې د شا نه راپاڅېدو، هغه پړمخې په زمکه پرېوتو او درې ځل ورته د
عزت نه ټيټ شو. کله چې هغوئ يو بل ښکلول نو هغهٔ او يونتن دواړو ژړل، د داؤد
خفګان د يونتن نه هم زيات وو. ۴۲ بيا يونتن داؤد ته ووئيل، "په خېر سره لاړ شه،
مالِک خُدائ دې وکړی چې زما او ستا او زما او ستا د اولاد تر مينځه هغه مقدسه وعده
قائمه وی چې مونږ د يو بل سره کړې ده." بيا داؤد لاړو او يونتن ښار ته واپس شو.

## د حضرت داؤد ساؤل نه تښتېدل

۲۱ ۱ داؤد په نوب کښې اخيمُلک اِمام له لاړو. اخيمُلک ورله مِلاوېدو دپاره د يرې
نه په رېږدېدو راووتلو او تپوس يې ترې نه وکړو، "تهٔ يواځې ولې يې او چې يو کس هم
درسره نشته؟" ۲ داؤد جواب ورکړو، "زهٔ د بادشاه د يو کار دپاره دلته راغلے يم،
هغهٔ ما ته وئيلی دی چې هيچا ته پته ونهٔ لګی چې زهٔ هغهٔ د څهٔ دپاره رالېږلے يم. ما خپلو
فوجيانو ته وئيلی دی چې په يو بل ځائ کښې زما سره مِلاو شی. ۳ تا سره د خوراک
څهٔ شته؟ ما له پينځهٔ روټۍ راکړه يا کهٔ نور څهٔ درسره وی نو راېې کړه." ۴ اِمام ورته
ووئيل، "زما سره صِرف مقدسه روټۍ ده، عامه روټۍ راسره نشته، کهٔ ستا سړو په دې
نزدې وخت کښې ځان د ښځو نه ساتلے وی نو تاسو دا خوړے شئ." ۵ داؤد جواب
ورکړو، "بېشکه، دوئ ځان ساتلے دے، زما سړی همېشه خپل ځانونه پاک ساتی تر
دې پورې کهٔ هغوئ په يو عام کار پسې هم ځی، او نن مونږ خومره په خاص کار پسې
راوتلی يُو." ۶ نو اِمام داؤد له مقدسه روټۍ ورکړه، ځکه چې د هغهٔ سره صِرف هم
هغه روټۍ وه چې کومه مالِک خُدائ ته پېش کړے شوې وه، کومه چې د مقدس مېز نه
لرې کړے شوې وه او د هغې په ځائ تازه روټۍ ايښے شوې وه. ۷ نو د ساؤل مشر
شپون دوئيګ ادومے په هغه ورځ د مالِک خُدائ په حضور کښې د عبادت دپاره ايسار
وو. ۸ داؤد اخيمُلک ته وفرمائيل، "تا سره نېزه يا تُوره شته؟ د بادشاه د حُکم په وجه
زهٔ دومره په تېزۍ لاړم چې ما ته دومره وخت هم مِلاو نهٔ شو چې زهٔ خپله تُوره يا بل څهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راواخلم.“ ۹ اخيمُلک ورته ووئيل، ”زما سره د فلستی جوليت تُوره ده، کوم چې تا د
ايله په مېدان کښې وژلے وو، د دې پېش بند نه وروستو په کپړه کښې تاو ده. کۀ تۀ
غواړې نو راوايخله، صِرف هم دغه يوه وسله شته.“ داؤد ورته وفرمائيل، ”راېې کړه. د
دې نه ښۀ وسله نشته.“ ۱۰ نو داؤد هلته نه لاړو او د ساؤل نه وتښتېدو او د جات
بادشاه اکيس له لاړو. ۱۱ د بادشاه آفسرانو اکيس ته ووئيل، ”دا هغه داؤد نۀ دے څۀ،
کوم چې د خپل مُلک بادشاه دے؟ دا هغه سړے دے چې کله ښځې ګډېدې نو په سندرو
کښې يې وئيل چې ساؤل زرګونه وژلی دی، خو داؤد يو په لس د هغې نه زيات وژلی
دی.“ ۱۲ د هغوئ خبرو په داؤد باندې ډېر زيات اثر وکړو او هغه د جات اکيس بادشاه
نه ډېر زيات وېرېدو. ۱۳ نو چې کله هغوئ هلته وُو، داؤد به خپل چال چلن بدلولو او
چې کله به هغوئ ورته کتل نو د ځان نه به يې لېونے جوړولو، هغۀ به د ښار په دروازو
کرښې وهلې او په ږيره به يې لاړې بهېدلې. ۱۴ نو اکيس خپلو آفسرانو ته ووئيل،
”ګورئ، هغه سړے لېونے دے. دا مو ما له ولې راوستلو؟ ۱۵ مونږ سره د لېونو کمے
نشته نو بيا زۀ ولې دے په خپل کور کښې پرېږدم؟“

## د اِمامانو قتلِ عام

۲۲ ۱ داؤد د جات ښار نه وتښتېدو او د عدولام ښار ته نزدې يو غار ته لاړو. کله
چې د هغۀ وروڼه او نور خاندان خبر شو چې هغه هلته دے، نو هغوئ ورسره مِلاو شول.
۲ کوم خلق چې په تکليف کښې وُو، قرضداری وُو يا خفه وُو نو هغوئ ورغلل، دا
تقريباً ټول څلور سوه سړی وُو او هغه د هغوئ مشر شو. ۳ داؤد د هغه ځائ نه په
موآب کښې مصفاه ته لاړو او د موآب بادشاه ته يې ووئيل، ”بادشاه سلامت زما مور او
پلار پرېږده چې راشی او تا سره تر هغې پورې ايسار وی چې ما ته پته ولګی چې خُدائ
پاک به زما دپاره څۀ کوی.“ ۴ نو داؤد خپل مور پلار د موآب بادشاه سره پرېښودل
او چې کله داؤد په محفوظ ځائ کښې پټ وو نو هغوئ هلته ايسار وُو. ۵ بيا جاد

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیغمبر داؤد له راغلو او ورته يې وفرمائيل، ”دلته مهٔ ايسارېږه، او سمدستی د يهوداه
مُلک ته لاړ شه.“ نو داؤد روان شو او د حارت ځنګل ته لاړو. ۶ يوه ورځ ساؤل په
جبعه کښې په غرهٔ باندې د غز د ونې لاندې ناست وو، نېزه يې په لاس کښې وه او خپل
ټول آفسران ترې نه ګېرچاپېره ولاړ وُو. هغه خبر شو چې داؤد او د هغهٔ سړی پيدا شوی
دی، ۷ نو هغهٔ خپلو آفسرانو ته ووئيل، ”د بنيامين سړو غوږ ونيسئ. ستاسو خيال دا
دے څهٔ چې داؤد به تاسو ټولو له پټی او د انګورو باغونه درکړی؟ او د خپل لښکر
آفسران به مو جوړ کړی؟ ۸ هم دغه وجه ده څهٔ چې تاسو زما خِلاف منصوبه
جوړَوئ؟ ستاسو نه يو کس هم ما ته ونهٔ وئيل چې زما خپل زوئ د داؤد سره اِتحاد
کړے دے. هيچا سره زما فکر نشته او نهٔ ما ته وائی چې زما خپل سړے يعنې داؤد په
دې منصوبه کښې لګيا دے چې زما د وژلو موقع لټوی او زما خپل زوئ د هغهٔ ډاډګيرنه
کوی.“ ۹ دوئيګ ادومے هلته د ساؤل آفسرانو سره ولاړ وو او وې وئيل، ”کله چې
داؤد په نوب کښې د اخيطوب زوئ اخيمُلک له تلو نو هغه ما وليدو. ۱۰ اخيمُلک د
مالِک خُدائ نه تپوس وکړو چې داؤد څهٔ وکړی او بيا هغهٔ داؤد له خوراک او د جوليت
فلستی تُوره ورکړه.“ ۱۱ نو ساؤل بادشاه اخيمُلک اِمام او د هغهٔ ټول خپلوان
راوغوښتل، کوم چې په نوب کښې اِمامان وُو او هغوئ ورله راغلل. ۱۲ ساؤل اخيمُلک
ته ووئيل، ”اخيمُلکه، خبره واوره.“ نو هغهٔ ورته وفرمائيل، ”بادشاه سلامت وايه.“ ۱۳
ساؤل ترې نه تپوس وکړو، ”تهٔ او د يَسی زوئ زما خِلاف ولې منصوبه جوړَوئ؟ تاسو
هغهٔ له خوراک او تُوره ولې ورکړه او د هغهٔ دپاره مو د خُدائ پاک سره مشوره ولې
وکړه؟ نو هغهٔ زما خِلاف سرکشی وکړه او هغهٔ زما خِلاف نن لاره نيولې ده.“ ۱۴
اخيمُلک ورته وفرمائيل، ”ستا په ټولو نوکرانو کښې د داؤد په شان وفادار څوک دے؟
هغه د بادشاه زوم دے، ستا د ټولو محافظانو فوجيانو مشر دے او ستا په دربار کښې
ډېر زيات عزتمند دے. ۱۵ آو، ما څو ځلې د هغهٔ دپاره د خُدائ پاک سره مشوره کړې
ده، نو بادشاه سلامت، تهٔ د دې خبرې اِلزام په ما او زما په خاندان مهٔ لګوه. زهٔ ستا
خِلاف د يوې منصوبې نه هم نهٔ وم خبر. د دې خبرې نه، زهٔ بېخی خبر نهٔ يم.“ ۱۶

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه ورته ووئیل، ”اخیمُلکه، تهٔ او ستا ټول خپلوان به وژلے شي.“ ١٧ د هغهٔ سره
نزدې چې کوم د هغهٔ محافظان ولاړ وُو نو هغوئ ته یې ووئیل، ”د مالِک خُدائ اِمامان
ووژنئ. هغوئ د داؤد سره سازش وکړو او ما ته یې ونهٔ وئیل چې هغه تښتېدلے دے،
اګر چې دې ټولو ته پته ده.“ خو د هغهٔ حِفاظت کوونکو د مالِک خُدائ د اِمامانو د وژلو
دپاره په هغوئ باندې لاس اوچتولو نه اِنکار وکړو. ١٨ نو ساؤل دوئیګ ته ووئیل، ”تهٔ
هغوئ ووژنه.“ او دوئیګ هغوئ ټول ووژل. په هغه ورځ باندې هغهٔ پینځهٔ اتیا اِمامان
ووژل کوم چې د پېش بند د وړلو حقدار وُو. ١٩ ساؤل دا حُکم هم وکړو چې د اِمامانو
د ښار نوب ټول اوسېدونکی دې ووژلے شی، ښځې او سړی، ماشومان او تی رودونکی
ماشومان، څاروی، خرهٔ او ګډې، هر څهٔ ووژلے شول. ٢٠ خو د اخیمُلک یو زوئ
ابیاتار وتښتېدو، لاړو او د داؤد سره مِلاو شو. ٢١ هغهٔ داؤد ته ووئیل، چې ساؤل د
مالِک خُدائ اِمامان ځنګه ووژل. ٢٢ داؤد هغهٔ ته وفرمائیل، ”کله چې ما دوئیګ په هغه
ورځ هلته ولیدو، ما ته پته وه چې هغه به خامخا ساؤل ته ووائی. نو په دې وجه زهٔ ستا د
ټولو خپلوانو د مرګ ذمه وار یم. ٢٣ ما سره ایسار شه او یرېږه مه. ساؤل مونږ دواړه
وژل غواړی، خو تهٔ به ما سره په امن کښې یې.“

## د حضرت داؤد قعیله ښار بچ کول

٢٣ ١ یوه ورځ داؤد واورېدل چې فلستیان د قعیله په ښار باندې حمله کوی او د
درمند نه رېبلے شوے فصل پټوی. ٢ نو هغهٔ د مالِک خُدائ نه تپوس وکړو، ”زهٔ لاړ
شم څهٔ چې په دې فلستیانو باندې حمله وکړم؟“ مالِک خُدائ ورته وفرمائیل، ”آو، په
هغوئ حمله وکړه او قعیله بچ کړه.“ ٣ خو د داؤد سړو هغهٔ ته وفرمائیل، ”کهٔ مونږ
دلته په یهوداه کښې یرېږو، نو دا به زمونږ دپاره نوره هم سخته شی چې قعیله ته لاړ شُو
او د فلستیانو په لښکر باندې حمله وکړُو.“ ٤ نو داؤد د مالِک خُدائ سره بیا خبره
وکړه او مالِک خُدائ ورته وفرمائیل، ”قعیله ته ورشه، ځکه چې زهٔ به تا له په فلستیانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې فتح درکوم.“ ۵ نو داؤد او د هغۀ سړی قعیله ته لاړل او په فلستیانو یې حمله
وکړه، هغوئ ډېر زیات کسان ووژل او د هغوئ څاروی یې بوتلل. نو داسې داؤد هغه
ښار بچ کړو. ۶ کله چې د اخیمُلک زوئ ابیاتار وتښتېدو او په قعیله کښې د داؤد سره
مِلاو شو، نو هغۀ د ځان سره پېش بند یوړو. ۷ ساؤل خبر شو چې داؤد قعیلې ته تلے
دے، نو ساؤل ووئیل، ”خُدائ پاک هغه ما له په لاس کښې راکړے دے. داؤد ځان په
خپله ګېر کړو چې هغه یو داسې ښار ته لاړو چې پخې دروازې لری او تالا کیږی.“ ۸
نو ساؤل خپل لښکر د جنګ دپاره راوغوښتو، چې قعیلې ته لاړ شی او داؤد او د هغۀ
لښکر ګېر کړی. ۹ کله چې داؤد خبر شو چې ساؤل ورباندې د حملې کولو منصوبه
جوړوی، نو هغۀ ابیاتار اِمام ته وفرمائیل، ”پېش بند دلته راوړه.“ ۱۰ بیا داؤد وفرمائیل،
”مالِکه خُدایه، د بنی اِسرائیلو خُدایه پاکه، ما دا اورېدلی دی چې ساؤل زما یعنې ستا د
خِدمت کوونکی په وجه قعیلې ته د راتلو او د دې د ورانیدو منصوبه جوړوی. ۱۱ د
قعیلې اوسېدونکی به ما ساؤل له په لاس کښې ورکړی څۀ؟ ساؤل به په رښتیا راشی څۀ
لکه چې ما اورېدلی دی؟ مالِکه خُدایه، د بنی اِسرائیلو خُدایه پاکه، زۀ تا ته سوال کوم او
ما له جواب راکړه.“ مالِک خُدائ ورته وفرمائیل، ”آو، ساؤل به راځی.“ ۱۲ داؤد بیا
تپوس وکړو، ”د قعیلې اوسېدونکی به ما او زما سړی ساؤل له په لاس کښې ورکوی
څۀ؟“ مالِک خُدائ ورته وفرمائیل، ”آو، هغوئ به تاسو ورته حواله کوی.“ ۱۳ نو داؤد
او د هغۀ سړی چې تقریباً ټول شپږ سوه ؤو د قعیلې نه سمدستی لاړل او د یو ځائ نه بل
ځائ ته تلل. کله چې ساؤل خبر شو چې داؤد د قعیلې نه تښتېدلے دے، نو هغۀ خپله
منصوبه پرېښوده.

## حضرت داؤد د غرونو په مُلک کښې

۱۴ داؤد د زیف سره نزدې په صحرا کښې، د غرونو په مُلک کښې په محفوظ ځائ
کښې ایسار شو. ساؤل به هر وخت هغه لټولو، خو خُدائ پاک داؤد هغۀ له په لاس نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکولو. ۱۵ کله چې داؤد د زيفه سره نزدې په صحرا کښې، په حورِش کښې وو نو پته
ورته ولګيده چې ساؤل د هغۀ په مرګ پسې راوتلے دے. ۱۶ يونتن هغۀ له هلته ورَغلو
او داؤد يې زړَور کړو چې خُدائ پاک ستا مل دے، ۱۷ او ورته يې ووئيل، "مۀ يرېږه،
زما پلار ساؤل تا ته نقصان نۀ شی دررسولے. هغۀ ته ډېره ښۀ پته ده چې تۀ به د بنی
اِسرائيلو بادشاه يې او زۀ به په تا پسې دويم کس يم." ۱۸ هغوئ دواړو د يو بل سره د
مالِک خُدائ په نوم باندې تړون وکړو. داؤد په حورِش کښې ايسار شو او يونتن خپل
کور ته لاړو. ۱۹ د زيف خلق په جبعه کښې ساؤل له لاړل او ورته يې ووئيل، "داؤد
زمونږ په علاقه حورِش کښې د حکيله په غرۀ باندې پټ دے، چې دا د يشيمون صحرا
جنوبی حِصه ده. ۲۰ بادشاه سلامت، مونږ ته پته ده چې تۀ هغه نيول غواړې، نو زمونږ
علاقې ته راشه او مونږ به يې ونيسو او تا ته به يې حواله کړُو." ۲۱ ساؤل ورته ووئيل،
"مالِک خُدائ دې تاسو له برکت درکړی ځکه چې تاسو په ما ډېر مِهربانه يئ. ۲۲ لاړ
شئ او يو ځل يې بيا وګورئ، دا خبره صفا کړئ چې هغه چرته دے او هغه هلته چا
ليدلے دے. ما اورېدلی دی چې هغه ډېر چالاک دے. ۲۳ بلکل هم هغه ځايونه ولټوئ
چرته چې هغه پټ دے او خامخا سيدها ما له واپس خبر راوړئ. بيا به زۀ ستاسو سره
لاړ شم او کۀ هغه تر اوسه پورې په هغه علاقه کښې وی، نو هغه به زۀ رانيسم، تر دې
پورې چې د يهوداه ټول مُلک به ورپسې لټوم." ۲۴ نو هغوئ روان شول او د ساؤل نه
مخکښې زيف ته واپس راورسېدل. داؤد او د هغۀ سړی د معون په صحرا کښې وُو، چې
د يشيمون صحرا په جنوبی حِصه کښې خُشک ميدان دے. ۲۵ ساؤل او د هغۀ سړی د
داؤد لټولو دپاره روان شول، خو هغه د دې نه خبر شو او د معون په صحرا کښې د ګټو
يو غر ته لاړل او هلته ايسار شو. کله چې ساؤل د دې نه خبر شو نو هغه په داؤد پسې
لاړو. ۲۶ ساؤل او د هغۀ سړی د غرۀ په يو طرف باندې وُو او داؤد او د هغۀ سړی د
غرۀ په بل طرف باندې وُو. داؤد تېزی کوله چې د ساؤل نه لرې شی، خو ساؤل دومره
ورنزدې شو چې داؤد او د هغۀ لښکر يې نيولے هم شول. ۲۷ نو هم په هغه وخت يو
پېغام وړونکے راورسېدو او ساؤل ته يې ووئيل، "فوراً راواپس شه. فلستيان په مُلک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حمله کوی.“ ۲۸ نو ساؤل په داؤد پسې نور لا نۀ ړو او د فلستیانو سره جنګ کولو
دپاره لاړو. نو دا ځکه د هغه ځائ نوم د تښتېدو ګټ شو. ۲۹ داؤد روان شو او د
عین‌جدی علاقې ته لاړو، هلته په محفوظ ځایونو کښې اوسېدو.

## حضرت داؤد د ساؤل ژوند بچ کول

۲۴ ۱ کله چې ساؤل د فلستیانو سره جنګ کولو نه راواپس شو، نو هغه خبر شو
چې داؤد د عین‌جدی په صحرا کښې دے. ۲ ساؤل د بنی اِسرائیلو نه درې زره تکړه
فوجیان ځان سره کړل او د ځنګلی چېلیٖ ګټو نمرخاتۀ طرف ته په داؤد او د هغۀ په سړو
پسې روان شو. ۳ هغه د لارې په غاړه د ګډو شپول سره نزدې یو غار ته راغلو او
اودس یې مات کړو. داسې هم په هغه غار کښې وشول چې په کوم غار کښې داؤد او د
هغۀ سړی شاته حِصه کښې پټ ؤو. ۴ د داؤد سړو غلی شان هغۀ ته وفرمائیل، ”دا
ستا دپاره یوه موقع ده. مالِک خُدائ تا ته فرمائیلی دی چې هغه به تا له ستا دشمن په
لاس کښې درکړی او چې بیا دې څۀ خوښه وی نو هغه ورسره کولے شې.“ داؤد غلے
لاړو او د ساؤل د چُوغې نه یې یوه ټُکړه پرې کړه خو ساؤل ته د دې پته ونۀ لګېده. ۵
خو خپل ضمیر داؤد ملامته کړو ځکه چې هغۀ د ساؤل د چُوغې نه یوه ټُکړه پرې کړې
وه، ۶ او هغۀ خپلو سړو ته وفرمائیل، ”مالِک خُدائ دې ما د دې نه وساتی چې زۀ
خپل نیک ته څۀ نقصان ورسوم، کوم چې مالِک خُدائ خوښ کړے دے. زۀ خو به هغۀ
ته نقصان نۀ رسوم، ځکه چې هغه بادشاه دے او مالِک خُدائ هغه خوښ کړے دے.“
۷ نو داؤد خپل سړی دې ته راضی کړل چې هغوئ به په ساؤل حمله نۀ کوی. ساؤل
پاڅېدو، د غرۀ نه روان شو او په خپله مخه لاړو. ۸ نو داؤد وریسې لاړو او آواز یې
ورته وکړو، ”بادشاه سلامت.“ ساؤل راوګرځېدو او داؤد د عزت نه زمکې ته ټیټ شو
۹ او وې فرمائیل، ”تۀ هغه خلقو ته غوږ ولې نیسې چې کوم وائی چې زۀ تا ته د
نقصان رسولو کوشش کوم؟ ۱۰ تا په خپله ولیدل چې مالِک خُدائ تۀ اوس په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دِې غار کښې ما له په لاس کښې راکړې. زما څهٔ سړو ما ته ووئيل چې زهٔ تا ووژنم، خو
ما درته د رحم په نظر وکتل او ومې وئيل چې زهٔ خو به تا ته نقصان نهٔ رسوم، ځکه چې
تهٔ هغه څوک يې چې مالِک خُدائ بادشاه خوښ کړے يې. ١١ وګوره زما پلاره، د
خپلې چُوغې ټُکړه وګوره چې زما په لاس کښې ده. ما تهٔ وژلے شوې، خو صِرف ما دا
ټُکړه پرې کړه. په کار دی چې تهٔ دا ومنې چې ما ستا خِلاف د بغاوت يا تا ته د نقصان
رسولو خيال هم نهٔ دے کړے. او تهٔ ما د وژلو دپاره نيسې، اګر چې ما درسره هيڅ بد نهٔ
دی کړی. ١٢ مالِک خُدائ دې اِنصاف وکړی چې په مونږ کښې څوک په غلطه دے.
زما خِلاف دې چې کوم کار کړے وی نو مالِک خُدائ دې د هغې سزا درکړی، خو زهٔ
به تا ته هيڅ نقصان نهٔ رسوم. ١٣ لکه د مشرانو د خولو خبره ده، ”د بدعملو هر کار بد
وی.“ خو زهٔ به تا ته نقصان نهٔ رسوم. ١٤ ګوره، د بنی اِسرائيلو بادشاه د چا د وژلو
کوشش کوی؟ ګوره، هغه په چا پسې شوے دے؟ په يو مړ سپی پسې، په يوې وړَدې
پسې. ١٥ مالِک خُدائ به اِنصاف وکړی او هغه به فيصله وکړی چې په مونږ کښې
څوک په غلطه دے. هغه دې مسئلې ته وګوری، زما حِفاظت دې وکړی او ما دې ستا د
لاس نه بچ کړی.“ ١٦ کله چې داؤد خبرې ختمې کړې، نو ساؤل ووئيل، ”دا تهٔ يې
داؤده، زما زويه؟“ او هغه په ژړا شو. ١٧ بيا هغهٔ داؤد ته وفرمائيل، ”تهٔ په حقه يې او زهٔ
په ناحقه يم. تهٔ ما سره ډېر ښهٔ يې، اګر چې ما تا سره ډېر بد کړی دی. ١٨ تا نن ما ته
وښودل چې تهٔ ما سره څومره ښهٔ يې، ځکه چې تا زهٔ ونهٔ وژلم، تر دې پورې چې مالِک
خُدائ زهٔ تا له په لاس کښې درکړم. ١٩ يو سړے څو ځلې خپل دشمن نيسی او بيا يې
د نقصان رسولو نه بغير پرېږدی؟ تا چې نن ما سره څهٔ کړی دی مالِک خُدائ دې تا له
د هغې اجر درکړی. ٢٠ نو زما يقين دے چې تهٔ به د اِسرائيل بادشاه يې او بادشاهی به
ستا د اختيار لاندې قائمه وی. ٢١ خو تهٔ ما سره د مالِک خُدائ په نوم لوظ وکړه چې
تهٔ به زما اولاد ته هيڅ نقصان نهٔ رسوې، نو داسې به زما او زما د خاندان نوم بيخی نهٔ
هېرېږی.“ ٢٢ نو داؤد د ساؤل سره هغه لوظ وکړو. نو ساؤل واپس کور ته لاړو او داؤد
او د هغهٔ سړی محفوظو ځايونو ته لاړل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سموئيل مرګ

٢٥ ١ نو سموئيل مړ شو او ټول بنی اِسرائيليان راغونډ شول او په هغهٔ يې د غم ژړا
وکړه. بيا هغوئ هغه په راما کښې په خپل خاندانی قبر کښې ښخ کړو.

## حضرت داؤد او ابیجيل

د هغې نه پس، داؤد د فاران صحرا ته لاړو. ٢-٣ د کالب د قبيلې يو سړے وو چې
نوم يې نابال وو، چې هغه د معون د ښار وو او هغهٔ د کرمل ښار سره نزدې خپله زمکه
لرله. هغه مالداره سړے وو، درې زره ګډې او زر چيلۍ يې وې. د هغهٔ ښځه ابیجيل
ښائسته او هوښياره وه، خو هغه سخت او شوم سړے وو. نابال په کرمل کښې د خپلو
ګډو نه وړۍ کلولې، ٤ او داؤد، څوک چې په صحرا کښې وو د دې نه خبر شو چې
نابال د خپلو ګډو نه وړۍ کلولې، ٥ نو هغهٔ لس زلمی د دې حُکم سره ولېږل چې
کرمل ته لاړ شئ، نابال ولټوئ او زما سلام ورورسوئ. ٦ هغهٔ ته ووايئ، "خوشحاله او
ژوندے اوسې، په تا او ستا په کور دې سلامتی وی او په هغه هر څهٔ دې سلامتی وی
چې تهٔ يې لرې. ٧ هغهٔ اورېدلی دی چې تهٔ د خپلو ګډو وړۍ کلوې او هغهٔ غوښتل چې
تا ته دا پته ولګی چې کله ستا شپانهٔ مونږ سره وُو نو مونږ هغوئ ته څهٔ نقصان نهٔ دے
رسولے. کله چې هغوئ په کرمل کښې وُو نو هيڅکله د هغوئ يو څيز هم نهٔ دے پټ
کړے شوے. ٨ تهٔ د خپلو سړو نه تپوس وکړه او هغوئ به تا ته هم دغه شان ووائی.
نو تهٔ به مونږ سره ښېګړه وکړې څهٔ، ځکه چې مونږ د اختر په ورځ راغلی يُو؟ تهٔ مونږ
يعنې ستا خِدمت کوونکو او خپل دوست داؤد له څهٔ راکړه." ٩ د داؤد زلمی
راورسېدل او د داؤد دا پېغام يې نابال له ورکړو. او هغوئ هلته اِنتظار وکړو، ١٠ او
آخر نابال جواب ورکړو چې، "داؤد څوک دے؟ د يَسی زوئ څوک دے؟ نن سبا ډېر
نوکران د خپلو نيکانو نه تښتی. ١١ زهٔ روټۍ، اوبهٔ او هغه ځناور ولې يوسم چې ما د
خپلو نوکرانو دپاره حلال کړی دی چې هغه سړو له يې ورکړم چې ما ته پته هم نشته چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ د کوم ځائ نه راغلی دی." ۱۲ د داؤد سړی واپس راغلل او چې نابال څهٔ وئيلی
وُو نو هغه يې ورته ووئيل. ۱۳ داؤد خپلو سړو ته وفرمائيل، "هر يو سړے خپلې تُورې
وتړئ." هغهٔ حُکم ورکړو او هغوئ ټولو تُورې وتړلې. داؤد په خپله هم تُوره وتړله او
تقريباً د خپلو څلورو سوو سړو سره لاړو، چې دوه سوه سړی يې وروستو د سامان
سره پرېښودل. ۱۴ د نابال يو نوکر د نابال ښځې ابیجيل ته ووئيل، "تهٔ خبر يې؟ داؤد د
صحرا نه پيغام وړُونکی رالېږلی دی چې زمونږ نېک ته سلام ووائی، خو هغهٔ يې بېعزتی
وکړه. ۱۵ خو هغوئ زمونږ سره ډېر ښهٔ وُو، هغوئ مونږ کله هم نهٔ يُو تنګ کړی او
مونږ به هر وخت د هغوئ سره په ټولو کښې وُو او زمونږ يو څيز هم نهٔ دے پټ کړے
شوے. ۱۶ هغوئ شپه او ورځ زمونږ حِفاظت کولو او چې کله هم مونږ د هغوئ سره
وُو نو هغوئ زمونږ د رَمو حِفاظت کولو. ۱۷ دا زمونږ د نېک او د هغهٔ د مکمل خاندان
دپاره د تباهئ سبب جوړېدے شی. هغه دومره بداخلاقه سړے دے چې د هيچا خبره به
هم نهٔ اوری." ۱۸ ابیجيل زر زر دوه سوه روټئ راټولې کړې، دوه د ميو نه ډکې
مشکيزې، پينځهٔ حلال شوی ګډان او لس کلو وريتې دانې، سل د کشمشو موټئ او دوه
سوه موټئ د اوچو اينځرو يې واخستل او په خرونو يې بار کړل. ۱۹ بيا هغې نوکرانو ته
ووئيل، "تاسو مخکښې ځئ او زهٔ به په تاسو پسې درځم." خو هغې خپل خاوند ته هيڅ هم
ونهٔ وئيل. ۲۰ هغې خپل خر د غرهٔ په لمن کښې په تاو راتاو لاره باندې روان کړے وو
چې ناڅاپه هغه د داؤد او د هغهٔ د سړو سره مِلاو شوه چې د هغې طرف ته راروان وُو.
۲۱ داؤد دا سوچ کولو چې، "ما په دې صحرا کښې د دې کس د جائيداد حِفاظت ولې
وکړو؟ د هغهٔ يو څيز مې هم ورکيدلو ته نهٔ دے پرېښے او چې ما د هغهٔ سره کوم مدد
کړے دے نو د هغې بدله داسې راکوی. ۲۲ خُدائ پاک دې ما ووژنی کهٔ ما هغه ټول
سړی د سحر نه مخکښې ونهٔ وژل." ۲۳ کله چې ابیجيل داؤد وليدو، نو هغه زر زر
راکوزه شوه او خپل ځان يې په زمکه وغورزولو ۲۴ او د داؤد په پښو کښې پرېوته او
هغهٔ ته يې ووئيل، "يواځې ما قصوروار وګڼه، خپلې وينځې له د خبرو کولو اجازت
ورکړه او چې ستا وينځه څهٔ وئيل غواړی نو صاحِبه، هغې ته غوږ ونيسه. ۲۵ صاحِبه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دې بېکاره سړی نابال خبره مهٔ اوره. هغه په رښتيا هم هغه شے دے لکه چې څنګه
يې نامه ده، کم عقل. صاحِبه، کله چې ستا نوکران راورسېدل نو زهٔ هلته نهٔ وم. ۲۶ دا
مالِک خُدائ وو چې هغهٔ د بدل اخستلو نه او تهٔ يې د خپلو دشمنانو د وژلو نه ساتلے
يې. او اوس زهٔ تا ته په ژوندی مالِک خُدائ قسم خورم چې ستا دشمنان او هر څوک
چې تا ته نقصان رسوی هغوئ له به د نابال په شان سزا ورکړے شی. ۲۷ نو اوس،
چې ستا وينځې کومه تُحفه تا له راوړې ده هغه قبوله کړه او خپلو زلمو له يې ورکړه.
۲۸ صاحِبه، کهٔ ما څهٔ قصور کړے وی نو ما معاف کړه. مالِک خُدائ به ستا او ستا د
بچو بادشاهی قائمه ساتی، ځکه چې زما نيک د مالِک خُدائ دپاره جنګونه کوی، او چې
تر کومې پورې تهٔ ژوندے يې نو تهٔ دې بد عمل ونهٔ کړې. ۲۹ کهٔ څوک په تا باندې حمله
کوی او ستا د وژلو کوشش کوی، نو مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک به تا داسې بچ ساتی
لکه چې څوک د قيمتی خزانې حِفاظت کوی. او هغه به ستا دشمنان داسې وغورزوی
لکه چې څوک په لينده کښې کاڼے لړه کوی. ۳۰ او کله چې مالِک خُدائ هغه ټول ښهٔ
کارونه کړی وی لکه څنګه يې چې تا سره وعده کړې ده او تهٔ يې د بنی اِسرائيلو مشر
جوړ کړے يې، ۳۱ نو صاحِبه، تهٔ به پښېمانه نهٔ يې او نهٔ به په زړهٔ کښې خفه يې، چې
بغېر د څهٔ وجې نه دې خلق وژلی وی يا دې خپله بدله اخستې وی. او کله چې مالِک
خُدائ برکت درکړی، نو مِهربانی وکړه چې خپله خِدمت کوونکې هېره نهٔ کړې.“ ۳۲
داؤد ابی‌جيل ته وفرمائيل، ”د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک صِفت دې وی
چې هغهٔ نن تهٔ زما سره مِلاوېدو له راولېږلې. ۳۳ ستا د هوښيارتوب دپاره دې د خُدائ
پاک شُکر وی او د هغې دپاره چې تا نن وکړل چې د وينې تويولو د جرم او د خپل بدل
اخستلو نه دې وساتلم. ۳۴ مالِک خُدائ زهٔ تا ته د نقصان رسولو نه ساتلے يم. خو زهٔ
د بنی اِسرائيلو په ژوندی خُدائ پاک قسم خورم کهٔ تهٔ ما سره مِلاوېدو له زر زر نهٔ وې
راغلې، نو د سحر پورې به د نابال ټول سړی مړهٔ شوی وُو.“ ۳۵ بيا داؤد هغه څهٔ قبول
کړل چې هغې راوړی وُو او هغې ته يې وفرمائيل، ”په خير سره واپس کور ته لاړه شه. ما
ستا خبره اوريدلې ده او ستا عرض مې منلے دے.“ ۳۶ ابی‌جيل واپس نابال له لاړه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه په کور کښې وو او داسې روتۍ يې کړې وه چې د بادشاهانو سره سمون خوری.
هغه په نشه کښې وو او ښۀ په سور کښې وو، نو هغې تر سحره پورې هغۀ ته هيڅ هم ونۀ
وئيل. ۳۷ بيا کله چې د هغۀ نه نشه لاړه، نو هغې ورته هر څۀ ووئيل. هغه فالج ووهلو او
مکمل شل شو. ۳۸ تقريباً لس ورځې وروستو مالِک خُدائ نابال ووهلو او مړ شو. ۳۹
کله چې داؤد خبر شو چې نابال مړ شو، نو هغۀ وفرمائيل، "د مالِک خُدائ ثناء صِفت
دې وی. هغۀ د نابال نه زما د بې‌عزتۍ بدله اخستې ده او زۀ يعنې خپل خِدمت کوونکے
يې د غلط کار نه ساتلے يم. مالِک خُدائ نابال له د هغۀ د بدعملۍ سزا ورکړې ده." بيا
داؤد ابى‌جيل له خبر ورولېږلو چې زما سره وادۀ وکړه. ۴۰ د هغۀ نوکران په کرمل
کښې هغې له ورغلل او ورته يې ووئيل، "داؤد مونږ رالېږلی يُو چې تا بوځُو او د هغۀ
ښځه شې." ۴۱ ابى‌جيل سر زمکې ته ټيټ کړو او وې وئيل، "زۀ د هغۀ وينځه يم، زۀ د
هغۀ د نوکرانو د پښو وينځلو دپاره تياره يم." ۴۲ هغه زر زر پاڅېده او په خر سوره
شوه. پينځۀ نوکرانې ورسره وې، هغه د داؤد د نوکرانو سره لاړه او د هغۀ ښځه شوه.
۴۳ داؤد د يزرعيل اخينوعم هم وادۀ کړې وه او دواړه يې ښځې شوې. ۴۴ په دې
دوران کښې، د داؤد چې کومه ښځه وه او د ساؤل لور وه، ساؤل هغه د داؤد نه خلاصه
کړه او د ليس زوئ فلطى له ورکړه. فلطى د جليم د ښار وو.

## د حضرت داؤد د ساؤل ژوند بيا بچ کول

۲۶ ۱ بيا د زيف يو څو سړی په جبعه کښې ساؤل له راغلل او ورته يې ووئيل چې،
"داؤد د يشيمون صحرا په غاړه د حکيله په غرۀ باندې پټ دے." ۲ نو ساؤل
سمدستی د درېو زرو ښو بنی اِسرائيلو فوجيانو سره د زيف صحرا ته لاړو چې داؤد
ولټوی، ۳ او د لارې په غاړه د حکيله په غرۀ باندې يې خېمې ولګولې. داؤد تر اوسه
پورې په هغه صحرا کښې وو او کله چې هغه خبر شو چې ساؤل د هغۀ لټولو له راغلے
دے، ۴ هغۀ جاسوسان ولېږل او دا يې معلوم کړل چې ساؤل په رښتيا هلته دے. ۵

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغه راووتلو او هم هغه ځائ ته راغلو چرته چې د ساؤل او د ساؤل د لښکر مشر د نير
زوئ ابنير ملاست وو. ساؤل په کيمپ کښې دننه څملاستو او د هغهٔ سرو ګېرچاپېره
خېمې ولګولې. ۶ بيا داؤد د اخيمُلک حِتى او د يوآب ورور ابيشى (د دوئ مور
ضرویاه وه) نه تپوس وکړو، ”په تاسو دواړو کښې به کوم يو ما سره د ساؤل کيمپ ته
لاړ شى؟“ ابيشى ورته په جواب کښې ووئيل، ”زهٔ به درسره لاړ شم.“ ۷ نو په هغه شپه
داؤد او ابيشے د ساؤل خيمو ته ننوتل او وې ليدل چې ساؤل د کيمپ په مينځ کښې
ملاست وو او د هغهٔ نيزه د هغهٔ د سر سره نزدې په زمکه کښې ښخه وه. ابنير او
فوجيان د هغهٔ نه ګېرچاپېره ملاست وُو. ۸ ابيشى داؤد ته ووئيل چې، ”خُدائ پاک تا
له خپل دشمن نن په لاس کښې درکړے دے. اوس ما له اجازت راکړه چې هم د هغهٔ
خپله نيزه ترې نه په بل مخ بوتهٔ وباسم او صِرف په يو غرب سره به يې داسې کړم چې د
زمکې نه به پاڅيدلے نهٔ شى، د دويم ځل وهلو حاجت به يې هم راته نهٔ پېښيږى.“ ۹
خو داؤد ورته وفرمائيل، ”تهٔ هغه مهٔ وژنه. بې‌شکه مالِک خُدائ به هغه چا له سزا ورکوى
چې څوک هم د هغهٔ خوښ کړے شوى بادشاه ته نقصان رسوى.“ ۱۰ داؤد وفرمائيل،
”ما ته پته ده چې مالِک خُدائ به په خپله ساؤل مړ کوى، کهٔ هغه په خپل مرګ مړ شى
او يا کهٔ په جنګ کښې مړ شى. ۱۱ مالِک خُدائ دې نهٔ کړى چې هغه چا له د نقصان
رسولو کوشش وکړم څوک چې مالِک خُدائ بادشاه جوړ کړے دے. راځئ چې د هغهٔ
نيزه او د اوبو منګے راواخلو او لاړ شُو.“ ۱۲ نو داؤد نيزه او د اوبو منګے واخستلو
چې د ساؤل د سر سره نزدې پراتهٔ وو او هغه او ابيشے لاړل. هيچا دا ونهٔ ليدل او نهٔ
ورته پته ولګيده چې څهٔ وشول او نهٔ څوک پاڅيدل، هغوئ ټول په خوږ خوب اودهٔ وُو،
ځکه چې مالِک خُدائ په هغه ټولو باندې درُوند خوب راالېږلے وو. ۱۳ بيا داؤد د وادۍ
نه واوړيدو او د بل غر سر ته لاړو، کوم ځائ چې لږ لرې وو او د خطرې نه بهر وو. ۱۴
او د ساؤل فوجيانو او ابنير ته يې چغه ووهله، ”ابنيره، تهٔ زما آواز اورې؟“ ابنير تپوس
وکړو، ”دا چغې څوک وهى چې بادشاه راپاڅوى؟“ ۱۵ داؤد ورته وفرمائيل، ”ابنيره، په
بنى اِسرائيلو کښې ستا په شان تکړه سړے څوک شته؟ نو تهٔ خپل نېک يعنې بادشاه ولې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نۀ بچ کوې؟ دا اوس اوس څوک خيمو ته لاړل چې ستا نېک ووژنی. ۱۶ ابنيره، تۀ په
خپله ذمه وارئ کښې ناکام شوې. زۀ په ژوندی مالِک خُدائ قسم خورم چې تاسو ټول د
مرګ لائق يئ، ځکه چې تاسو خپل نېک بچ نۀ کړو، کوم چې مالِک خُدائ بادشاه جوړ
کړے دے. د بادشاه نېزه چرته ده؟ د اوبو منګے چرته دے چې د هغۀ د سر سره وو؟“
۱۷ ساؤل د داؤد آواز وپېژندو او تپوس يې ترې نه وکړو، ”داؤده، دا تۀ يې زما زويه؟“
داؤد ورته وفرمائيل، ”آو، بادشاه سلامت دا زۀ يم.“ ۱۸ او هغۀ دا هم وفرمائيل، ”زما
نېک تر اوسه پورې په خپل خِدمت کوونکی پسې ولې ګرځې؟ ما څۀ کړی دی؟ ما کوم
جرم کړے دے؟ ۱۹ بادشاه سلامت، زۀ چې څۀ وئيل غواړم نو هغه واوره. کۀ دا
مالِک خُدائ وی چې تۀ يې زما خِلاف کړې، نو يوه نذرانه چې هغۀ ته پېش شی نو کېدے
شی چې د هغۀ فېصله بدله شی، خو کۀ دا انسان کړی وی، نو په هغوئ دې د مالِک
خُدائ لعنت راشی. ځکه چې هغوئ زۀ د مالِک خُدائ د مُلک نه وشړلم او راته يې ووئيل
چې د پردو معبودانو عبادت کوه. ۲۰ زما وينه دې د مالِک خُدائ نه لرې په پردئ
خاوره نۀ توئيږی. د بنی اِسرائيلو بادشاه دې صِرف د يوې ورَږې د لټولو دپاره ولې
راشی، لکه څوک چې په غرونو کښې د زرکې ښکار کوی؟“ ۲۱ ساؤل ورته ووئيل، ”ما
ګناه کړې ده. زما زويه، داؤده. واپس راشه، زۀ به تا ته نقصان نۀ دررسوم، ځکه چې تا
نن زما ژوند بچ کړو. زۀ کم عقل وم، ما يو بد عمل کړے دے.“ ۲۲ داؤد ورته
وفرمائيل، ”بادشاه سلامت، ستا نېزه دا ده. ستا يو سړے دې راشی او دا دې واخلی.
۲۳ مالِک خُدائ هغه چا له اجر ورکوی چې څوک وفادار او رښتونی وی. نن هغۀ ما له
تۀ په لاس کښې راکړې، خو ما تا ته نقصان ونۀ رسولو، څوک چې مالِک خُدائ بادشاه
جوړ کړے دے. ۲۴ لکه څنګه چې نن ما ستا ژوند بچ کړے دے، نو مالِک خُدائ دې
هم هغه شان زما سره هم وکړی او چې د ټولو تکليفونو نه مې خلاص کړی.“ ۲۵ ساؤل
داؤد ته ووئيل، ”زما زويه، خُدائ پاک دې تا له برکت درکړی. تۀ به په هر کار کښې
کامياب يې.“ نو داؤد په خپله مخه لاړو او ساؤل کور ته واپس شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد په فلستيانو کښې پناه اخستل

۲۷ (۱) خو داؤد د خپل ځان سره وفرمائيل، ”په نن سبا کښې به ما ساؤل ووژنی.
زما دپاره ښۀ خبره دا ده چې د فلستی علاقې ته وتښتم. نو ساؤل به د بنی اِسرائيل په
مُلک کښې زما لټول پرېږدی او زۀ به بچ شم.“ (۲) نو داؤد او د هغۀ شپږ سوه سړی د
جات بادشاه د معوک زوئ اکيس مُلک ته لاړل. (۳) داؤد او د هغۀ سړی سره د خپلو
کورَنو هلته په جات کښې دېره شول. د داؤد سره خپلې دوه ښځې وې، د يزرعيل
اخينوعم او د نابال کونډه ابىجيل چې د کرمل وه. (۴) کله چې ساؤل خبر شو چې
داؤد جات ته تښتېدلے دے، نو ساؤل د هغۀ لټول پرېښودل. (۵) داؤد اکيس ته
وفرمائيل، ”کۀ تۀ زما سره ښېګړه کول غواړې نو ما له اجازت راکړه چې په يو وړوکی
ښار کښې اوسېږم. صاحِبه، زما دپاره دا ضروری نۀ ده چې زۀ تا سره په شاهی ښار
کښې اوسېږم.“ (۶) نو اکيس هغۀ له د صِقلاج ښار ورکړو، نو په دې وجه د صِقلاج
ښار تر ننه پورې د يهوداه د بادشاهانو دے. (۷) داؤد په فلستی مُلک کښې شپاړس
مياشتې اوسېدو. (۸) په هغه وخت کښې داؤد او د هغۀ سړو به جسوريانو، جرزيانو،
عماليقيانو باندې حملې کولې، چې هغوئ د ډېر وخت نه په هغه علاقه کښې اوسېدل. هغۀ
به تر شور او لاندې مِصر پورې حملې کولې. (۹) ټول سړی او ښځې به يې وژلې او د
هغوئ ګډې، څاروی، خرۀ، اوښان او کپړې به يې ترې نه هم وړلې. بيا به واپس اکيس له
راتلو. (۱۰) اکيس به د هغۀ نه تپوس کولو، ”دا ځل تۀ په کوم ځائ حملې کولو له تلے
وې؟“ نو داؤد به ورته فرمائيل چې زۀ د يهوداه جنوبی حِصې يا د يرحمئيل قبيلې علاقې
ته، يا هغې علاقې ته تلے وم چرته چې قينيان اوسېدل. (۱۱) داؤد به هر څوک نر او ښځې
وژل او هيڅ څوک به جات ته نۀ شُو تلے چې هغه يې خبر کړے وے چې هغۀ او د هغۀ
سړو څۀ کړی دی. کله چې هغه په فلستی مُلک کښې اوسېدو نو داؤد به هر وخت هم
دغه شان کول. (۱۲) خو اکيس په داؤد اعتبار کولو او د خپل ځان سره يې ووئيل، ”د
هغۀ خلق بنی اِسرائيليان د هغۀ نه دومره نفرت کوی چې هغه به ټول عُمر زما خِدمت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی.“

۲۸ ۱ څۀ موده وروستو، فلستیانو خپل فوجیان راغونډ کړل چې د بنی اِسرائیلو
سره جنګ وکړی او اکیس داؤد ته ووئیل، ”تا ته دا پته ده چې تۀ او ستا سړی به زما
دپاره جنګیږئ.“ ۲ داؤد ورته وفرمائیل، ”دا رښتیا دی، زۀ ستا خِدمت کوونکے یم او
تۀ به په خپله وګورې چې زۀ څۀ کوم.“ اکیس ورته ووئیل، ”ټیک ده. زۀ به تا د ټول عُمر
دپاره خپل حِفاظت کوونکے محافظ جوړ کړم.“

## د ساؤل د جادوګرو سره مشوره کول

۳ نو سموئیل مړ شوے وو او ټولو بنی اِسرائیلو په هغۀ ژړا کړې وه او د هغۀ په خپل
ښار راما کښې یې ښخ کړے وو. او ساؤل د اِسرائیل مُلک نه کوډګر او جادوګر شړلی
وُو. ۴ فلستی فوجیان راغونډ شول او د شونیم ښار سره یې نزدې خېمې ولګولې،
ساؤل بنی اِسرائیلیان راغونډ کړل او د جِلبوعه په غرۀ یې خېمې ولګولې. ۵ چې ساؤل
د فلستیانو لښکر ولیدو، نو هغه د یرې نه ولړزېدو، ۶ نو هغۀ د مالِک خُدائ نه تپوس
وکړو چې څۀ وکړم. خو مالِک خُدائ بېخی جواب ورنۀ کړو، نۀ د خوبونو په ذریعه، نۀ
د اُوریم او تمیم استعمالولو او نۀ د پېغمبرانو په ذریعه. ۷ نو ساؤل خپلو آفسرانو له
حُکم ورکړو، ”یوه کوډګره ښځه ولټوئ چې د مړو د روحونو سره مشورې کوی او زۀ به
ورشم او مشوره به ورسره وکړم.“ هغوئ جواب ورکړو، ”په عین دور کښې یوه داسې
ښځه شته.“ ۸ نو ساؤل خپل ځان بدل کړو، هغۀ د شاهی جامو په ځائ عامې جامې
واغوستلې او د تیارې نه پس هغه د خپلو دوو سړو سره هغه ښځې له مِلاوېدو له لاړو.
هغۀ ورته ووئیل، ”زما دپاره د روحونو سره مشوره وکړه او ما ته ووایه چې څۀ کېږی. د
هغه سړی روح راوغواړه چې زۀ یې نوم اخلم.“ ۹ ښځې جواب ورکړو، ”تا ته ښۀ پته
ده چې ساؤل څۀ کړی دی هغۀ څنګه کوډګر او جادوګر د مُلک نه وشړل. نو بیا تۀ ولې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما د ګېرولو کوشش کوې او ما وژل غواړې؟“ ۱۰ بيا ساؤل قسم وخوړو او ورته يې
ووئيل، ”زۀ د ژوندى مالِک خُدائ په نوم دا لوظ کوم چې د داسې کولو په وجه به تا ته
سزا نۀ ملاويږى.“ ۱۱ ښځې ترې نه تپوس وکړو، ”زۀ ستا دپاره د چا روح راوغواړم؟“
هغۀ جواب ورکړو، ”د سموئيل.“ ۱۲ کله چې ښځې سموئيل وليدو نو هغې چغه کړه او
ساؤل ته يې ووئيل، ”تا زۀ ولې دوکه کړم؟ تۀ ساؤل بادشاه يې.“ ۱۳ بادشاه هغې ته
ووئيل، ”مۀ يرېږه، تۀ څۀ ګورې؟“ هغې ورته په جواب کښې ووئيل، ”زۀ يو روح وينم چې
د زمکې نه راوځى.“ ۱۴ هغۀ ترې نه تپوس وکړو، ”هغه د چا په شان دے؟“ هغې ورته
ووئيل، ”يو بوډا سړے راروان دے او چُوغه يې اغوستې ده.“ نو ساؤل ته پته ولګېده چې
دا سموئيل دے او هغه د عزت نه زمکې ته ټيټ شو. ۱۵ سموئيل، ساؤل ته وفرمائيل،
”تا ما له تکليف ولې راکړو؟ تا زۀ واپس ولې راوستلم؟“ ساؤل ورته ووئيل، ”زۀ په لوئ
تکليف کښې يم. فلستيان زما سره په جنګ دى او خُدائ پاک زۀ پرېښے يم. هغۀ ما له
نور جواب نۀ راکولو، نۀ د پېغمبرانو په ذريعه او نۀ د خوبونو په ذريعه. نو ما تۀ
راوغوښتلې، دا د دې دپاره چې ما ته ووائې چې زۀ څۀ وکړم.“ ۱۶ سموئيل ورته
وفرمائيل، ”چې مالِک خُدائ پرېښے يې او هغه ستا دشمن شوے دے نو زۀ دې ولې
راوغوښتلم؟ ۱۷ مالِک خُدائ تا سره هغه څۀ کړى دى چې هغۀ زما په ذريعه تا ته
فرمائيلى وُو. هغۀ ستا نه بادشاهى اخستې ده او داؤد له يې ورکړې ده. ۱۸ تا د مالِک
خُدائ د حُکم نافرمانى کړې ده ځکه چې تا عماليقيان او د هغوئ هر څۀ تباه نۀ کړل. نو
نن دا ځکه مالِک خُدائ تا سره داسې کوى. ۱۹ هغه به تا او بنى اِسرائيليان فلستيانو له
په لاس کښې ورکړى. سبا به تۀ او ستا زامن ما سره شريک شئ او مالِک خُدائ به د
بنى اِسرائيلو لښکر هم فلستيانو له په لاس کښې ورکړى.“ ۲۰ ساؤل ناڅاپه راپرېوتو او
په زمکه باندې اوږد اوږد وغزېدو، چې سموئيل څۀ فرمائيلى وُو نو د هغې په وجه
وېرېدو. هغه کمزورے وو، ځکه چې هغۀ ټوله ورځ او ټوله شپه هيڅ هم نۀ وُو خوړلى.
۲۱ هغه ښځه ساؤل له ورغله او وې ليدل چې هغه يرېدلے وو، نو هغې ورته ووئيل،
”صاحِبه، تا چې څۀ وئيلى دى د هغې په وجه ما خپل ژوند په خطره کښې واچولو. ۲۲

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو اوس ستا وار دے چې زما خبرې ته غوږ ونيسې. زۀ به ستا دپاره لږ خوراک تيار
کړم. تۀ خامخا څۀ وخوره چې د سفر کولو جوګه شې.“ ۲۳ ساؤل اِنکار وکړو او وې
وئيل چې هيڅ به هم نۀ خورم. خو د هغۀ آفسرانو هم ورته ووئيل چې څۀ وخوره. آخر
هغۀ د هغوئ خبره ومنله او د زمکې نه پاڅېدو او په کټ کښې کښېناستو. ۲۴ هغه
ښځې زر يو سخے حلال کړو کوم چې هغې ښۀ څورب کړے وو. بيا هغې لږ اوړۀ
واخستل، تيار يې کړل او پتيره روټۍ يې ترې نه پخه کړه. ۲۵ هغې خوراک د ساؤل او د
هغۀ د آفسرانو په وړاندې کېښودو او هغوئ وخوړو. او هغوئ هم په هغه شپه لاړل.

## د فلستيانو حضرت داؤد نامنظوره کول

۲۹ ۱ فلستيانو خپل ټول فوجيان افيق ته راغونډ کړل او بنی اِسرائيلو په يزرعيل
کښې د چينې سره خېمې ولګولې. ۲ پينځۀ فلستی بادشاهان د خپلو سوونو او زرګونو
سړو د ډلو سره لاړل، داؤد او د هغۀ سړی د اکيس بادشاه سره شا ته روان ؤُو. ۳
فلستی مشرانو هغوئ وليدل او تپوس يې وکړو، ”دا عبرانيان دلته څۀ کوی؟“ اکيس ورته
ووئيل چې، ”دا داؤد دے چې د بنی اِسرائيلو د بادشاه ساؤل يو آفسر دے. اوس هغه زما
سره د ډېر وخت نه دے. د کومې ورځې نه چې هغه ما له راغلے دے نو هغۀ داسې يو
کار هم نۀ دے کړے چې زۀ يې يوه غلطی راوباسم.“ ۴ خو فلستی مشران اکيس ته په
غصه ؤُو او هغۀ ته يې ووئيل، ”دا کس واپس هغه ښار ته ولېږه کوم چې تا ورکړے
دے. هغه مۀ پرېږده چې مونږ سره جنګ له لاړ شی، کېدے شی چې هغه په جنګ کښې
زمونږ خِلاف شی. په دې کښې څۀ شک نشته چې هغه به د خپل نيک خوشحالولو دپاره
زمونږ د سړو سرونه قلم کړی. ۵ آخر دا هم هغه داؤد دے، چې د هغۀ په حقله ښځې
په ګډېدو کښې سندره وئيلې چې ساؤل زرګونه وژلی دی، خو داؤد يو په لس د هغې نه
زيات وژلی دی.“ ۶ اکيس داؤد راوغوښتلو او ورته يې ووئيل، ”زۀ په ژوندی مالِک
خُدائ قسم کوم چې تۀ زما وفادار يې، او زۀ به خوشحاله وم چې تۀ ما سره تلے وې او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دې جنګ کښې دې زما ملګرتيا کړے وے. تۀ چې د کومې ورځې نه ما له راغلے يې
ما په تا کښې هيڅ غلطى نۀ ده موندلې. خو هغه نور بادشاهان تا نۀ منى. ۷ نو په خېر
سره واپس کور ته لاړ شه او داسې يو کار هم مۀ کوه چې هغوئ پرې خفه شى.“ ۸
داؤد جواب ورکړو، ”صاحِبه، ما څۀ بد کړى دى؟ کۀ داسې وى لکه چې تا ووئيل چې د
کومې ورځې نه ما ستا خِدمت شروع کړے دے او تا په ما کښې هيڅ غلطى نۀ وى
موندلې، نو ما له تا سره تلل ولې نۀ دى په کار، چې تۀ زما نېک او بادشاه يې، د دې
دپاره چې زۀ ستا د دشمنانو سره جنګ وکړم؟“ ۹ اکيس ورته ووئيل، ”زۀ دا منم، زۀ
تا د خُدائ پاک د فرښتې په شان وفادار ګڼم. خو هغه نورو بادشاهانو وئيلى دى چې تۀ
زمونږ سره جنګ له نۀ شې تلے. ۱۰ نو داؤده، تاسو ټول چا چې ساؤل پرېښے دے او
ما له راغلى يئ، سبا سحر وختى پاڅئ او چې څنګه رڼا شى نو لاړ شئ.“ ۱۱ نو داؤد او
د هغۀ سړى په ورپسې ورځ سحر وختى روان شول چې فلستى مُلک ته واپس لاړ شى او
فلستيان يزرعيل ته لاړل.

## د عماليقيانو خِلاف جنګ

۳۰ ۱ نو درېې ورځې پس داؤد او د هغۀ سړى صِقلاج ته راورسېدل او پته ورته
ولګېده چې عماليقيانو د يهوداه جنوبى علاقه نيولې ده او په صِقلاج يې حمله کړې ده.
هغوئ ښار سوزولے وو ۲ او ټولې زنانه او ټول ماشومان نيولى وُو، هغوئ څوک
وژلى نۀ وُو، خو چې کله تلل نو ټول يې د ځان سره بوتلل. ۳ کله چې داؤد او د هغۀ
سړى راورسېدل، نو هغوئ ته پته ولګېده چې ښار سوزولے شوے وو او د هغوئ ښځې،
زامن او لوڼه بوتلے شوى وُو. ۴ داؤد او د هغۀ سړو ژړا شروع کړه او تر هغې پورې
يې نۀ بس کوله چې د هغوئ د ژړا زور ختم شو. ۵ د داؤد دوه ښځې، اخينوعم او
ابىجيل هم بوتلے شوې وې. ۶ داؤد اوس په سخته خطره کښې وو، ځکه چې د هغۀ
ټول سړى د خپلو بچو په وجه سخت غصه وُو او هغوئ هغه سنګسارول غوښتل، خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ د داؤد خُدائ پاک د هغۀ ایمان مضبوط کړو. ۷ داؤد د اخیمُلک زوئ
ابیاتار اِمام ته وفرمائیل، ”پېش بند ما له راوړه.“ نو ابیاتار ورله پېش بند وروړو. ۸
داؤد د مالِک خُدائ نه تپوس وکړو، ”زۀ د هغوئ په فوجیانو پسې لاړ شم څۀ؟ زۀ به
هغوئ ته وروړسېږم؟“ نو هغۀ جواب ورکړو، ”ورپسې لاړ شه، تۀ به وروړسېږې او
قېدیان به ترې نه خلاص کړې.“ ۹ نو داؤد او د هغۀ شپږ سوه سړی روان شول او
چې هغوئ د بسور ولې ته ورسېدل، نو څۀ هلته پاتې شول. ۱۰ داؤد د څلورو سوو سړو
سره په خپله مخه روان وو، هغه نور دوه سوه سړی ډېر زیات ستړی وُو چې د ولې نه نۀ
شُو اوړېدلے نو هغوئ وروستو پاتې شول. ۱۱ د داؤد سړو په هغه مُلک کښې یو
مِصرے زلمے ولیدو او داؤد له یې راوستو. هغوئ ورله څۀ خوراک او اوبۀ ورکړې،
۱۲ څۀ اوچ اینځر او دوه موټی کشمش یې هم ورله ورکړل. کله چې هغۀ خوراک
وکړو، نو هغه بیا تکړه شو، د هغۀ سره پوره درې ورځې د خوراک څښاک هیڅ هم نۀ
وُو. ۱۳ داؤد ترې نه تپوس وکړو، ”ستا نېک څوک دے او تۀ د کوم ځائ یې؟“ هغۀ
ورته ووئیل، ”زۀ د مِصر یم او د یو عمالیقی غلام یم. زما نېک زۀ درې ورځې مخکښې د
ځان نه شاته پرېښے یم ځکه چې زۀ بیمار وم. ۱۴ مونږ د یهوداه په جنوبی حِصه کښې
د چریتیانو علاقه او د کالب د قبیلې په علاقه باندې حمله کړې وه او صِقلاج مو
سوزولے وو.“ ۱۵ داؤد ترې نه تپوس وکړو، ”تۀ به ما د هغه لښکر پورې بوځې؟“ هغۀ
ورته ووئیل، ”کۀ تۀ ما سره د خُدائ پاک په نوم وعده وکړې چې تۀ به ما نۀ وژنې او نۀ
به مې خپل نېک ته حواله کوې نو زۀ به تا بوځم.“ ۱۶ نو داؤد یې ورله بوتلو. هغه
فوجیان په هر ځائ کښې خوارۀ وارۀ وُو، خوراک څښاک یې کولو او د بېشمېره مالِ
غنیمت خوشحالی یې کوله، چې هغوئ د فلستیانو او یهوداه په مُلک کښې نیولے وو.
۱۷ په ورپسې ورځ سحر وختی داؤد په هغوئ حمله وکړه او تر ماښامه پورې یې
ورسره جنګ وکړو. د څلورو سوو زلمو نه بغیر چې هغوئ په اوښانو سوارۀ او لړې وُو،
بل یو کس هم ونۀ تښتېدو. ۱۸ داؤد سره د خپلو دوو ښځو هغه هر یو کس او هر یو
څیز بچ کړو چې عمالیقیانو وړی وُو، ۱۹ یو څیز هم ورک نۀ شو کۀ هغه وړوکے وو یا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غنیمت. داؤد ته د خپلو ټولو سړو زامن او لوڼه واپس مِلاو شول او هغه ټول مالِ غنیمت
هم، کوم چې عمالیقیانو وړے وو. ۲۰ هغهٔ ټولې ګډې او څاروی واپس واخستل، د هغهٔ
سړو ټول څاروی د هغوئ په مخکښې روان کړل او هغوئ او وئیل چې، ”دا د داؤد مالِ
غنیمت دے.“ ۲۱ نو داؤد هغه دوو سوو سړو له واپس لاړو چې هغوئ ډېر کمزوری
شوی وُو او د تلو نهٔ وُو او د بسور ولې سره وروستو پاتې وُو. هغوئ د داؤد او د هغهٔ
سړو سره مِلاوېدو دپاره وړاندې راغلل، داؤد هغوئ له ورَغلو او هغوئ ته یې تود هرکلے
ووئیلو. ۲۲ خو څهٔ خرابو او بېکاره سړو ووئیل کوم چې د داؤد سره تلی وُو، ”هغوئ
مونږ سره لا نهٔ ړل، نو مونږ به هغوئ له د مالِ غنیمت نه څهٔ نهٔ ورکوو. هغوئ دې خپلې
ښځې او بچی ځان سره کړی او په خپله مخه دې ځی.“ ۲۳ خو داؤد ورته وفرمائیل،
”زما ورونړو، مالِک خُدائ چې مونږ له څهٔ راکړی دی نو په هغې کښې شومتوب مهٔ
کوئ، هغهٔ زمونږ حِفاظت وکړو او په لښکر باندې یې فتح راکړه. ۲۴ چې تاسو څهٔ وایئ
نو هغې ته هیڅ څوک هم نهٔ راضی کیږی. هر څهٔ به داسې تقسیمیږی، هر څوک چې
وروستو د سامان سره پاتې وی نو هغهٔ ته به هم دومره حِصه ملاویږی چې څومره هغه
کسان اخلی چې جنګ له تلی وی.“ ۲۵ داؤد دا قانون جوړ کړو او دا تر نن ورځې
پورې په بنی اِسرائیلو کښې منلے شی. ۲۶ کله چې داؤد صِقلاج ته راواپس شو، نو هغهٔ
خپلو ملګرو له په مالِ غنیمت کښې د دې پیغام سره برخه ولیږله چې هغوئ د یهوداه
مشران وُو، ”دا ستاسو دپاره په هغه مالِ غنیمت کښې تُحفه ده چې مونږ د مالِک خُدائ
د دشمنانو نه اخستے دے.“ ۲۷ هغهٔ دا تُحفه د بیت‌ایل خلقو، د یهوداه په جنوبی حِصه
کښې د راما خلقو له او د یتیر په ښارونو کښې خلقو له ولیږله، ۲۸ ورسره د عروعیر،
سِفموت، استموع، ۲۹ رَکل، د یرحمئیل او د قینی ښارونو له، ۳۰ او د حُرمه، د
بورعسان، او د عتاک د ښارونو خلقو له، ۳۱ او د حبرون. هغهٔ دا هغه ټولو ځایونو ته
ولیږله چرته چې دے او د هغهٔ سړی ګرځېدلی وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ساؤل او د هغهٔ د زامنو مرګ

۳۱ ۱ فلستيانو د جِلبوعه په غرهٔ د بنی اِسرائيلو خِلاف جنګ وکړو. د بنی اِسرائيلو
فوجيان د فلستيانو نه وتښتېدل او د بنی اِسرائيلو ډېر کسان مړهٔ شول. ۲ خو فلستيان
ساؤل ته نزدې وروروسېدل او د ساؤل درې زامن يې ووژل، يونتن، ابيناداب او مُلکی‌شوَع.
۳ د ساؤل نه ګېرچاپېره جنګ ډېر سخت وو او هغه په خپله د دشمن په غشو باندې
لګېدلے وو او سخت زخمي وو. ۴ هغهٔ وسله وړُونکی زلمی ته ووئيل، ”خپله تُوره
راوباسه او ما ووژنه، چې دا ناسنته فلستيان ما په تُوره ونهٔ وهی او په عذاب مې نهٔ
کړی.“ خو هغه زلمے د داسې کولو په وجه سخت يرېدو. نو ساؤل خپله تُوره واخستله
او خپل ځان يې پرې وروغورزولو. ۵ هغه زلمی ته پته ولګېده چې ساؤل مړ شو، نو
هغهٔ خپل ځان په خپله تُوره وروغورزولو او د ساؤل په څنګ کښې مړ شو. ۶ نو
داسې ساؤل، د هغهٔ درې زامن او هغه زلمے مړ شو، په هغه ورځ باندې د ساؤل ټول
سړی مړهٔ شول. ۷ کله چې د يزرعيل او د اُردن د سيند نمرخاتهٔ بل طرف ته بنی
اِسرائيليان خبر شول چې د بنی اِسرائيلو لښکر تښتېدلے دے او ساؤل او د هغهٔ زامن
وژلے شوی دی، نو هغوئ خپل ښارونه پرېښودل او وتښتېدل. نو فلستيان راغلل او دا
ښارونه يې ونيول. ۸ په وريسې ورځ باندې فلستيان د لاشونو لوټ کولو دپاره لاړل او
هغوئ د ساؤل او د هغهٔ د دريو زامنو لاشونه وليدل چې د جِلبوعه په غرهٔ باندې پراتهٔ وُو.
۹ هغوئ د ساؤل سر پرې کړو او زغره يې ترې نه لرې کړه او ټول فلستيان ته يې
پيغام وړُونکی وليږل چې خپلو بُت‌خانو او د هغوئ خلقو ته دا زېرے ورسوی. ۱۰ بيا
هغوئ د هغهٔ وسلې د عستارات په بُت‌خانه واچولې او هغوئ د هغهٔ لاش د بيت‌شان ښار
په ديوال پورې په مېخونو ټک وهلو. ۱۱ کله چې په جِلعاد کښې د يبيس خلق خبر شول
چې فلستيانو د ساؤل سره څهٔ کړی دی، ۱۲ نو ښهٔ بهادر سړی ووتل او ټوله شپه يې
بيت‌شان ته مزل وکړو. هغوئ د ساؤل او د هغهٔ د زامنو لاشونه د ښار ديوال نه راکوز
کړل او واپس يې يبيس ته يوړل او هلته يې وسوزول. ۱۳ بيا هغوئ هډُوکی يوړل او په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار کښې يې د غز د ونې لاندې ښخ کړل او اووۀ ورځې هغوئ روژه ونيوله.


pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹

Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.